
عبید موسم



# بیوزله فلسفي

د مشهورو لیکوالانو ویناوې

بیوزله فلسفي

عبید موسم

## د غوړېدو موسم...



ژوند پېژندونکي خبره کوي چې رېښتیا هم داسې "باور " شته چې غرونه خوځوي، هغه په ځان باور دی. زما ګران ورور او نیږدې دراز او نیاز ملګری ښاغلی عبید موسم یو له هڅاندو او قوي هوډ لرونکو له ډلې دی، چې د ژوند هیلې یې لا نه دي ټوکېدلي، هغه یو داسې کتاب وژباړه چې ډېر د ستاینو وړ دی. په ډېر تاسُف سره باید ووایم چې دده په عمر ځوانان یا خو د عصري نړۍ په ښکلاګانو کې ورک وي او یا یې تر دې دمه د ښه او بد توپیر نه دی پېژندلی، ښاغلی موسم ډېر پراخ فکر لري، رېښتیا هم چې د خدای ورکړه ده، اوس تازه تازه یې د ژوند د شلم پسرلي غوټۍ ګل شوې ده، ځوان (موسم) اوس مهال د خوست احمد شاه ابدالي طبي پوهنتون کې د طب په پوهنځي کې خپل عالي تحصیلات پر مخ بیایي. دی زمونږ د ټولنې لپاره نه یوازې دا لوی کتاب وړاندې کړ، بلکې په راتلونکې کې د خپل مسلک مطابق د طب په برخه کې هم یو کتاب لیکلی، ان شاءالله له چمتو کیدو وروسته به یې د طب مینوالو ته وړاندې کړي.

زه یې راتلونکي ته لاسونه هسکوم، نوښتونه دې ستا او ته دې د ژوند شې!

امین ګودر

انس خیرندویه ټولنه - خوست

# بیوزله فلسفي

د مشهورو لیکوالانو لنډې ویناوې

د پوهې خزانه، چې په هره بیه واخلئ؛ نو ارزانه ده.

محمد حجازي

بسم الله الرحمن الرحيم

**کتاب پېژندنه**


د کتاب نوم: بېوزله فلسفي

ژباړن او راټولونکی: عبيد موسم

ډيزائن چارې: اندېش ګرافيکس

برېښناليک: obaidullah mosam2011@gmail.com

اړيکه: 0093765800006

چاپ شمير: زر ټوکه

چاپ وار: لومړی

خپرندوی: انس خپرندوی ټولنه خوست . **۰۷۷۷ ۹۳ ٦۲ ۵۲**


موندنې ځایونه:

- کابل: دانش کتاب پلورنځی، اکسوس کتاب پلورنځی او مستقبل کتاب پلورنځی.
- ننګرهار: مومند کتاب پلورنځی، ختيځ کتاب پلورنځی، ګودر کتاب پلورنځی.
- پکتيا: علمي کتاب پلورنځی.
- خوست: انس کتاب پلورنځی، شيخ زايد کتاب پلورنځی،غرغښت کتاب پلورنځی،رحيمي کتاب پلورنځی،ژوندون کتاب پلورنځی، غازي کتاب پلورنځی ، سباوون کتاب پلورنځی، غني کتاب پلورنځی او بريا کتاب پلورنځی .


**د دې کتاب د چاپي او انلاين خپرولو حقوق يوازې له ژباړن سره خوندي دي**

## مننه او کور ودانی !

له درانه استاد میروالي جان لکنوال، او هغو ملګرو څخه چې کتاب ژباړلو او راټولولو ته یې هڅولی یم!

# ډالۍ

هغو هيلو ته چې بشر يې د پوره کولو هڅه کوي،

او له تورتمه د يوې رغندې رڼا په لور سترګې پرانيزي!

**د الهام مشالونه**

کوم چا ویلي ول چې "لویان له هډېرو څخه پر موږ پاچاهي کوي" د دې خبرې مطلب دا دی چې ځینې خلک جسماً مړه شوي دي، خو افکار او نظریات یې په ټولنه کې لا هم پاتې او ژوندیو ته د الهام مشالونه دي. وجیزې او زرین اقوال د بشریت د نوابغو د ذهنونو له سمندره را پاتې مرغلرې دي. لویان او نوابغ تل نړۍ او حوادثو ته له داسې زاویې ورګوري چې د نورو خلکو ورپام نه وي. کله کله دا غیرعادي خلک د خپل ټول عمر تجربه، پوهه او له ژونده اخیستې پایله په یوه وړه جمله کې بیان کړي او په حقیقت کې موږ ته په یوه جمله کې خپل ټول ژوند یا په کوزه کې سمندر په امانت ډول راپرېږدي.

عجیبه خبره دا ده چې زیاتره هغه پوهان چې نن یې موږ صرف له خبرو او اقوالو الهام اخلو، پخپلو زمانو کې بېوسه او له ټولنې تجرید شوي خلک ول، حتی ځینې یې په د خپلو افکارو په ګناه وژل شوي هم دي. د دې مرګونو سبب دا دی چې نوابغ جسماً اوسي په یوه زمانه کې خو ذهن یې تر خپلې زمانې وړاندې وي. عادي خلک جسماً او ذهناً د خپل زمان په ظرف کې حضور لري خو لویان یوازې جسماً پخپله زمانه کې وي، ذهن و خیال یې فرامرزي وي. دا تضاد د لویانو او ټولنې ترمنځ تصادم ته لاره هواروي. څرنګه چې جسماً ټولنه زیات او نوابغ کمزوري وي، نو په فزیکي ډول لویان محوه شي خو څرنګه چې د یوه نابغه فکر او ذهن تر ټول ټولنیز شعور غښتلی وي، نو په فکري لحاظ ټولنه هېره او نوابغ ژوندي پاته شي.

تر کومه چې ژوند او ټولنه وي، د فکرونو او سلیقو تضاد به روان وي، د ځینو فکرونه به مري، د ځینو به فکرونه پاتېږي او د ځینو حماقتونه.

ستاسو په لاس کې کتاب د بشر د لویو نوابغو د تجربو او پوهې د غورچاڼ او تخلیص یوه وړه هڅه ده؛ دا کتاب ولولئ او د ژوند او حقیقت په ښه ترا پېژندلو کې ګټه ترې واخلئ.

ډاکټر احسان الله درمل

**یو کتاب یو سمندر خبرې!**

له شک پرته چې لیکنې او ویناوې د انساني فکر د ریاضت او زخمت شیره ده، دا شیره که له یوې خوا د یو فرد د فکر محصول او تولید دی نو له بلې خوا د ټولنې معنوي امانت هم دی، فلیوسفان او پوهان د وخت د حالاتو سره سم د خپل فکري عمق او ژوروالي پر بنسټ د ټولنې هر اړخیز وضعیت څیړي، د خپل فکر انځور او محصول ټولنې ته وړاندې کوي ترڅو یې پر مټ ټولنه فکري غنا پیدا او د نیکمرغۍ اساسي او بنیادي توکي او عناصر تر گوتو کړي.
کله نه کله همدا پوهان او فلیوسفان د فکري بوختیا له امله د وخت د کمښت سره لاس او گریوان شي، د خپل فکري محصول او شیرې د خوندي کولو په چاره کې بې وسه شي خو بیا همدا لویه دنده او مسوولیت په ټولنه کې شته ځینې ویښ او بیدار خلک د ځان مسوولیت او د ټولنې یو حق وبولي، خپل وخت او انرژي د همدې فکري خوارو ورو ویناوو او لیکنو راټولو ته وقف کړي، په ډیر زیار او کار یوه یوه دانه د مرغلرو په شان د انساني فکرونو له سمندر څخه را ټول کړي او د خوندیتوب تکل یې وکړي. د علماوو، پوهانو او فیلسوفانو د ویناوو او فکري محصول خوندي کول په حقیقت کې زمونږ د نوي او راتلونکي نسل د فکري بډاینې او سمې لار موندنې یو سالمه او مثبته هڅه ده، چا چې دا ډولي فکري میراثونه خوندي کړي د سترو مثبتو فکري تحولاتو او لاس ته راوړنو شاهدان دي.
تاند، هڅاند او ویښ ځوان عبید موسم همدا هڅه کړې ترڅو د علماوو، پوهانو او فیلسوفانو فکري محصول او ویناوې خوندي کړي، ډیر زیار او کار یې کړی ترڅو د خپلې ټولنې او خلکو پر وړاندې خپل انساني، ایماني او وجداني مسوولیت ادا کړي. د ښاغلي موسم دا کار نه یوازې د تقدیر او ستاینې وړ دی بلکې نورو ته پیغام ورکول دي چې د فکري محصولاتو او تولید خوندیتوب د هرې ټولنې او ملت د انساني او ملي ارزښتونو د تحقق او خوندیتوب لپاره د انسانانو شریک او گډ مسوولیت دی. ببوزله فلسفي یا همدا کتاب چې تاسو یې لولئ په زیار او زحمت راټول شوی، هیله ده چې په پوره فکري تمرکز ولوستل شي او له لیکنو او ویناوو یې د انساني ژوند د بهبود او ښیگړې لپاره کار واخیستل شي.

په ټوله علمي مینه

میرولي جان لکنوال

## ببوزله فلسفي

د لوی او مهربان خدای ج  په پاک نوم !

په سر کې د خدای ډېر شکر ادا کوم چې ماته يې د دې ګټور کتاب د برابرولو توان راکړ، پدې کتاب کې د صحابه کرامو، عالمانو ، استادانو خبرې کومې چې د (ببوزله فلسفي) په نوم دي له بېلابېلو کتابو، انګلسي ويبپاڼو او پښتو ويبپاڼو څخه راټولې کړي يا هم ژباړلي دي.
دا لنډې ويناوې چې لوستل يې کم وخت غواړي،خو فکر کول پرې ډېر دقت او وخت غواړي او عملي يې ستاسو د ژوند  تياره اړخونه در رڼا کولی شي، او ډېر دردونه مو ورسره دوا کېدلی شي
دلته زياتې خبرې نه ليکم يوازې دا ويل غواړم، کوم نوم چې ما د کتاب لپاره انتخاب کړی دی، هغه مې د کتاب له منځه راخيستی دی، ځکه  (د غوره ويناوې )، (د پوهانو ويناوې)، (زرينې کربښې) او دې ته ورته  نومونه بيخي کليشه يي دي نو ځکه مې د کتاب لپاره د (ببوزله فلسفي) نوم انتخاب کړ، ځکه چې فلسفي د ژبې او فکر په لحاظه شتمن وي خو ځينو وختو کې بيا د اقتصاد له پلوه د واکمنانو د اهميت نه ورکولو له کبله بيوزله وي؛ چې دا خبره به تاسو  قانع کړي:
يو ښار کې يو ببوزله و، د ښار خلکو ته به يې په خپلو ويناوو د ژوند لاره ښودله، اخر د ښار خلک د هغه له خبرو تنګ شول او له ښاره يې (ببوزله) وشړلو،  په لاره کې يو کس ترې وپوښتل : ولې يې له ښاره وشړلې ؟ هغه په نرمی ځواب ورکړ: زه نه بلکې هغوی مې يواځې پريښودل!
د دوی سره شتمني وه او ما سره شتمني نه وه ، د هغوی سره پوهه نه وه خو له ما سره بيا پوهه وه!
نور نو د کتاب او ستاسو ترمنځ خنډ نه جوړېږم،  دا تاسو او دا ببوزله فلسفي!!

درنښت

عبيد موسم

د احمدشاه ابدالي طبي پوهنتون

۱۳۹۶/مرغومی/٦

## د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ویناوې




- حقیقي مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان د هغه د ژبې او لاس له شر څخه په امن وي.
- څوک چې د امانت مراعات نه کوي کامل مومن نه دی. همدغه راز څوک چې په خپله وعده وفا نه کوي هم د کامل دین خاوند نه دی.
- هر څوک چې په خدای«ج» او اخرت ایمان لري نو ښایي چې خپل ګاونډي ته ضرر ونه رسوي، د خپل میلمه احترام وکړي، او کله چې خبرې کوي پرته له حق، خیر او عامو ګټو څخه بل څه نه وایي او که نه نو پټه خوله دی واوسي.
- هیڅوک به له تاسې څخه جنت ته داخل نشي، څو چې د کامل ایمان خاوندان نه شي کیدای، څو چې په خپل منځ کې مینه او ورورولي ټینګه نه کړي.
- آیا تاسو ته هغه کار دروښیم چې په کولو سره یې ستاسې په منځ کې مینه او ورورولي ټینګیږي، هغه یو بل ته د سلام ورکول دي.
- آیا تاسې له هغې ګناه څخه چې تر ټولو لویه ده خبر نه کړم!؟ هغه له پاک خدای «ج» سره شریک پیداکول، د پلار او مور ځورول، په دروغو شهادت یا دروغ ویل دي.
- پاکي د ایمان برخه ده.
- کامل مومن هغه څوک دی چې د ښه خوی خاوند وي.
- په هېڅ مومن کې دغه دوه خاصیتونه نه یو ځای کیږي، بخل او ناوړه خوی.
- صدقه د پاک خدای قهر او غضب کېنوي او سړی له بدې مړینې بچ کوي.
- کله چې انسان مړ شي عمل یې قطع شي، خو دریو شیانو تل ثواب ور رسیږي او هغه دا دي: جاري صدقه، پوهه، (علم) چې دخلکو د ګټې وړ ګرځیدلي وي او صالح اولاد چې دعا ورته کوي.
- په هر مسلمان نر او ښځه د علم زده کړه فرض ده.
- په خلکو به داسې وخت راشي چې په مال پیدا کولو پسې به هڅه کوي، او دا به نه ګوري چې حلال دی که حرام.
- وروسته له دیني فرایضو نه دمسلمان فریضه حلال کسب دی.

- کله چې یو سړې بل ته پور ورکړي نو د پوروړي سوغات دی نه قبلوي.
- هر څوک چې د خپلې روزۍ د پراخۍ او د عمر د اوږودوالی او برکت خوښوونکی وي نو خپلوانو سره دې ښیګڼه وکړي.
- په مسلمانانو کې ښه کور هغه دی چې په هغه کې یتیم وي او ښه ورسره کیږي او بد کور هغه دی چې په هغه کې یتیم سره ناوړه رویه کیږي.
- څوک چې د خپل ورور له حقوقو څخه د هغه په غیاب کې دفاع کوي، پاک خدای «ج» به یې د دوزخ له اوره وساتي.
- دوه نعمتونه دي چې ډېر خلک یې قدر نه پیژني: یو صحت، او بل فراغت.
- شتمني د مال ډیرښت نه ده ،بلکې حقیقي شتمني د زړه شتمني ده.
- په هر کار کې فکر وکړه، که دکار پای ښه درته ښکاره شو هغه پرمخ بوځه، او که نه نو ډډه ترې وکړه.
- څوک چې په یوه مجلس کې خبرې کوي او شاوخواته وګوري، نو دغه خبره امانته ده، او د مجلس خلک یې باید افشا نه کړي.
- هر ډول چې تاسې یاست، هماغه ډول په تاسې امرین مقرریږي.

## د حضرات ابوبکر صديق رض ويناوې



- انسان که دکوم دنياوي منصب او شتمنۍ له امله د لويۍ او غرور لاره غوره کړي، نو تر هغې پورې د خدای جل جلاله غضب پرې ووري ځو چې دا غرور پرېږدي.
- سړی بايد له خدايه وويرېږي او وژاړي، يوه ورځ راتلونکي ده چې وبه ژړول شي.
- پام کوه! لوی څښتن دې تل ويني اوپه هرحال دې خبر دی.
- څلور خويونه داسې دي چې که څوك يې ولري هغه د پاك خدای غوره بنده دی، او هغه دا چې: د توبه کوونکي په توبه خوښوي کوي، گناه گار ته ښښنه کوي، له ښې لارې مخ اړونکي نېکې لارې ته بولي او له نيکي کوونکي سره مرسته کوي.
- خپل ځان سم کړئ چې خلك ښه درسره وکړي.
- الله پاك ستاسو په پټو او ښکاره کارونو يو ډول علم لري.
- زياتې خبرې د هېرې سبب گرځي، داسې چې يوه د بلې د هېرېدلو سبب گرځي.
- خدايه! ژوند مې ښه تېر کړې، پر ښو عملونو مې ژوند پای ته ورسوې، د ښو کارونو توفيق را په برخه او خپله خوښې راوبښې.
- له دريو شيانو چا خير نه دی ليدلی، گناه، ژمنې ماتول او تېر ايستل ( دوکه ).
- کله چې به د چا فاتحې ته ورغی نو به يې ورته ويل: ( په صبر کې څه مصيبت نشته او له ژړا څخه څه لاس ته نه راځي، د خدای پاك د استازي صلی الله عليه وسلم وفات در په زړه کړئ، نو به مو خپل وير لږ شي او خدای جل جلاله به د خير بدله درکړي.

## حضرت عمر رضی الله عنه ویناوې




- حضرت یحیی بن ابی راشد نصری رحمه الله وایي چې کله د حضرت عمر رضی الله عنه د وفات وخت نژدې شو نو خپل زوی ته یې وویل:
زویه!
- کله چې ماته مرګ راشي نو زما دبدن ښۍ خوته کښینه او ما تکیه کړه، ښی لاس دې زما په تندي او چپ لاس په زنې راکېږده .
- څه وخت مې چې ساه خیږي نو زما سترګې راپټې کړه.
- ماته درمیانه کفن راواغونده ، ځکه چې که  الله تعالی وبښلم نو بیا به تردې ښه کفن راکړي اوکه یې ونه بښلم نو به داکفن به هم رانه واخلي.
- زما قبر درمیانه جوړ کړه، ځکه چې که الله تعالی ببښنه راته  وکړي نو قبر به راته دسترګو د لید تر کچې ارت کړي او که معامله د دې پرخلاف وي نو بیا به قبر دومره راته تنګ کړی شي چې پښتۍ به مې یوبل کې ننوځي.
- زما جنازه دې مېرمنې نه بدرګه کوي .
- کومې ښېګړې چې په ما کې نشته هغه مه بیانوئ، ځکه چې الله تعالی جل جلا مې له تاسو نه ښه پیژني.
- کله چې زما جنازه واخلئ نو تېز تېز ځئ، ځکه که ماته الله تعالی ببښنه کړي وي نو تاسو ما د خیر طرف ته په بېړه بیایئ اوکه معامله  خدای مه کړه بل څېر وه نو تاسو یو شر په اوږو اخیستی دی ، دا له خپل څټ نه زر کوز کړئ .

## دحضرت عثمان رضی الله عنه ويناوې




- الله پاك تاسو ته دنيا يوائځې د دې له پاره درکړېده چې آخرت پرې وغواړئ.
- زه خو د ځان له پاره دا ډېره بده او سپکه ګڼم چې ورځ دې راباندې تېره شي او د قرآن کريم تلاوت پکې ونه کړم.
- ټيټه وينا، ښکته کتل او منځنۍ راشه درشه د ايمان نښې دي.
- خپل پيټی پر بل مه اچوئ، که لږ وي يا ډېر.
- توره بدن ټپي کوي او بده وينا روح .
- له الله جل جلاله نه پرته له هيچا طمعه او وېره مه کوئ. يوائځې له خپلو ګناوو وډار شئ .
- که چېرې مو ګناه ته زړه وي نوداسې ځای ولټوئ چې الله پاك هلته نه وي.
- بده وينا دريو تنو ته زيان رسوي، ويناکوونکي ته، دچا بد چې وايې او څوك چې ورته غوږ نيسي.
- دقهر اوغ ضب په وخت کې ښه دوا چوپ پاتې کېدل دي.
- څوك چې دانسان حق نه پېژني هغه ګويا د الله پاك حق هم نه دی پېژندلی.
- دژوند له پاره يوه موخه ( هدف ) وټاکئ او بيايې په ټول توان سره د لاسته  کولو هڅې پيل کړئ، ښائي د برياليتوب پړاو ته به ورسېږئ.
- که مو سترګې بنا او غړېدلي وي نو هره ورځ د محشر ورځ ده.
- دهغه چا په حال ډېر افسوس دی چې دنيا فاني ګڼي او بيا هم مينه ورسره کوي. دوزخ حق ګڼي خو په ګناه اخته وي. مرګ رښتيا بولي او بيا هم خاندي، په تقدير باور لري خو بيا هم د تلونکو څېزونو اندېښنه کوي.
- ټولې نيکۍ له حيا او ټولې بدۍ له بې حيايۍ سره تړلي دي.
- ځينې وخت جرم ښنل مجرم ته نور هم زړورتيا  ورکوي.
- دهغه چا په وړاندې په لوړه لهجه غږېدا مه شرمېږئ چې د سترګو په اشاره نه پوهېږي.
- د ژبې ښوئېدل د قدم تر ښوئېدلو ډېر زيانمن تمامېدلای شي.
- ګناه زړه نارامه کوي او داړ له منځه وړي.

- پوهه انسان هغه دی چې په ډېر پام او احتیاط سره گامونه اخلي.
- الله پاك انسانان د ځان له پاره پیداکړي دي، ځکه نو نه ښایي چې هغوی دبل چا شي.
- زه په تیاره کورکې دغسل ( ځان پریمینځلو ) له الله پاك نه د شرم اوحیا له وېرې اریان دریان پاتې کېږم.
- په تنگسه کې دزغم له برکته الله پاك پر انسان اسانتیا راولي.
- سخاوت دمال، عمل د علم او د الله پاك رضا د اخلاص مېوه ده.
- دقبر خوښي د هغو خلکو په برخه ده چې دنیا ورته زندان ښکاري.
- ځناور هم خپل څښتن پېژني خو انسان خپل خاوند نه پېژني.
- دمسلمانانو ذلت د مال له نشتوالي له امله نه بلکې د دیني ښوونو څخه له سرغړونې پیدا کېږي.
- حیرانتیا د هغه چا په حال ده چې مرگ ویني او خاندي، دوزخ حق گڼي اوگناه کوي، شیطان دښمن گڼي او بیا یې هم خبره مني.
- هغه علم بې گټې دی چې عمل پرې ونه شي اوهغه مال بې ارزښته دی چې پر ښو چارو ونه لگول شي.
- مسلمانان شپږ ډوله وېره لري: د الله پاك وېره چې دایمان دولت ترې وانه خلي، د مرگ دملائکو وېره چې روح یې قبض نه کړي، د دنیا وېره چې له آخرت یې غافل نه کړي، د مېرمنې اوکوچنیانو وېره چې الله پاك ترې هېر نه کړي، دملائکو ډار چې گناوې یې ونه لیکي، دشیطان وېره چې په دام کې یې ایسار نه شي.
- هرکار چې کوئ، له بندگانو هېڅ ډار مه احساسوئ .
- په کومه خبره چې نه پوهېږئ مه یې کوئ اوپه کومه چې پوهېږئ د داسې سړي په مخ کې یې له ویلو دریغ مه کوئ. چې په ارزښت یې پوهیږي.

## د حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه ویناوې

- د هر ښه کار په پېل کې ناشوني وي.
- دانسان ستر دښمن د هغه گناه ده.
- دچا علم چې له ما څخه کم وي زړه مې پرې درد کوي او چې د ډېر علم خاوند وي کینه مې ورته په زړه کې نه راځي.

## امام باقر ویناوې

- له منافق سره په خوله دوستي کوه او مؤمن ته دې زړګنی مینه ورځانګړې کړه او که کوم یهود درسره کېناست؛ نو ښه چلن ورسره وکړه.
- د زغم او پوهې تر ګډولې ښکلې ګډوله نشته.
- د انسان ټول کمال د دیني پوهې په زده کړې، په پېښنو کې زغم او په اندازه لګښت کې دی.
- پر خدای قسم، کبرجن د خدای د کبریایي جامو پر سر ورسره په جګړه کې دی.
- یوه ورځ امام خپل همناستي وپوښتل :مړانه څه ده؟ هر یوه، یوه خبره وکړه، امام وویل :مړانه داده چې تمه ونه کړي، چې خوار شي، سوال ونه کړي، چې تشلاسی شي، کنجوسي ونه کړي، چې وکنځل شي، بې عقلي ونه کړي چې) خلک یې (دښمنان شي . ورته وویل شول : دا به د چا له وسې پوره وي؟ ویې ویل :هغه چې په سترګو کې ګاټی، په عطرونو کې مشک او د زمانې مو عزتمن خلیفه وي.
- د خدای ښه نه ایسي، چې خلک یو له بله په غوښتنه کې ټینګار وکړي؛ خو پخپله یې ښه ایسي، چې په ټینګار څه ترې وغواړې.
- په چا کې چې خدای دننی واعظ ایښی نه وي؛ نو د خلکو نصیحتونه ګټور ورته نه دي.
- د چا چې ښکاره یې تر دننه یې ښه وي؛ نو د کړنو تله یې سپکېږي.
- ډېر خلک شته، چې یو له بل سره د لیده کاتو پر وخت وایي :خدای دې دښمن وځپه؛ خو دا به بې له ))الله ((دښمن نلري.

- درې تنه دي چې پر نورو سلام نه اچوي : هغه چې د جمعې ورځې نمانځه ته ځي، هغه چې په جنازې پسې روان وي او هغه چې په حمام کې دی.
- هغه عالم، چې له پوهې يې ګټه اخېستل کېږي، تر اويا زرو عابدانو غوره دی.
- هغه عالم ګڼلای شو، چې له ځان پورته سره کينه کښ وي؛ خو تر لاس لاندې سپک ونه بولي.
- څوک چې له خدايه سرغړونه وکړي، خدای ناپېژاندی دی دا دوه بيتونه يې وويل : د خدای سرغړونه کوې او د مينې دعوی ورسره لرې، پر ځان دې قسم، چې دا (تناقص اوټکر) دې يو هېښنده چار دی . که رښتونې مينه دې ورسره درلودای؛ نو اطاعت به دې يې کاوه، چې دوست د خپل محبوب پر وړاندې مطيع او غاړه ايښوونکی دی.
- نوی موړ شوي ته اړتيا، کله د مار په خوله کې پرتې سکې ته اړتيا ده، چې له يوې خوا اړمن يې او بلخوا له (ماره) په خطر کې يې.
- درې خويونه دي، چې خاوند يې عذاب ليدلی نه وي، نه مري : ظلم، د خپلوۍ د اړيکو پرې کول او د دروغو قسم، چې له خدای سره مبارزه ده.
- له خپلوانو سره د اړيکو ثواب تر هر عبادت او طاعت چټک رسي،کله ځينې خلک ګناهکاران وي؛ خو خپلوي پالي، چې له امله يې شته ډېرېږي، د دروغو سوګند او له خپلوانو سره بد چلن کورونه له هستوګنو تشوي.
- هره کرنه يوازې په ښاندې منل کېږي او ښانده په کرنه تر لاسه کېږي او څوک چې پوه شو؛ نو پوهه يې کړنو ته ورسيخوي او څوک چې پوهه او ښانده نلري، کړه هم نلري.
- سکه، خدای يو ډله بندګان ، احسان او نېکچارۍ ته غوره کړي، په زړونو کې يې د نېکچارۍ مينه وراچولې، د خير غوښتونکي يې پر لور ورمات کړي ، د ښو چارو کول يې ور اسان کړي دي؛ لکه چې باران يې وچو دښتو ته چمتو کړي، چې ځمکه او ځمکوال يې را ژوندي کړي.
- او هم خدای نېکيو ته دښمنان ګرځولي، چې نېکي او نېکچاري يې ښه نه ايسي، د خير غوښتونکي يې د دوی له وره شړلي او د ښو چارو کول يې پرې منع کړي؛ لکه چې باران يې له وچې ځمکې دريغ کړي، چې ځمکه او ځمکوال يې هلاک کړي) ؛خو (سره له دې د خدای ورکړه ډېره ده.
- د خپل ورور په زړه کې دې خپله مينه، په خپل زړه کې د هغه په مينه و ازمايه.
- ايمان، د خدای په لار کې دوستي او دښمنی ده.

- خلكو ! په دې نړۍ کې د مرگ غشي درباندې راتاو دي، هره نوې ورځ چې درځي؛ نو د عمر يوه ورځ مو تېره کړه؛ نو په دې نړۍ کې کومه مړۍ ده، چې په ستوني کې ونښلي؟ يا کوم گړوپ دی، چې ستونی بند نه کړي؟ کومې نړۍ ته چې ورځئ، په هغه نړۍ يې اباده کړئ، چې ترې ځئ ، نن غنيمت دی او سبا څه پوهېږې، چې د چا ده. نړيوال داسې مسافرين دي، چې پېتې په بله نړۍ کې پرانزي، موږ د منځه تللو جرړو څانگې يو؛ نو د جرړو څانگې به څومره وپايېږي؟ اوږد عمر او اوږدې هيلې چېرې ولاړل؟
- بنيادمه! هغه درغلی، چې ستنېدونکی نه دی (مرگ) او هغه له لاسه وتلی، چې راستنېدونکی نه دی (عمر)؛ نو ژر تېرېدونکي ژوند ته ژوند مه وايه، يوازې هغه خوښي به در پر برخه شي، چې خپل مرگ ته به دې ورتېل وهي او اجل به در نژدې کړي؛ نو نژدې ده، چې له لاسه وتلی دوست او بې ((ساه)) تنه به شې؛ نو د ځان په فکر کې شه او هر څه پرېږده او له خدايه مرسته وغواړه، چې مرستندو دې شي.
- هغوی زموږ لارويان دي، چې له خدايه وډار شي او اطاعت يې وکړي او په دې نښو پېژندل کېږي : تواضع، خشوع، امانت، د خدای ډېر يادول، روژه، لمونځ، له مور و پلار سره نېکي، د تشلاسو گاونډيانو، بېوزليو، پوروړيو او پلار مړيو چارو ته پاملرنه او ورسره لاسنيوي، رښتينتوب، د قرآن لوست، خلکو ته د ښو خبرو کول او د خپل ټبر امينان دي.
- څلور څيزونه د جنت زېرمې دي :د اړتيا نه ويل، پټ خيرات ورکول، د درد پټول او د مصيبت نه رابرسېرول.
- څوک چې رښتيا وايي، کړه وړه يې پاکېږي، د چا چې نيت ښه وي، رزق يې زياتېږي، څوک چې له خپلې کورنۍ سره ښه چلېږي، عمر يې اوږدېږي.
- له لتۍ او تروړۍ ډډه وکړۍ، چې د هر شر او بدۍ کونجيانې دي، لټ هېڅ حق پوره کولای نشي او کم حوصله پر هېڅ حق ثابت نه پاتېږي.
- هغه چې د خدای لپاره او پر خدای د ايمان له مخې څوک دوست کړي او د خدای د رضا لپاره دوستي ورسره) ټينکه او (پايښته کړي؛ نو يوه الهي وړانگه يې ترلاسه کړې او له عذابه يې امان پر برخه شوی او د قيامت ژغورنده دليل په لاس ورغلی، د تلپاتې عزت خاوند او لوړنامی شوی ؛ ځکه مؤمن نه په خدای پورې ورنښتی او نه ترې جلا دی . وويل شول : يعنې څه؟ ويې ويل :ورپورې نښتی نه دی؛ يعنې خدای نه دی او جلا ترې ندی؛ يعنې بې له خدايه ندی ) او له بل سره نښتی نه دی.(

- انسان ته په ځان غولونه کې همدا بس دی چې :د نورو خوګانې ويني او د ځان نه، يا کوم کار چې پرېښوولی نشي، پر نورو ټکې کوي يا خپل ملګری په بې ګټو خبرو ځوروي.
- تواضع او عاجزي داده، چې انسان په غونډه کې تر خپله مقامه په کوز کېناستو خوښ شي، پر هر چا سلام اچوي او شخړه نه کوي که څه پر حق وي.
- مؤمن د مؤمن ورور دی ، نه يې کنځي، نه څه ترې سپموي او نه پرې بدګومانېږي.
- خپل يو زوی ته يې وويل :ځان حق ته زغمناک کړه ؛ ځکه څوک چې د حق په ورکړه کې يو څه بې ځايه کړي؛ نو په باطلو کې به دوه ګرايه له لاسه ورکړي.
- چا ته يې چې بدخويي ورکړه، ايمان يې ترې پټ کړ.
- په رښتيا د خدای بې حيا کنځل مار بد ايسي.
- غيبت دادی، چې د خپل ورور خدای پټ کړی عيب او نيمګړتيا دې رابرسېره کړې؛ خو ظاهري ځانګړنې؛ لکه تريختوب او تروري يې توپير نلري او تهمت ( تور) دادی، چې په دروغو يو څه ورپورې وتړې.
- په رښتيا په قيامت کې د هغه بنده حسرت او افسوس زيات دی، چې نورو ته د رښتيا او عدالت لار ورښيي؛ خو پخپله پر بله ځي.
- درباندې لازمه ده، چې پرهېزګار، زيارکښ او رښتين وسئ، امانت يې خپل خاوند ته وروسپارئ، که نېکچاری وي که بد چاری ؛که د علي بن ابيطالب وژونکی امانت راوسپاري، بېشکه بېرته به يې ورکړم.
- خپلوي پالل کړنې پاکوي، شتمني زياتوي ،کړاوونه شړي، [ د قيامت ورځې] حساب اسانوي او عمر اوږدوي.
- څوک چې د ورسره شوې نېکې هومره نېکي وکړي ؛ نو يوازې جبران يې کړی، که چا زياته وکړه؛ نو منه يې کړې ده او هغه چې منه کړې، کرم يې کړی او هغه چې پوه شي، څه چې کوي، ځان ته يې کوي او د خلکو منې ته سترګې پر لار نه وي او نه له خلکو تمه لري، چې احسان ورسره وکړي، نورو ته سترګې مه نيسه، چې له ځان سره دې د کړي احسان په مقابل کې او داچې خپل پت دې ساتلی، و دې ستايي او پوه شه، چې اړمن درته د خپلې اړتيا په ويلو، خپله پت ساتلی نه دی؛ خو تا يې د اړتيا په ورپوره کولو خپله بزرګواري اوسترتوب ساتلی دی.

- په رښتیا خدای خپل مؤمن بنده په بلا او سختیو پالي؛ لکه چې مسافر خپله کورنۍ په ډالۍ پالي او له دنیا یې پرهېزوي؛ لکه چې طبیب ناروغ پرهېزوي.
- خدای ((دنیا)) دوست او دښمن دواړو ته ورکوي؛ خو ((دین)) یوازې دوست ته ورکوي.
- هغوی د علي لارویان دي، چې زموږ د ولایت په لار کې یو له بل سره سرښندنه وکړي او له خپلو ورونو سره زموږ په مینه دوستي وکړي او زموږ د چار د ژوندي کولو لپاره د یو بل لیده کاتو ته ورځي، چې غوسه شي، تېری نه کوي او چې خوشحال شي، له پولي نه اوړي ، ګاونډیانو ته برکت وي او له معاشرانو سره په سوله او صفا کې وسي.
- لتې دین او دنیا ته زیانمنه ده.
- که ګدا پوهېده، چې په ګداتوب کې څه [ذلت]نغښتی دی ؛نو بیخي یې ګدایي نه کوله او هغه چې څه ورنه غوښتل شوي، پوهېدای چې په نه ورکړه کې څومره [بدي] نغښتې ده؛ نوڅه به یې ترې نه دریغول.
- په واقع کې خدای داسې بندګان لري، چې پانګوال او نېکمرغه دي او خلک یې په سیوري کې [په نېکۍ] ژوندکوي او په بندګانو کې د باران په څېر دي او خدای لعنتي، سختګیر او بې خیره بندګان هم لري، نه خپله سوکالي لري او نه یې نور په سیوري کې ارام دی، دوی د خدای په بندګانو کې د ملخانو په څېر دي، چې پر هر ځای کېني، پوپنا کوي یې.
- له خلکو سره غوره خبرې وکړئ ،چې ښه مو ایسي دوی یې درسره وکړي؛ ځکه د خدای لعنتګر، کنځل مار، پېغور ورکوونکی ، بدژبی، بد ویناوی او بې حیا ګداګر ښه نه ایسي او زغمناک، پاکلمنی او پرهېزګار بنده یې ښه ایسي.
- یو چا یې پر وړاندې دعا وکړه :خدایه ! ما دې له ټولو مخلوقاتو مړه خوا کړې . امام وویل :داسې مه وایه، وواست :خدایه !د خپلو مخلوقاتو له شره مې وساتې؛ ځکه مؤمن له خپل وروره مړه خوا کېږي نه.
- حق ) او رښتیا (ته پاڅه، څه چې ګټور درته نه وي، ځان ترې وساته، له غلیم دې ډډه کوه او له هر ډول دوست دې ځان بچوه؛ خو هغه چې له الله ډارېږي، له ګناهکار او فاجر سره مه کېنه او له خپل رازه یې مه خبروه او په چارو کې له خدایه ډارېدونکیو سره سلا مشوره کوه.
- شل کلن ملګرتوب ) یو ډول (خپلوي ده.
- که وکړای شې؛ نو داسې وسه، چې په احسان او مینه کې د معاشرانو مخکښ وسې.

- درې کړنې د دنیا او آخرت له خویونو څنې دي :چا چې تېرى درباندې کړى وي او ویې بښې، چا چې درسره شلولې وي، اړیکه ورسره ونیسې او پر هغه زغم، چې بې عقلي یې درسره کړې ده.
- ظلم درې ډوله دی : یو هغه چې د بښلو نه دی، بل هغه چې د بښلو دی او درېیم هغه چې خدای ترې تېرېږي نه .ړومبی له خدای سره شرک دی، دوم پر ځان ظلم دی؛یعنې هغه گناه، چې ستا او خدای ترمنځ ده، درېیم د خلکو حق.
- هر بنده، چې د خپل مسلمان ورور د اړتیا په پوره کولو - که اړتیا پوره شي که نه - کې له مرستې ډډه وکړي؛ نو د یوې داسې اړتیا د لرې کولو په هڅه کې به راگېر شي، چې گناه لري او نه څه ثواب او هر بنده، چې په هغه ځای کې د مال پر لگولو کنجوسي کوي، چې خدای پرې راضي کېږي؛ نو په هغه ځای کې به یې ځو گرایه ولگوي، چې خدای پرې ناراض وي.
- مؤمن ته هره الهي قضا خیر دی.
- سکه، خدای په زړونو او بدنونو کې سزاگانې ایښي؛لکه په ژوند کې تنگلاسي، په عبادت کې لټي او چا ته یې دسخت زړی په څېر سزاورکړې نه ده.
- د قیامت پر ورځ غږ کېږي : صابران چېرې دي ؟یوه ډله راپاځي . بیاغږکېږي ( هغوی چې د صبر رنځ او تراخه پر ځان تپلي دي) چېرې دی؟ بیا یو شمېر راپاځي. ورته وویل شو: در ځار، صابران او متصبران څوک دي؟ ویې ویل: صابران هغوی دي، چې د فرایضو د کولو رنځ یې وگاله او متصبران هغوی دي، چې د حرامو د پرېښولو رنځ یې وگاله.
- خدای وایي: بنیادمه! څه مې چې درته حرام کړي، ډډه ترې وکړه ، چې خورا پرهېزگار وسې.
- غوره عبادت؛ د گېډې او عورت ساتل دي.
- ښېرازه څېره او ورین تندی، مینه راوړي او خدای ته د ورنژدېدو لامل دی، تریو تندي ( د خلکو) دښمني راولاړي او له خدایه د لرېوالي لاملېږي.
- تردې د مینې راجلبولو او د دوستۍ د غځولو لپاره غوره لاسوند نه پېژنم چې : کوم نعمت مې چې چا ته ورکړی په بل نعمت پورې یې ونښلوم، چې ړومبی ښه وساتي او و یې پالي ؛ځکه د وروستیو ډالیو دریغول، د لومړیو شکرونو خوله تېوي ( او هغه چې له لومړنیو ورکړیو مننددوی و، په وروستي بې برخېتوب نامننددوییږي) او ( په عین حال کې) طبع مې هم د ړومبي اړتیا د ردولو اجازه نه راکوي[].
- حیا او ایمان په یوه پړي تړل شوی، هر یو چې ولاړ شي، بل هم ورپسې ځي.

- دا دنیا نېکانو او بدانو ته ورکوي؛ خو خدای ((دین)) یوازې د خپل درشل ځانگړیو بندگانو ته ورکوي.
- ایمان منښته او کړنه ده او اسلام یوازې منښته ده.
- ایمان هغه دی، چې په زړه کې وي او اسلام هغه دی، چې (په خوله یې ووایي او ) له مخې یې د اسلام ظاهري احکام؛ لکه واده، میراث، او د ځان ساتل عملي کېږي، ایمان له اسلام سره شریک دی؛ خو اسلام له ایمان سره شریک نه دی.
- ځوک چې خلکو ته د هدایت او ښیون کوم ور پرانزي ( او ښه دود کېدي)؛ نو د ټولو عمل کوونکیو هومره اجر ورې، بې له دې چې د دوی له ثوابونو څه کم شي او څوک چې خلکو ته د بې لارېتوب کوم ور پرانزي ( او ناوړه دود کېدي) د ټولو عمل کوونکیو هومره سزا وړي، بې له دې چې د دوی له سزا څه کمه شي.
- د مؤمن په اخلاقو کې غوړه مالي او کینه نشته؛ خو د پوهې تر لاسه کولو لپاره ( چې شونې ده استاد ته غوړه مالي وکړي یا له ملگري سره کینه ولري)
- عالم ته روا ده، چې وپوښتل شي او ونه پوهېږي، ووایي: خدای ښه پوهېږي او ددې خبرې ویل غیر عالم ته روا نه ده او په بل روایت کې راغلي، چې غیر عالم باید ( په ډاگه) ووایي: نه پوهېږم،چې پوښتونکی شکمن نه کړي.
- ړومبی تن، چې په عربي ژبه یې خوله پرانسته، اسماعیل د ابراهیم علیه السلام زوی و، چې تردې وړاندې یې د خپل پلار او ورور په ژبه گړېده او په دیارلس کلنۍ کې یې عربي ژبه رادبره کړه او لومړی تن دی، چې په عربي یې خبرې وکړې او (( ذبیح[])) هم دی ( نه یې ورور اسحاق).
- ایا له هغه څه مو خبر کړم، چې که عمل پرې وکړئ، د سلطان او شیطان له شره به لرې شئ؟! ابوحمزه وویل : هو! وواست چې عملي یې کړو. ویې ویل: گهیځ له وخته صدقه او خیرات ورکړئ، چې دا چار ابلیس تورمخوي او پردې ورځ د ظالم واکمن غوسه دربانډې بې اغېزوي . د خدای په لار کې دوستي او په ښو کړنو کې همکاري له لاسه مه ورکوئ، چې د سلطان او شیطان جرړې راباسي او ډېره ښنه وغواړئ؛ځکه دا کار گناهونه له منځه وړي.
- ژبه د هر خیر او شر کونجي ده؛ نو مؤمن ته ښایي خپله ژبه د خپلو سرو سپینو د کڅوړې په څېر تړلې وساتي.

- پېغمبر اکرم (ص) ویلي: (( خدای دې پر هغه مؤمن ولوربېري، چې ژبه له هرې بدۍ وساتي، دا یو خیرات دی، چې ځان ته یې ورکوي.))
- بیا امام ورزیاته کړه: د ژبې په ساتلو له گناه بچېدای شئ.

## د امام حسین ویناوې

- په رښتیا دنیا اوړېدلې او نا اشنا شوې، نېکیو یې شا کړې او ناځیزه یې د دیگ بیخ دی او د څرځای په څېر پرېوتی ژوند ترې پاتې دی، چې یوازې رنځ راولاړوونکي او بېکاره بوټي ترې راټوکېږي .
- ایا نه ینئ،چې پر حق عمل نه کېږي او له باطلو لاس نه اخلي؟!
- داسې چې مؤمن حق لري، مرگ او د خدای لیدو ته ورلېوال وي . په رښتیا دغسې مرگ یوازې نېکمرغي بولم او د ظالمانو تر څنگ ژوند یوازې هلاکت گنم! په واقع کې خلک دنیا پالي دي او دین یې د خولې لاړې دي او تر هغه چې ژوند یې سم سمکی وي؛ نو په خوله کې یې اړوی را اړوي او چې د ازمېښت وخت راورسي؛ نو دینوال ډېر لږ وي.
- یو چا یې پر وړاندې غیبت کاوه، ورته یې وویل: پلانیه! له غیبته لاس واخله، چې غیبت د جهنم د سپیو خوراکه ده.
- یو چا یې پر وړاندې وویل: له نا اهله سره مینه او احسان کول تویې ځي . امام ورته وویل : داسې نه ده، نېکي د باران په څېرده ، چې پر نېکانو او بدانو ورېږي .
- خدای چې له چا ځواک او وس واخلي؛ نو طاعت ترې نه غواړي اوچې له چا ځواک واخلي؛ نو مکلفیت ورباندې نړدي.
- په رښتیا یوه ډله خدای د تمې لپاره نمانځي،چې دا د سوداگرو نمانځنه ده او یوه ډله یې له ډاره نمانځي ، چې دا د مریانو نمانځنه ده او یوه ډ له یې د نعمتونو په منندوینه کې نمانځي، چې دا د ازاد شویو نمانځنه او غوره نمانځنه ده.
- یو چا ( له امام سره د لیدو پر وخت) بې سریزې وویل: څنگه یې؟ خدای دې روغ جوړ لره، ورته یې وویل: لومړی سلام ورپسې کلام، خدای دې روغ جوړ لره، بیا یې وویل : څوک چې سلام وانه چوي؛ نو د ننووتو اجازه مه ورکوئ.

- بنده ته د خدای پټ دام دا دی، چې له پرېمانه نعمتونو یې برخمنوي؛ خو د شکر او مننداوېنې توفیق ترې واخلي ، ( چې پر نعمتونو بوخت او ولي نعمت ترې هېر شي، چې په دې توګه فرصت یې له لاسه ووځي.)
- کله چې عبدالله بن زبیر (رض)، عبدالله بن عباس (رض) یمن ته وشړه؛ نو امام ابن عباس ته وکښل؛ اما بعد؛ خبر شوم چې ابن زبیر طایف ته شړلی یې. خدای دې په همدې پار مشهور کړه او د ګناهونو د تویېدو لامل دې شي، دا نېکان دي،چې ازمېښتېږي او که الهي بدله یوازې د زړه غوښت چارو ته وای؛ نو اجر دې لږېده [ ؛ځکه په دنیا کې ډېرې چارې د انسان په خوښه نه دي]، خدای دې ما او تا ته په مصیبت کې صبر او په نعممت کې شکر راپر برخه کړي او کینه کښ غلیم دې راباندې ښادنه کړي. والسلام.
- یو سوالګر مالي مرسته ترې وغوښته، امام ورته وویل: سوال روا نه دی؛ خو په دروند پور ، یا ذلیلې نېستۍ یا په (دیه او) دروند غرامت او جریمه کې، سوالګر وویل: په دې درېیو اړتیاوو کې یوې ته یې راغلی یم، امر یې وکړ چې سل دیناره ورکړئ.
- امام حسین خپل زوی سجاد ته وویل: زویکه! هسې نه پر داسې چا تېری وکړې،چې بې له خدایه ملاتړ نه لري.
- یو انصاري امام حسین (رض) ته ورغی او څه یې ترې غوښتل ، امام وویل: خپل پت دې مه تویوه، غوښتنه دې ولیکه، انشاالله یو کار به وکړم،چې خوشحال شې. سوالګر وکښل: ابا عبدالله[]! د پلانې پینځه سوه دیناره پوروړی یم او په ټینګه یې غواړي، ورنه وغواړئ د پور د چمتو کولو تر وخته مهلت راکړي. امام پاڼه ولوسته، کور ته ورننووت او د زرو دینارو یوه کڅوړه یې راوړه ویې ویل: پینځه سوه یې په خپل پور کې ورکړه او نور یې د خپل ژوند لګښت کړه او خپله اړتیا دې یوازې ربیو تنو ته ووایه : دینوال،ځوانمرد، او د حسب خاوند ته. دینوال دې خپل دین ساتنې ته اړتیا درپوره کوي، ځوانمر له خپلې مردانګۍ شرمېږي،چې نهیلی دې نه کړي او د حسب خاوند پوهېږي،چې اړتیا د پت وړاندې کولو ته اړ کړی اوستا پت ساتنې ته دې تش لاس نه ستنوي.
- ورونه څلور ډوله دي :
- ستا او دځان پر ګټه .
- ستا پر ګټه .

- ستا پر زیان .
- نه ستا او نه د ځان پر ګټه .
- له امامه يې په دې اړه څرګندونه وغوښته : ويې ويل: ړومبی هغه وروري ده، چې پاينښت يې غواړي، نه يې مړينه او له منځه وړل ( د دوستۍ له غځوني سره مينوال دی) دا د دواړو پر ګټه ده؛ځکه که وروري وغځېږي ، د دواړو ژوند خوږېږي او که پای ته ورسي؛ نو دواړه زيانمنېږي .
- دويم هغه ورور دی،چې تمه نلري او يوازې مينه درسره لري او دنيوي موخه نلري، دې ورور خپل ټول تن در سپارلی او پر ګټه دې دی .
- دریيم هغه ورور دی،چې يوازې زيان يې در رسي او سترګې پر لار دی،چې کله به په سختۍ کې راګېرېږې . رازونه دې رابرسېروي، په انډيوالانو کې دروغ درتړي او په کينه درته ويني، پردې ملګري دې د ايکي يو خدای لعنت وي!
- څلورم هغه ورور دی، چې خدای يو مخې احمق کړی او (له خپل رحمته يې) لرې کړی، ځان دربان‌دې ړومبی ګڼي او په کنجوسۍ يې ستا شتمنۍ ته سترګې نيولې دي .
- له عقلمنو سره ملګرتوب د ټولمنلتوب او نېکمنومۍ نښه ده، له ناپوهانو سره شخړه کول د ناپوهۍ نښه ده او د خپلې خبرې کره کول او ( د علمي مسايلو او) د رای او فنونو د ډولونو پر حقايقوځان پوهول د پوهې نښه ده.
- په رښتيا مؤمن ،الله خپل پاسوال ګڼلی او د هغه وينا يې ځان ته هنداره کړې ده، کله د مؤمنانو ځانګړنې په پام کې نيسي او کله د کبرجنو او په دې توګه په زړه پورې ټکي ترې اخلي، په ځانښانده کې بريالی او په ځيرکۍ د ډاډ مقام ته وررسېدلی او د پاکۍ په سيوري کې يې د ځواک احساس [ او پر ځان ډاډ] موندلی دی.
- له هغه کاره ډډه وکړه،چې په کولو يې بايد بښنه وغواړې ؛ځکه مؤمن نه بد کوي او نه بښنه غواړي او منافق هره ورځ بدي کوي او بښنه غواړي .
- سلام اويا ثوابونه لري، چې نهه شپېته يې سلام اچوونکي او يو يې ځوابوونکي ته دي .
- کنجوس هغه دی، چې سلام نه اچوي.
- څوک چې غواړي په ګناه ځان موخې ته ورسوي ؛ نوپه څند ور رسي او ډېر ژر په خطر کې لوېږي .

## د ابن سينا ويناوې



- آزادي په دنيا کی يو غوره نعمت دی
- بهترين کار عبادت او بهترين قول ذکر دی
- بې گټې وخت عمر کموي
- پور د ذلت او پښمانۍ نوم دی
- په ژوند کی دری شيان ډېر سخت دی ۱ – د مرگ ويره ۲ – د مرگ سختوالی ۳ – د پور ذلت
- حلم او بردباري يو بهترين او غوره خوی دی
- خپل درد د هغه چاپه وړاندې مه بيانوی چی دوا يی ورسره نه وي
- خوږه ژبه او غوره وينا بهترين نعمت دی
- د الله ج له ارادې څخه ماسوا هيڅ هم نه شی کيدای
- د انسا ن لپاره غوره خوی علم دی
- د انسان د ذهن قوت په کار کولو لوړيږی نه په ارام کولو سره
- د چا په هکله غلط فکر مه کوی ځکه دا يو حقيقت دی چی ستا دی خيال اوفکر انځور د هغه د زړه په هنداره کی ښکاريږي
- د حقيقی او ربښتينی ښايست مرکز زړه دی که هغه خراب شی د نور بدن ښايست او ښکلا هيڅ ارزښت نه لري
- د روغتيا له قانون څخه سرغړونه بدني گناه ده
- په ناروغيو کی دزړه ناورغی بده ده او دزړه په ناروغيو کی د زړه ازار ناوړه ناروغی ده
- دمحبت په لحاظ هر پلار يعقوب ع اودښايست په لحاظ هر زوی يوسف ع دی
- دومره مطالعه کوه چی جذب يی کړې او دومره مه خوره چی هضم يی نه کړې
- ديوه سړی ناپوهي د هغه له ډيرو خبرو څخه معلوميږي
- ډيرې ارزوگاني او هيلې نفس په قفس کی اچوي

- ډيري خبرې د عقل اوپوهې د لږوالی علامه ده
- روښنایي په حقیقت کی د زړه ده کله چی زړه تور شی روښانه او بینا سترګې بیا هیڅ هم نه شی لیدلای
- سړیتوب په نیکو اخلاقو کی دی نه په ظاهری ښایست کې
- ښایست او ښکلا هغه پادشاهی ده چی لښکر ته هېڅکله اړتیا نه لری
- طبیعی شهوت د انسان او حیوان برابر دی لیکن دستاینې وړ شهوت انسان ته له ناوړه مجلس او کردار څخه پیدا کیږی
- غوره قول ذکر دی او غوره خصلت علم
- کوم رښتیا چی د دروغو په څېر وی له هغه څخه هم ځان وساتی
- کومه خبره چی له ښګینې څخه خالی وی هغه بې ګټې او بې ځایه بلل کیږی.
- که له ژوندون سره مینه او محبت لری نو وخت مه ضایع کوی.
- له مصیبتونو سره سره بیا هم رښتیا ویل د رښتینی بزرګی نښه ده
- وخت د دنیا روح دی.

## د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله ويناوې



- ستاسو لوی دښمن ستاسو بد ملګری دی.
- ښېګڼه هغه ده چې له خلکو نه يې دستاينې هيله ونه شي.
- دنيك كار پيل ستاسوكار دی اوپای يې الله پاك ته پرېږدئ.
- كه دخدای پاك نژدې والی مو خوښ وي نوپرمخلوق يې لورينه وكړئ.
- د نفس په ناروا غوښتنو سر مه ګروئ كه نه له تباهۍ اوهلاكت سره به مخ شئ.
- له ويجاړو قبرونو نه عبرت واخلئ، ځكه چې ډېرو ځوانانو هډوكي پكې خاورې شوي دي.
- دمرګ يادول دنفس دټولو رنځونو ښه درملنه ده.
- ښه عمل نورو ته وركړه ده ، نه ، له نورو نه غوښتنه .
- مؤمن خپل كورنۍ الله پاك ته سپاري او منافق يې جائيداد اوشتمنۍ ته.
- ستاسوغيبت كونكي په حقيقت كې تاسوته ګټه رسونكي دي، ځكه خپلې ښېګڼې ستاسو دعمل پر پاڼه ليكي.
- دررزق هغه پراخوالی چې شكر پرې ونه اېستل شي اودژوند هغه تنګسيا چې صبر پرې ونه شي دفتنې اوفساد سبب ګرځي.
- دنفس دغوښتنو په نيلي مه سپرېږئ ځكه چې دابه مو دهلاكت كندې ته وغورځوي.
- نيكي داسې ډيوه ده چې د دوست او دښمن دواړو وداني يوډول رڼا كولای شي.
- كينه د ايمان جرړې باسي اوانسان دالله پاك له رحمت نه بې برخې كوي.
- هوښيار لومړی زړه پوښتي اوبياپه ژبه خبرې كوي.
- كله چې يوځوك تاسې ته دچا خبره راورسوي نو ويې رټئ او ورته ووایاست چې ته خو ترهغه ډېر بد يې ، ځكه هغه خو خبره په غياب كې كړې وه اوتا نيغ په نيغه مونږ ته راورسوله.
- د الله پاك عبادت وكړئ اودهغه له ذات نه وويرېږئ ، له بل چا مه وېرېږئ .

- خپلې ټولې هيلې او اړتياوې د الله پاك په وړاندې كېږدئ او هرڅه له هغه نه وغواړئ، له هغه پرته پر بل هيڅاباور اوتكيه مه كوئ.

## د مولانا وحيدالدين خان ويناوې



- اكثره خلكد ژوند كتاب لوستل پيلوي خو پرته له دې چې دوې د ژوند ژبه زده كړې وي
- د هغه كس سره چې كتاب وي يواځې نه دی
- ژوند لكه د كتاب يوه اوږده افسانه ده دا هغه كس د كاميابۍ ترڅنگ لولي د چا چې پام هميشه د افسانې راتلوونكي متن ته وي
- هر چا چې خپله په خپل ځان بريا ترلاسه كړد هغه لپاره پر نورو بريا ترلاسه كول، څه ستونزمن كار نه دی
- انسان د ځواک يوه پټه خزانه ده د ستونزو له منځه وړل دغه خزانه د انسان له دننه وجود څخه بهر را باسي
- د خپل حق څخه ډېر غوښتل تا خپله د خپل رښتني حق څخه هم محروموي
- د بد سلوک ښه ځواب ښه سلوک دی
- د ناپوهې ښه حل د ناپوه ناپوهې له منځه وړل دي
- د هر څه له لاسه وركولو وروسته كه په تا كې زغم لا هم پاتې وي نو پوه شه چې اوس تا هېڅ څه د لاسه نه دی ور كړی
- د هر ماښام څخه وروسته نوی سهار راځي خو هغه كس د سهار پالوونكی وي چې د سهار راتگه پورې انتظار كوي
- يو كس وويل چې ماښام شو بل كس وويل داسې ووايه چې سهار كېدونكی دی
- د لوی زړه لرونكی سړی هميشه بريالی وي او د وړوكي زړه لرونكی هميشه ناكام
- هر چا خپل د تېر شوي پرون بيه پرې كړې كامياب هغه دی چې خپل نن د لاسه ور نه كړي
- كله چې د يو كس تېر او حال لوټ شوې وي، نو اوس مهال هم ددې راتلوونكې خوندی دی

- پدې نړۍ کې هېڅ لمر ولویدنه وروستۍ نه ده د هر لمر ښکته کېدنې لپاره، یو نوی لمر خاته شته پدې شرط چې انسان خپل ماښام بېرته په سهار بدلولو کې حوصله وساتي
- د بریالیتوب فرصت یواځې یو ځل د یو چا دروازه ټکوي
- د خپلې ماتې منل، د دې هوډ څرګندونه کوي چې ته یو ځل بیا زحمت باسې تر څو خپل بایلل شوې لوبه بیرته وګټې
- ما وخت برباد کړی وو اوس وخت خپله ما بربادوي
- که تاسو خپل د پیل پالنه وکړه نو تاسې پخپل پای لوبه کې هم بریالي یاستې ځکه چې د یو ښه پیل بل نوم یو ښه پای دی
- فرصتونه به له یوه وخت څخه بل وخت ته نقلېږي خو پام مو وي فرصتونه ختمېږي نه
- ستونزې د راتلوونکي به خونه کې اچول او فرصتونو څخه ګټه اخیستل پدې نړۍ کې د کامیابۍ اصلي راز دی
- ماته څنډیدنې ته به وایي خو ناکامې ته نه وایي
- ناپوه وويل:ما خپل ماضي او حال برباد کړ، پوه وويل: راتلوونکې خو برباد شوې نه دی
- بیړه مه کوه ځکه ته چې څومره بیړه کوی همدومره ډېر ځنډنۍ کېږي
- یو پوه او هوښیار له کولو نه مخکې فکر کوي او نادان له کولو نه وروسته
- هوښیار هغه دی چې د نورو سهوې هېرې کړي او خپلې سهوې همیشه په یاد وساتي
- که چیرې ته تمځای ته څنډ رسیدلی اوسې، نو ته له ډریور څخه سر نشې ټکولای چې ولې یې ستا له اجازې پرته حرکت کړې
- په وړوکي کوزه کې ډېرې اوبه نه راځي، همدا ډول په وړوکي زړه سره ستره کامیابي لاسته نه راځي
- دیوال په یوې ډیکې غورځولې نشي، ددې هڅې مطلب یواځې دا دی: دیوال نه غورځي، خو ته خپل ځان به ژوبل کړې
- د کافي تیاری نشتون یو تر لاس لاندې نیول شوی اقدام له اوله څخه، ډېر سختوي
- تجربه هغه ده چې له نورو څخه یې زده کړې ځکه چې خپله تجربه همیشه د زیان په قیمت تر لاسه کېږي
- هر ستر کار یواځې هغه کس کولای شي، چې د خپلې وړوکي کار په کولو خوښ وي

- د نن ښکته شوي لمر څخه وروسته د راتلوونکي ورځې لمر ختل حتمي دی خو اکثره خلک د راتلوونکي ورځې پورې د لمر ختلو انتظار نه کوي
- تر ټولو کامیابه جګړه هغه وي چې دښمن په داسې ډول بې وسلې کړای شي چې د هغې سره د جګړې لپاره هېڅ ځواک پاتې نشي
- لاره یواځې د هغه کس لپاره بند وي د چا چې په لاره تلل نه زده، نرمه هوا هره ورځ همدا پیغام ور کوي
- هغه کسان چې په وړو ځیزونو کې مشغولیږي دا یواځې ددې خبرې ثبوت دی چې دوې په خپل ژوند کې غټ کار کول نه غواړي
- الوتکه په هوایي ډګر کې ډېر خوندي وي خو الوتکه د هوایي ډګر لپاره جوړ شوې نه ده
- که ته خپل راز د خپل دښمن څخه پټول غواړې نو دا راز خپل دوست ته هېڅکله ونه وایې
- د ژوند راز دا دی چې  یو کس دا حقیقت ومني چې د هر ګل سره یو اغزی شته او د هر اغزي سره یو ګل
- که یو کس د نورو له سهوو څخه زده کړه وکړي نو هیڅکله به هغه په خپلو معلوماتو کې غلط ونه خیژي
- کامیابي د هر هغه کس د صلاحیت نوم دی چې غیر موافق حالات په موافق حالاتو بدل کړي
- که ته د ګل تر لاسه کول غواړې، نو ته د اغزو څخه د خپلې لمنې د ساتنې هنر زده کړه
- که کوم ښکاري د کوم ځناور سیوري، ځناور وګنې او پرې وسله وچلوي، نو د کار په پای کې ددې په برخه د خالي کارتوس څخه پرته نور څه نه وي
- د محرومیت په اکثرو حالاتو کې پایله داسې وي چې یو کس د هغه څه تر لاسه کولو لپاره هڅې کوي چې دې ته نه ور رسیږي
- د خپلې بربادۍ سبب نور خلک ګڼل یواځې ددې خبرې ثبوت دی چې دا کس د خپل امکاناتو څخه بې خبره دی
- هوښیار کس هغه وخت خبرې کوي کله چې نور ویناوال  غلي شوې وي
- د یو ځواکمن دښمن څخه د انصاف غوښتنه داسې ده لکه ډېرې ته ووایې چې د اوبو هغه چینه جاري کړه
- هوښیار هغه دی چې ډېر غواړي خو کله چې خبره د اخیستو وي د کمو په اخیستلو راضي شي

- که یو اورګاډی خراب شي، نو سړی به د سفر کولو لپاره یو بل اورګاډی ونیسي، خو اکثره خلک دا حقیقت  هغه وخت هیروي، کله چې د ژوند په دوران کې یو فرصت د هغه د لاس څخه وتلې وي
- خلک چې څه وایي هغه نه کوي ځکه هغوی نه غواړي چې ددې قیمت پرې کړي
- هېڅوک د بل چا سره جګړه نه کوي هر یو کس د خپل ژوند سره په جګړه کې اخته دی
- هوښیار هغه دی چې د خپل حق څخه د کمو په اخیستو راضي واوسي او د نورو د حق څخه ډېرو ورکولو ته چمتو وي
- خپل منزل ته رسیدل، یواځې د هغه شخص په تقدیر کې وي چې په لاره د اغزو څخه ځان بچ کوي او د مخکې تګ ګامونه اخلي
- که چیری ته سمه لاره غوره نه کړې نو ته چې د کوم شي پالنه کوې په هغه کې به ناکامیږې
- د ناپوهې له کوم ګام پورته کولو څخه تر ټولو غوره دا ده چې  هېڅ کوم یو ګام پورته نه کړې
- که دوه کسه په خپلو کې جګړه کوي نو دواړه په غلطه دي که یو له دوې څخه په سمه وای نو هغه د جګړې له ځایه پاڅېده نو بیا جګړه پخپله ختمېده
- کله کله پوهیدنه ددې نوم وي چې انسان ووایې: زه هېڅ نه پوهېږم
- انسان به د خپلې سهوې قیمت په خپله پرې کوي خو انسان د سهوې له کولو وروسته پدې هڅه کې وي چې کوم بل کس ددې له لورې د سهوې قیمت پرې کړي
- کوم څه چې دې د لاسه ور کړی، هېر یې کړه ترڅو کوم څه چې پاتې دي، هغه تر لاسه کړې
- د بزدلی ښودلو څخه وروسته غلی کېدلو نه بهتره دا ده چې سړی بزدلي ښکاره کړي، پرته له دې چې غلې شي
- ته په یوه شیبه کې د ځان لپاره یو خیالي محل جوړولې شې خو په حقیقي راتلوونکي کې یو محل له اوږدو هڅو نه پرته په دې نړۍ کې امکان نه لري
- د ژوند ستونزې د حکیمانه او ښو تدبیرونو له لارې حلېږي نه د نیوکو، چغو او کوکارو له لارې
- خلک یواځې په دې پوهېږي چې سترګې څه وایي خو هوښیار سړی هغه دی چې پدې هم پوه شي چې سترګې څه ویل نه غواړي
- پطرول او اوبه  دواړه په ظاهره یو ډول دي خو پطرول د اور لمبو ته پراختیا ور کوي او اوبه د اور لمبې له منځه وړي

- هوښيار کس د هر شي اميد د خپل ځان څخه کوي او ناپوه کسد هر شي اميد له نورو
- په هغه ستونزه کې چې ته خپله غلطي ومنې، له منځه تلې شي ددې لپاره چې پر نورو د غلطې منلو هڅه وکړې د وخت داسې ضايع کول دي، چې په دې مرتکب کېدل کوم نادان کولای شي
- په ځينو حالاتو کې داسې يو عمل کول په کار وي چې يو کس هېڅ عمل ونه کړي
- کوم کس چې يو شی په خواريو تر لاسه کړې وي ته هغه د هيله کولو پواسطه لاسته راوړلې نشې
- که ته څه ويل نه غواړې نو خاموشه اوسه ځکه چې غلی پاتې کېدل همدومره غټ کار دی څومره چې ويل ستر کار دی
- محروميت ستا لپاره  د پرمختگ يو پوړ دی خو که دا ستا په وجود کې پټ شوي قوتونه را ښکاره او ثابت کړي
- د کولو والا هميشه خپل کار نن ورځ کوي او د نه کولو والا هميشه خپل کار سبا ورځ ته پرېږدي
- خوشبويي دې ته اړتيا نه لري چې هغه دې خپل موجوديت په اعلان کولو سره ثابت کړي
- د فرصتونو د استعمالولو نوم قيادت دياو د فرصتونو د بربادولو نوم حماقت
- دا نړۍ د سيالې نړی ده که ته له نورو څخه مخکښ لاړ نشوې نو نور له تا څخه مخکې ځي
- فساد يواځې په ښو تدبيرونو له منځه وړل کېږي نه د فساد ختمولو په غوښتنو باندې
- د غچ اخيستلو څخه مخکې فکر وکړه د غچ څخه هم غچ اخيستل کېږي
- چيرته په لاره چې بريک لگول کېږي، هلته موټر چټک کول خپل منزل لورې ته د رسولو پر ځای د هديرې په لورې د گاډي تاوول دي
- هوښيار کس هغه دی چې هغه څيزونو سره په امن او پرده کې وي، کوم چې دې کس هغه بدل نه کړې شو
- د تېرو ويشتوونکو سره جگړه مه کوه بلکې خپل ځان دومره اوچت کړه  چې د تېرې ويشتوونکې تېره هغه ځايه پورې ونه رسيږي
- که ته دنيا کېبريالی کېدل غواړې نو لمړی د ناکامې د لمانځلو حوصله پيدا کړه
- د الله تعالی په دنيا کې هېڅ څه ناممکن نه دي، يواځې دا ناممکن دی چې ممکن شيان د ناممکن طريقو پواسطه د حاصل کولو هڅې وشي

- که لرگی مات شي نو دوه ټوټې کېږي خو د ژوندي شیانو لپاره د ماتې سوال نه پیدا کېږي یو ژوندی امیب چې کله هم دوه ټوټې شوې نو د هغه څخه دوه ژوندي امیبونو جوړ شوي\
- د یو کس یا ډلې د کامیابۍ راز یواځې په دې کې دی چې ډېر جذباتي فرصتونو پروخت غوره عقلي پرېکړه وکړې شي
- سوال:غټ کبان تر کومه پورې واړه کبان خوري
- ځواب: ترڅو پورې واړه کبان پخپله خپل ځانونه دومره غټ نه کړي چې هغه د غټو کبانو په نس کې ځای نشي
- ستونزه یو داسې عذر دی کوم چې تاریخ هغه هیڅکله نه قبلوي
- ته خپل د سهوې قیمت له نورو څخه وصول کولای نشې او په ژوند کې ترټولو ډېر تریخ حقیقت همدا دی
- له ستونزو مه ویرېږه ځکه چې همدا ستونزې دي چې په اصل کې له انسانه انسان جوړوي
- د یو کس د پرمختګ پوړې د هغه زحمت دی خو ډېرې خلک د نورو بربادي د خپل پرمختګ تر ټولو نژدې پوړې په ډول پیژني
- د خبرو د هیرولو عادت خپل کړئ د هرې خبرې یاد ساتل د خپل ذهن څخه د کباړ خانې جوړول دي
- د پورته تګ لپاره همیشه لویدل په کار دي خلک د ولویدلو لپاره تیار نه دي د همدې لپاره اکثره خلک پاللونکي نه جوړیږي
- د خپل مصیبت پړه په نورو اچولو څخه د کرکې او مایوسې ذهنیتونه رامنځته کېږي او خپله د مصیبت پړه په خپل ځان اخیستلو څخه د عمل کول او مخکې تلل
- زغمل بزدلي نه دیزغمل د ژوند یو اصل دی
- اکثره خلک پخپله خپل ځان سل په سلو کې نه استعمالوي همدا وجه ده چې اکثره خلک خپل موخې کې سل په سلو کې بریالي نه وي
- حقوق یواځې د فرض په ادا کولو سره تر لاسه کېږي نه چې د حقوق په نوم لفظي چڼو پورته کولو څخه
- د بریالیتوب راز دا دی چېیو کس خپل د ناکامې راز وپیژني
- ژوند د ازموینې لړۍ ده دلته له لس ځلو کولو نه وروسته یوولسم ځل ماتیدنې نوم بریالیتوب دی

- د ناکامۍ اسباب همیشه د سړي په خپل دننه وجود کې وي خو اکثره د دوې د نورو په وجود کې د هڅو په لټه کې وي
- ته پخپله خپل ځان بدل کړه ستا قسمت خپله پخپله بدلیږي
- د نورو له شره ته خپل ځان خوندي ساتی خو تر ټولو غوره دا ده چې یو کس د خپل شر څخه نور خلک خوندي وساتي
- له نورو څخه شکایات کول په اکثرو حالتو کې یوازې د خپل نااهلي اعتراف کول دي
- کله کله د ظلم ماتولو لپاره، ماتول د ظلم ماتول نه وي بلکه یو بل ظلم د دوو ظلمونو کولو په معنا وي
- عام خلک د خپل ځان په غټولو ژوند کوي مومن هغه دی چې د خداې تعالې په ستروالي کې ژوند غوره کړي
- د ټولو کامیابېو تر ټولو غټ راز صبر دی او د ټولو ناکامیو تر ټولو غټ راز بې صبري د
- په ټولنیز ژوند کې تر ټولو کم ارزښته کلیمه ''زه '' ده او تر ټولو ارزښتمنه کلیمه ''تا یا تاسې''
- په جذباتو کې مغلوبول د عمل کولو پایله، همیشه ناکامي وی او د جذباتو په قابو کولو سره عمل کولو پایله، همیشه کامیابي
- تر ټولو غلط پالوونکی کس هغه دی چې د هغه سره د ویلو لپاره دا نه وي چې ما غلطې کړې
- د دښمن ښښل د غچ اخیستلو تر ټولو بریالې طریقه ده که څه هم ډېر کم خلک دي چې د بریا دا راز پیژني
- هغه کسان چې ماته ومني، هغوې ګټلې ده کوم خلک چې په شا تګ باندې راضي وي هغوې بیاځل مخکې صف کې ځای نیسي
- له نورو شکایت کول یوازې ددې خبرې اعلان دی چې دا کس د ژوند په دوران کې د نورو څخه وروسته پاتی دی
- په معاملو کې مشوره وکړئ مشوره کول تاسو له ستر زیان څخه خوندي ساتي
- ژوندي خلک خپل سهوې پیژني او مړه خلک یوازې د نورو سهوې پیژني
- جګړه نه کول تر ټولو بریالې جګړه ده خو ډېر کم خلک دي چې د جګړې دا ډول پیژنې
- د یو مخالف انسان په دننه کې همیشه یو بریالی انسان پټ وي د دې پټ شوي انسان په پالنه کې کوشش وکړه نو بیا به ستا له کوم کس څخه شکایت نه کېږي

- لوړ مقام  همیشه د خپل ځان لوړولو سره لاسته راځي نه د چغو او جنډو په پورته کولو سره
- ښه قسمت د هر کس دروازه ټکوي او پوښتنه کوي ایا پوهه او عقل ستا د کور دننه وجود لري؟
- ګل په خپل خاموشه ژبه دا اعلان کوي چې د انسانانو ترمنځ ګل شه او اوسیږه
- کینه او حسد نیکي داسې له منځه وړي لکه څنګه چې اور لرګی
- رښتینولي د انسان په ژوند کې د اصولو تابع دی او دروغ د انسان ژوند کې د ګټو تابع
- له مرګه وروسته په جنت کې اوسیدلو لپاره له مرګه مخکې جنت کې اوسیدل په کار دي
- د ستر کار قیمت دا دی چې پخپله ځان وړوکی کړې، اکثره خلک د خپل ځان په وړوکی کولو نه راضي کېږي، د همدې لپاره اکثره خلک کوم غټ کار هم نشي تر سره کولای
- له کومې غلطۍ وروسته سرکشي مه کوئ، ځکه چې الله په دربار کې غلطۍ د ښښنې وړ دی خو سرکشي د ښښنې وړ ندی
- کینه او حسد چې کله د انسان په وجود کې دننه شي نو له انسانه عقل بهر کوي
- مذهب دا دی چې لمړې له الله څخه ووېرېږئ او د نورو لپاره هغه څه خوښ کړې چې د ځان لپاره یې خوښوئ
- د نورو سره د جګړې نه کولو لپاره د خپل ځان سره جګړه کول پکار ده
- ووالی څه دی د اختلافاتو باوجود په یووالي کې پاتې کېدل
- د نورو لپاره د بدو غوښتنه یو داسې زهر دی، د کوم چې نیمایي برخه یو کس خپله خوړلو ته مجبورېږي
- د نورو بي عزته ګڼل همیشه په یو داسې قیمت وي چې سړی خپله خپل ځان د الله تعالی په نظر کې بي عزته کړي
- خلک د ژوند په فکرونو کې ژوند کوي، پداسې حال کې چې دوې  د مرګ په فکرونو کې ژوند کول غواړي
- د یو کس د بې عیبې تر ټولو غټه پیژندنه دا ده چې هغه په نورو کې د عیبو د پیدا کولو هڅه نه کوي
- د یو کس ستاینه کول غټ جرم دی او ددې څخه هم غټ جرم دا دی چې د کوم کس په ناحقه ستاینه وکړې
- اکثره خلک په جهنمي سکروټو کې غورځېدلي وي او داسې فکر کوي چې هغه د بې ضرره ګلانو سره لوبې کوي

- بد کول بد دي خو د بد کوونکي ځخه کرکه کول ددې ځخه هم ډېر بد دي
- هغه کس چې سبا ورځ هم د خداې نیونې ځخه ونه ډار شي، ته نن هم د هغه له شر ځخه خوندي نه يې
- رېښتني پيل هميشه په رېښتنې پای ختمېږي او دروغجن پيل هميشه په دروغو پای ته رسېږي
- عذر د هر چا مخې ته راځي خو ژوندی انسان هغه دی چې عذر استعمال نه کړي
- جګړه نه کول کمزوري نه ده، جګړه نه کول د ژوند له ښه اصولو ځخه دی
- پدې دنيا کې سکون يواځې هغه کس لپاره دی چې د بې سکونې حالت باندې خپل ځان راضي کړي
- په ځواکمنې باندې پر دښمن فتح کول، نيمه بريا ده او په محبت سره دښمن باندې فتح تر لاسه کول بشپړه بريا ده
- تر ټولو ډېر ويوونکی هغه کس پيژني چې تر ټولو ډېر غلې پاتې کېدل غواړي
- هر انسان خپله ونه غواړې چې بيل بيل نيال کړي، همدا وجه ده چې د انسانيت باغ نه چمتو کېږي
- ورځ په هر حال په دوولسو ساعتونو کې پای ته رسېږي، خوښه ستا ده چې ته ورځخه ګټه اخلې او که بربادوې
- که يو کس د سبا ورځې اميدواروونکي حالات وپيژني، نو دا کس به هيڅکله هم د نن ورځې مايوسوونکو حالاتو باندې زړه ماتی نشي
- تر ټولو نادان هغه دی چې کوم وړوکي شي لپاره لوی شی د لاسه ور کوي
- ته له ګل ځخه، هېڅکله هم اغزی بيلولې نشې که ته ددې خلاف ځومره ډېر نيوکې وکړې
- کوم شی چې په ذاتي خواريو سره لاسته راځيهغه ته هېڅکله د نورو ځخه په غوښتلو تر لاسه کولای نشې.

## حسن البنّاء ويناوې



- هر مهال د قران سره اوسئ، ځکه د قران هر ځل لوستل تاسې ته نوې ډالۍ لري يانې مالومات مو ورسره زياتيږي.
- تل دا دوه اصله په پام کې ونيسئ :کيفيت ته پاملرنه او لومړيتوب ورکول، نه، کميت ته ـــ ډول ته پاملرنه او لومړيتوب ورکول، نه ، مقدار يا ګومره والي ته
- د لمانځه په اړه فکر د يو کامل امت د منځ ته راتګ لامل کيږي، ځکه لمونځ له هر چا څخه يو بشپړ انسان جوړوي.
- که و يې ويل چې اسلام د جنګ او جګړې دين دی، ورته ووايه اسلام د سولې او دوستۍ او دفاع دين دی.
- که و يې ويل چې اسلام د تعصب دين دی، ورته ووايه اسلام د عزت او کرامت دين دی.
- موږ ستاسې د پوهې د زياتولو لپاره يا د حقايقو د ثابتولو لپاره نه يو راغلي، موږ راغلي يو چې جسمونه او روحونه سره وتړو او ورورولي او مينه خپره کړو.
- ستونزه زموږ په روحونو او جسمونو کې ده، په درهم او دينارو کې ستونزه نشته.
- د وينې او با شعوره زړه ګلور نښې دي چې نور زړونه ورسره روښانه کيږي :دقيق احساس شعور او د مسؤليت احساس له الله جل جلاله څخه ويره د شر له لاملونو څخه ځان ازادول.
- د الله جل جلاله لپاره مينې او کرکې ته ايمان ويل کيږي.
- خپل ټول وخت د ګلورو کارونو لپاره وقف کړئ :د دين سلامتيا حلال کسب نورو ته خير او ګټه رسول هغه څه چې تاسې ته ارامښت دربښي.
- زمان، مکان، شکلونه او ظاهري رنګونه د اعتبار وړ ندي، بلکه زړه ، نيت او وجدان د باور وړ دي.
- که يو ملت دا اراده وکړي چې ژوندی پاتې شي نو ناشوني ده چې هيڅکله دې مړ شي.
- ملت هيڅکله پر دولت باندې د څارنې څخه نه معاف کيږي.
- د دين ريښې د انسان په فطرت کې دي، او تفکر او عبادت له فطرت سره د دين په پوهيدلو کې مرسته کوي.

- د يوې کورنۍ ژوند هغه مهال له خوښيو او نيکمرغيو ډکيږي چې له هغو شيانو ډډه وکړي چې د الله د قهر سبب کيږي.
- خپل شخصيت په ښه ډول سره وروزئ او تقويت يې کړئ او په ښه ډول سره يې ازمايښت کړئ او د عمل په واسطه يې و ازموييئ.
- ډيرى خلک شته چې هم خبرې کولاى شي او هم خپل نظر وړاندې کولاى شي خو هغه خلک د نش په برابر دي چې د فتعمل په ډګر کې پر ثابتو قدمونو سره په خپلو خبرو ولاړ پاتې شي.
- قسم په خداى چې خلک به تر هغې د نيکمرغۍ او خوښۍ مخ و نه ګوري، تر څو خپله خبره او موخه سره يوه نه کړي او ددې موخې د لاس ته راوړلو په لار کې ځان هير نه کړي او يوازې د هغې موخې په اړه فکر ونکړي.
- خلک داسې انسانانو ته اړتيا لري چې معنيوياتو ته ارزښت ورکوي چې د هغه د زړه څخه د شاوخوا خلکو زړونه روښانه کيږي.
- د پيغمبر ص له خبرو پرته نور د هر چا د خبرو په ردولو او منلو کې اختيار لرئ.


## د حضرت حسن بصري (رح) ويناوې



- غوره نېکي د خپلو ملګرو د عزت ساتنه ده .
- دنياوي عذاب دادی ، چې په ژوندون د انسان زړه او ضمير دواړه مړه شي .
- قناعت سړی بې پروا کوي .
- درواغجن تر ټولو لومړی ځان رسوا کوي .
- درواغجن له ټولو څخه لومړی ځان ته زيان رسوي
- تر څو چې د خپلو دوستانو درناوی کوئ ، دوستي به مو تل پاتې وي .
- څوک چې د زړه له کومې الله (ج) ته رجوع وکړي ، نو خدای (ج) به يې مرسته وکړي .
- د دنيا مينه د ټولو ګناهونو سر دی .
- د جنت په بدل کې ستر انعام هم هېڅ نه دی او د دوزخ په مقابل کې ډېر ستر کړاو آسان او د زغملو وړ دی .
- څوک چې له مال او دولت سره مينه کوي ، نو الله (ج) به يې رسوا کړي .
- هغه څوک ناپوه دی ، چې کله قوم ورپسې روان شي کبر او لويي پيدا کوي .
- فکر يوه داسې هېنداره ده ، چې په هغې کې نېک او بد دواړه ليدل کېږي .
- چا چې له کينې او حسد نه ډډه وکړه هغه مينه تر لاسه کړه .
- چا چې په صبر او سکون سره ژوند تېر کړ ، هغه سر لوړی شو .
- لږه تقوا هم د زرو کلونو د روژو او لمونځونو نه غوره ده ، ځکه چې په عملونو کې تر ټولو غوره عمل فکر او تقوا ده .
- د مؤمن تعريف دا دی ، چې حليم وي او په يوازيتوب کې عبادت کوي .
- خدای پېژندونکي خلک د نيا خپل دښمن ګڼي .
- د اسلام سپېڅلی دين د ټولو ښېګڼو او ښکلاوو ټولګه ده
- کوم سړی چې تاسو ته د نورو عيبونه بيانوي ، هغه به خامخا نورو ته ستاسو عيبونه هم بيان کړي .

- پوهان له وينا وړاندې فکر کوي او نا پوهان وروسته .
- عالم هغه دی ، چې علم يې له عمل سره برابر وي .
- که چېرې تاسې د جهنم په اور باندې خوښ ياستئ ، نو بيا گناهونه کوئ او که نه نو بيا له گناهونو نه ځان ساتئ .
- هغه خبره چې مصلحت پکې نه وي ، شر پکې خوندي وي او هغه خاموشي چې د الله (ج) په قدرتونو کې د فکر کولو نه تشه وي ، تعبير يې په لهو او لعب سره کېږي .
- ما داسې څوک نه دی ليدلی ، چې دنيا يې غوښتې وي او آخرت هم ورته رسېدلی ، مگر هغه څوک چې آخرت وغواړي ، نو الله (ج) به د دنيا نعمتونه هم ورکړي .
- په آخره زمانه کې به داسې خلک وي چې علم به د دنيا له پاره زده کوي په دې کې د الله (ج) حکمت دا وي ، چې علم به ورکېدلو نه ساتي
- دينې ورونه موږ ته د اهل و عيال نه هم ډېر زيات گران دي ، ځکه چې هغوی په ديني معاملو کې زموږ همکاران دي .
- ستاسو تر نفس زيات هېڅ داسې ناړامه ځناور نه شته ، چې د سختو تړلو وړ وي .
- دنيا خپله سپرلۍ وگڼۍ که پرې سپاره شوئ نو منزل ته به مو ورسوي او که مو په ځان سپره کړه ، نو د خوارۍ او بربادۍ اسباب به درته برابر کړي .
- هره وينا ، چې له حکمت څخه خالي په خپله آفت دی .
- هغه چوپتيا چې د يوه کار د تدبير له پاره نه وي بې پروايي او تنبلي ده .
- زما په وړاندې ځيرک او هوښيار ځيرک او هوښيار هغه څوک دی ، چې آخرت له دنيا څخه غوره وگڼي .
- که غواړې چې خپله دنيا له مرگ څخه وروسته ووينې ، نو وگوره چې د نورو له مرگ څخه وروسته د هغوی دنيا څه شوه .

## د سعید نفیسيویناوې



- واده په حقیقت کې هغه پیوند دی، چې له یوې ونې څخه بلې ونې ته وهل کېږي، که ښه شو، نو دواړه به مېوه ونیسي او که بد شو دواړه وچېږي.
- د یوه کس له پاره په زرو کې خپلواکي د ځان او نورو له پاره د هڅې ) دکان ( ارزښت لري.
- مه توتي کېږه، چې د نورو خبرې تکرار کړې او مه بلبل کېږه، چې خپلې خبرې خوشې ضایع کړې.
- خپلواکي هغه جام دی، چې زرګونه وګړي یې د بد مستۍ او یو تن یې د مستۍ له پاره څکي.
- هغه عقیده چې خلک یې د ځان له وېرېومني، پایښت نه لري.
- یوازې په ښکلا مه مین کېږه، بلکې په کمال هم مین شه.
- ته هڅه کوې، چې هوسا واوسې، مګر زه کوښښ کووم، چې نور تر ما هوسا وي.
- پوه انسان هغه وي، چې هېڅ عادت یې کوږ او ړوند نه کړي.
- نېکمرغه هغه څوک دی، چې نه دی د چا په مړینه خوشاله شي او نه بل څوک د ده په مړینه خوښي څرګنده کړي.
- هېڅ شی د حریص له لمنې څخه پراخ نه دی.
- هرڅوک چې څه شي نه لري، نو هغه ته په رسېدو سره ځان نېکمرغه ګڼي.
- د بریالیتوب پرمهال، پوهان خپل دوستان او ناپوهان خپل دښمنان ډېروي.
- تېر وختونه د دې له پاره دي، چې انسان د خپلې راتلونکې له پاره، ترې د عبرت ډالۍ را پورته کړي.
- پوهان به تل له ناپوهانو او نېک خلک به تل له بدو سره پرتله کېږي.
- راتلونکې ته پام د دې لامل کېږي، چې انسان تل په خپل ځواک کې زیاتوالی را منځته کړي او د خپلې راتلونکې له پاره له هغه څه څخه ډېره وړتیا تر لاسه کړي، کوم چې نن یې ورڅخه ګټه اخیستې ده.
- د انسان د اخلاقو په منځ کې بخیلي او ټیټوالی، له عقل او منطق سره نږدې والی لري.

- نېکمرغي د ټولو له پاره يوه مانا لري : خيالي هيلو ته رسېدل.
- راځه داسې کار وکړه، چې نه زه له تا وژاړم او نه  ته له ما.
- يوازې هغه کسان ستر دي، چې په پوهه يې زړه بايللی وي، نه هغه کسان چې د پوهې سوداګر وي.
- که غواړې، چې ما تېر باسې، باور وکړه چې ځان دې تېر ايستلی دی.
- کورنی ژوند د يوه شرکت په څېر دی، که په هغه کې د دوه شريکانو ونډه هرڅومره ډېره وي، نو د هغه شرکت ځواک او پايښت به زيات وي.
- څوک چې د ځان خوشالولو په خاطر له ځانه لاس په سر شي دا لويي نه ده، بلکې لويي هغه ده چې د نورو له پاره له ځانه تېر شې.
- يوازې هغه څوک چې هنر لري او د يوه کار د ترسره کولو وړتيا ولري، نو هغه کولای شي، چې په خپلې راتلونکې باندې ډاډمن شي.
- نېکمرغي او خوښي داسې کېميا ده، چې يوازې په ماشومانو کې يې موندلای شو.
- د هغه څه په اړه فکر مه کوه، چې ترسره کړي دې دي، د هغه څه په اړه فکر وکړه، چې نه دې دي ترسره کړي .
- تر ټولو ټينګ او پياوړی پيوند هغه تړاو دی، چې د مور او اولاد ترمنځ دی.
- ډېر بشري استعدادونه د مور او پلار د ناپوهۍ او غفلت په پايله کې له منځه ځي . که چېرې ماشومان آزاد پرېښودل شي او په يوه کسب پسې يې ولېږي، نو ډېر ستر خلک به ترې جوړ شي، مګر د رايې استبداد او يو ډول ځان غوښتنه، چې د هغوی په روزونکو او لارښوونکو کې شتون لري، هغوی ته يې د داسې يوه کسب ياځانګې لارښوونه کړې، چې پرته له مينې او لېوالتيا يې منلې ده.
- د پلار مهمه دنده داده، چې نه يوازې خپل اولادونه د تېرې او اوسنۍ زمانې له پاره وروزي، بلکې د راتلونکې زمانې له پاره يې هم بايد وروزي.
- نړۍ له هغه څه ځخه ډېره ستره ده، چې وکولای شې د ځان له پاره يې ځانګړې کړې.
- د کاميابۍ ترټولو غوره راز دا دی، انسان چې څه وايي هغه کار وکړي، هغه څه وغواړي، چې نور يې نه غواړي او يا يې په غوښتلو کې ترديد کوي.

## د حسين رحمت نژاد ويناوې

- خپلې غوښتنې را کمې کړه، ترڅو خپلو هیلو ته ورسېږې.
- د لويو خلکو افکار د نورو له پاره په تیاره بیابان کې د ډيوې حيثيت لري.
- دا چې د بشر هیلې پای نه لري او هره هيله له ځان سره بله هیله لري، د دې له پاره چې خپلې هیلې ته ورسېږې، نو هېڅکله هیله مه کوه.
- څومره سرونه دي، چې لوی افکار پکې شتون لري، مگر د نورو د افکارو مخنیوی کوي.
- که چېرې غواړې، چې خپلو ټولو هیلو ته ورسېږې، نو معقوله هیله ولره.
- زه خپلو ټولو غوښتنو ته د ارادې په ځواک ورسېدم.
- آزادي په يوه ځانگړي فرد پورې تړاو نه لري، بلکې په ټولو پورې تړلې ده.
- ژوند خوښي او خندا ده، په دې شرط چې وسیلې جوړې او زړه خوشاله وي.
- آزاد واوسه او پرېږده، چې ټول له دې ډالۍ څخه برخمن شي.
- دين داسې شيان لري، چې ډېر لارويان يې ترې خبرې نه دي.
- اې آزادۍ ! نه پوهېږم، چې د دې پراخې نړۍ په کوم ځای کولای شم پر تا تکیه وکړم.
- دين انسان له بدۍ او کوږوالي ژغوري او له خدايه حيا کوي، همدغه له الله) ج (څخه شرم کول دي، چې نه پرېږدي انسان خطا وکړي.
- ټول هغه کړاوونه چې نن يې زغمو، راتلونکې ته د هیلو پایله ده.
- دعا د روح سکون دی.
- ځينې داسې تصور کوي، چې راتلونکې څه ده، همدا نن او پرون د راتلونکې يوه برخه وه.
- لوړه په کافي اندازه د انسان فکر بوختوي، چې هېڅکله د آرامتيا په فکر کې نه شي، که نه نو تفريح د بدن جوړونکی ځواک دی.
- که چېرې غواړې، چې په راتلونکې پوه شې، نو پرېږه چې زه يې درته ووايم، البته سبا ورځ.
- زموږ خېټه چې مړه وي، نو آرام ته اړتيا وي، که نه نو وږې خېټه د تفريح او آرام په اړه فکر نه کوي.
- ادب د هر فرد د شخصيت نښه ده، کوچني او ستر ته درنښت لرل هم د هغه يوه برخه.
- سياست، سياسي لوبغاړو ته پرېږدئ او له هر ډول ډلو ټپلو څخه پاک واوسئ.

- بې ادبه سړی هغه څوک دی، چې د مور او پلار په دسترخوان نه وي ناست.
- په داسې ټولنه کې، چې د اقلیت سوکالي او آرام ژوند د اکثریت په درد او شکنجې پیل شوی وي، آیا ویلی شو چې آزادي شته.
- ادب د اصیلتوب او کورنۍ روزنې نښه ده.
- نه پوهېږم، چې د جګړه غوښتونکو سوچ او فکر ولې د خدای) ج (د بنده ګانو د تباهۍ لامل کېږي.
- ادب یوازینۍ پانګه ده، چې د هر چا په برخه نه کېږي.
- څوک چې وجدان لري، هېڅکله له نورو سره بد نه کوي.
- نېک اخلاق د یوه ښه ژوند بنسټ بڼدي.
- خدای ج ټولو ته پوهه ورکړې ده، خو یوې ډلې ترې ګټه نه ده پورته کړې.
- نېک اخلاق هغه شتمني ده، چې الله) ج (انسان ته ارزانه کړې ده.
- که یوه شېبه طبیعت ته ځیر شئ، په هغه وخت کې به د الله) ج (په ستر والي پوه شئ.
- بد اخلاقي هغه اوبه دي، چې څاڅکی څاڅکی راټولې شوي او بد بویه شوې وي او ټول ناخوښه کوي.
- هغه چې ښاد دي او خاندي، دنیایې په هېڅ شمېرلې، د دنیا بې ارزښتي یې پېژندلې ده.
- د بریا یو راز د پیاوړې ارادې لرل دي.
- په ټول ژوند کې ونه توانېدم چې په سمه توګه دوست غوره کړم، کېدای شي دا به زما خپله ستونزه وه.
- هر څوک چې اراده لري، یانې هر څه لري .
- ځینې کسانو په دنیا باندې زړه بایللی او فکر کوي، چې د هغې په څېر باقي پاتې کېږي، په داسې حال کې چې موږ تلونکي یو او هغه پاتې کېږي.
- د پیاوړې ارادې لرونکی سړی کولای شي، دنیا تر خپل واک لاندې راولي.
- چې هرڅومره څېړنه او پلټنه وکړئ، په هماغه اندازه به د دنیا په بې ارزښتۍ پوه شئ.
- اراده یوازې هغه څه ده، چې انسان خپلو غوښتنو ته رسوي.
- انسان چې لوبې کوي د ځوانۍ او خوښۍ احساس کوي.
- د ټولو پلیتیو سرچینه بد افکار دي، چې په خپلو ماغزو کې ځای ورکوو.
- خپل دښمنان په خپلو خپلوانو کې لټوه.
- ستاسو افکار ستاسو د شخصیت جوړونکي دي، ښه فکر وکړئ.

- سستي او تنبلي لاس په لاس شوي او ماتې يې رامنځته کړې ده.
- پرېشانه افکار ژوند پرېشانوي.
- اولادونه د ژوندانه ښکلي ګلونه دي، البته ګلونه ازغي هم لري.
- زموږ افکار، زموږ ژوند دی، هر هغه څه چې زموږ په ماغزو کې ګرځي، زموږ ژوند تشکيلوي.
- انسان تل په فکر کې دی، خو توپير په څه فکر کولو کې دی، جوړونکی يا ورانونکی.
- فکر کول د ژوند په ټولو پړاوونو کې اړين دی، خو په ځانګړې توګه د واده کولو پرمهال ډېر اړين دی .
- کله چې حيوان انسان وداړي، هغه له منځه وړو او کله چې انسان حيوان داړي، نو هغه هڅوو.

## د لقمان حکيم  ويناوې




- د ګټې او زيان له پاره خپل عزت له منځه مه وړه.
- ملګري ته د راز خبره مه کوه کېدای شي، چې سبا ستا دښمن شي.
- د خلکو هومره لحاظ کوه، چې ځان خراب نه کړې.
- له جنګ او فتنې څخه په ډډه ګرځه.
- په مجلس کې له خلکو څخه مخکې مه ويده کېږئ.
- مړي بد مه يادوئ، ځکه چې ګټه نه لري.
- د مېلمه په وړاندې چاته غوسه مه کوه.
- خلک د خلکو په وړاندې مه رسوا کوه.
- بې ځايه وينا کوونکی او لوبي کوونکی مه اوسه.
- که د ژبې له زيان څخه ځان ژغورل غواړئ، نو چپ اوسئ.
- چوپتيا او خاموشي خپله پانګه وګرځوئ.
- له بد ذاته خلکو څخه د وفا تمه مه کوئ.
- چوپتيا خپل شعار جوړ کړه ، چې د ژبې له شر نه خوندي شې.
- که تاسو له چاسره محبت نه شئ کولی نو له هغه څخه نفرت هم مه کوئ.
- ما ادب له بې ادبانو څخه زده کړ، ځکه چې دوی به کوم ناوړه کار وکړ، مابه له هغه څخه ځان ژغوره.

- په مجلس کې خپله ژبه په کنټرول کې وساتئ.
- په کوم حالت کې چې اوسې پر هغه خوښ اوسه.
- په هر چا مه بد گومانه کېږئ کنه نو په دنيا کې به هېڅ دوست او خوا خوږی ونه مومئ.
- په لمانځه کې د زړه، په مجلس کې د ژبې ، په غوسه کې د لاس او په دسترخوان د گېډې ساتنه کوئ .
- د خلکو د هوساينې له پاره کوښښ وکړئ له خلکو څخه مه ډارېږئ او په خپل منځ کې په مينه سره ژوند وکړئ.
- هغه راز چې له دښمن څخه يې پټ ساتئ، دوست ته يې هم مه ښکاره کوئ ځکه کېدای شي ، چې دا دوست مو يو وخت دښمن شي.
- هر وخت خپل مرگ په ياد ولرئ.
- ځوانمردي د ځان عادت وگرځوئ.
- که چېرې خلک تا په هغه صفت موصوف کړي ، چې ته يې وړ نه يې مه مغروره کېږه ، ځکه د ناپوهانو په وينا هيڅ کله هم له تېږي څخه زر نه جوړېږي.
- دنيا د غلو مورچه ده په دې کې په هوښياری او پوهې سره ژوند کول په کار دی.
- مرگ داسې شی دی، چې معلوم نه دی، چې کله به راځي له وړاندې ورته تياری نيول په کار دی.
- له ستونزو څخه مه وېرېږه ، ځکه چې ستوري په تياره کې ځلېږي.
- د لمر ختلو پرمهال مه ويده کېږئ ځکه چې د عبادت پرمهال ويده کېدل بدبختي ده.
- د غوسې په حالت کې د خپل لاس ساتنه کوئ.
- که عزت غواړې تمه غوڅه کړه، له هغه څه چې د خلکو په لاس کې دي او په هغه څه چې خدای) ج ( درکړي راضي اوسه.
- په کوم نعمت کې چې شکر وي د هغه پای نه شته او په کوم نعمت کې چې ناشکري د هغه پايښت نه شته.
- الله) ج (او مرگ هېڅکله له ياده مه باسئ ، خپله ښېگړه د بل بد گړه هېره کړئ.
- ډېر اورئ او لږ غږېږئ.
- په خبره وړي ، خو په حکمت ماړه اوسئ.

- په خپله هم نېکي کوئ او نورو ته هم د نېکي تلقین کوئ.
- په هر مجلس کې چې د الله) ج (ذکر کېږي ګډون په کې کوئ او بدانو له ناستې نه ځان لرې وساتئ.
- رښتیا خبره مه پټوئ او درواغ خبره له سره مه کوئ.
- له پوهانو سره ناسته ولاړه غوره کړئ ، دا کار په ربړو او ستونزو کې له تاسې سره مرسته کولای شي.
- له احمقانو او ناپوهانو سره اندېوالي مه کوئ، دا په ستونزمن وخت کې ستاسو ربړې او کړاوونه لا زیاتوي.
- لکه باران چې وچې ځمکې لمدوي ، دغه راز له عالمانو سره ناسته ولاړه د سړي زړه تاند او رڼوي.
- بې روزګاري اړتیا را منځته کوي او اړتیا په دینداری کې خلل اچوي، فکر ته زیان رسوي او مروت ) مېړانه ( له منځه وړي.
- که چېرې مو کوم کار بل چاته سپاره ، نو یوه سړي ته یې وسپارئ که یوه په ګوتو نه درتلو نو په خپله یې کوئ که نه نو هېڅ یې مه کوئ.
- په علم سره زړه داسې ژوندی کېږي لکه وچه ځمکه په باران.
- د عقل په څېر هېڅ دولت نه شته او د جهالت په څېر هېڅ غربت.
- د دنیا ربړې او کړاوونه آسان وګڼئ او مرګ هېڅکله مه هېروئ.
- د علم په مرسته د انسان وحشت او ډار له منځه ځي.
- د دنیا په کارونو کې دومره بوخت اوسه ، څومره چې دې عمر پاتې وي ، هېڅوک نه پوهېږي چې زما عمر به څومره پاتې وي ، کېدای شي یوه ګړۍ وروسته یې مرګ مېلمه شي ، ځکه نو د چا چې دا تصور وي هغه به ولې په دنیا کې ځان بوختوي.
- د الله) ج (عبادت د هغو اړتیاوو په اندازه وکړه، چې خدای) ج (پورې تړلی دی ) . ژوند ، مړینه بیا ژوندي کېدل ، وروستی حساب ، جنت ته تلل او همېشنی ژوند ټولې اړتیاوې یوازې په الله) ج ( پورې تړلې دي ځکه نو مطلب دا دی چې انسان دې همېشه د الله) ج (په عبادت بوخت وي، البته د الله) ج (له خوښی سره سم د دنیاوي اړتیاوو د له منځه وړلو له پاره کار کول هم په عبادت.

د محمد حجازي ویناوې



- که چېرې خلک په دې پوه شي، چې آزادي څومره ستر نعمت دی، نو هېڅکله به یې له لاسه ور نه کړي.
- آزادي هغه وخت ده، چې زموږ اختیار د عقل په لاس کې وي.
- تر هغې ورځې، چې د راتلونکې وړاند وینه میسره نه شي، نو توکل به تر ټولو غوره او بشپړه هڅه وي.
- هغه څوک، چې په کور کې یې سوله او آرامي ده، د ژوند جګړه یې ګټلې ده .
- د پوهې خزانه، چې په هره بیه واخلئ، نو ارزانه ده.
- ادب، د روزنې او شخصیت ښکارندوی دی.
- کورنۍ نېکمرغي دوه لازم شرطونه لري، مینه او ادب، مګر له مینې څخه ادب ډېر اړین دی.
- مذهبونه، عادتونه او دودونه مختلف دي، خو د اخلاقو اصل په هر ځای کې یو دی.
- افسوس، چې ځوان نه پوهېږي او زوړ نه شي کولای.
- د ژوند ودانۍ په درواغو ولاړه ده، په هر درواغ باندې اعتراف کول داسې ده، لکه چې له دې غې ودانۍ څخه چې یوه خښته وباسې.
- د شهرت تر ټولو غوره امتیاز او وسیله، نېک اخلاق دي.
- ښه اخلاق هغه څراغ دی، چې زموږ ښه صفتونه روښانه کوي او پر بدو صفتونو مو سیوری غوړوي.
- ښه اخلاق رایجې پیسې دي، چې په هر نعمت باندې بدلېدلای شي.
- د هر چا نړۍ د هغه د فکر د پراختیا په کچه ده.
- غوره اخلاق د علم، مال، منصب او ښکلا ځای نیولی شي، مګر بل هېڅ نعمت د غوره اخلاقو بدله نه شي کېدای.
- د ښځې تر ټولو غوره ښکلا، د هغې ښه اخلاق او روغتیا ده.
- څوک چې په شعر نه پوهېږي، د هغه په زړه کې تل ژمی وي.
- کوم مرغه چې دردېدلی وي، بېرته نه راګرځي.

- په ژوند کې څو ځله د جامو اندازه بدلېږي، باید څو ځله خپل افکار او عادتونه هم بدل کړو.
- ترڅو چې سبا وي، نو باید هیله من واوسو.
- هیله هغه سراب دی، که چېرې ورک شي، نو موږ ټول به له تندې مړه شو.
- افسوس د هغه چال په حال، چې د مرغۍ قفس، ډوډۍ، اوبه او آسانتیاوې لري، مګر هڅه او هیله نه لري.
- د حق او قانون کلمې د تورې په شان دي، چې لاستی یې د واک دارانو او تېره څوکه یې د ښکته خلکو په لاس کې ده، که چېرې ښکته خلک د لوړ مقام سره ډېر کوچنی مخالفت هم وکړي، نو خپل ځانونه به غوڅ کړي.
- له هرې ګونځې نه چې په خپل تندي کې یې جوړوې، سل ګونځې دې په کار کې جوړېږي.
- کمزوري خلک د یوې هیلې او لېوالتیا له پاره ژوندي دي، که چېرې هغه هیله له لاسه ورکړي، نو ځان مړ ګڼي.
- د آزادو او فکر کوونکو خلکو له پاره، تر ټولو ستر درد هغه دی، چې د فکر کولو حق ترې واخیستل شي .
- انسان، سر ګردانه حیوان دی، چې نه پوهېږي، څه وخوري، څه واغوندي او څه وکړي.
- د نړۍ په لوبغالي کې، هرڅوک هڅه کوي، چې خپل لېونتوب د عقل په ټوکر باندې که ډېر زوړ هم وي پټ کړي، خو یوازې د مینې لېونیان دي، چې خپل نوي کالي څیرې کوي او په خپل لېونتوب ویاړ کوي.
- چېرته چې دوه کسان وي، یو حاکم او بل محکوم دی.
- انسان د بندګۍ او عبادت له پاره پیدا شوی دی، نو له دې امله هره دوکه او چل هغه د ځان لاروی او غلام جوړوي.
- هره غوښتنه، چې د انسان له ضمیره تېره شي، شونې ده.
- انسان اړ دی، چې ځان خپلواک وګڼي.
- موږ د نېکمرغۍ وسله له نورو غواړو، په داسې حال کې، چې د نېکمرغۍ اسباب په خپله له موږ سره دي.
- هرڅوک بل مین لېونی بولي، په داسې حال کې چې په خپله هم په یوه شي مین دی.

- که هر څومره له انسانانو وتښتو، نو له انسانیت څخه به تښتېدلی یو.
- د بې ایمانه سره له خوبه نه را پورته کېږي، ښه ایمان هغه دی، چې موږ نېکمرغه او خوشاله کړي.
- هیلې او بریاوې په مانا کې یو دي.
- کبر تر ټولو ستر حماقت دی.
- له ښه سړیتوب سره ادب ته هم اړتیا ده.
- باید چې له خپل دوست څخه د ګل له بوی او د سهار له وږمې څخه زیاته غوښتنه ونه لرئ.
- پوه سړی هره ورځ د ځان له پاره د تفریح موقع برابروي.
- کبرجن سړی د چلبازانو او چاپړوسانو تر ټولو آسانه ښکار دی.
- تمدن یانې ښار مېشتېدل، د ټولو ښېګڼو او بدیو سر چینه.
- د ملتونو ستروالی او کوچینوالی، کمزورتیا او پیاوړتیا د هغوی په تمدن او روزنې پورې تړاو لري.
- د مینتوب ټپ د دوست په لاس مرحم کېدای شي، خو د دوستۍ ټپ هېڅ یو مین نه شي درمل کولای .
- دا موږ په خپله یو چې ځانته دوستان او دښمنان جوړوو.
- دوستي باید په زړه کې ولټول شي، خو ډېر کم خلک په دغې پېچلې لاره درومي.
- کله چې په بل چا نیوکه کوو، په زړه کې ځان ته چیغې وهو، چې تا له دې زیات بد کړي دي.
- روغتیا د ځوانۍ ځای نیسي او مهرباني د ښکلا

## فخر افغان باچاخان بابا ويناوې



- پښتون يو ژوندی قوم دی، د قوميت او قربانۍ ماره په کې شته، خو راويښول غواړي.
- بې عمله دعا د خدای ج په نزد نه قبليږي.
- پستي او بلندي په عمل ده، که د چا عمل پست وي، هغه نر وي که ښځه په کار دی، چې پست وگڼل شي او د چا عمل چې وچت وي، نر وي که ښځه په کار دی، چې په درانه نظر ورته وکتل شي.
- چې سړی خبرې يو شان کوي او عمل بل شان وي نو د هغه خبرې په خلکو ښه اثر نه کوي.
- انقلاب يو سيلاب وي، چې راشي نو اوده خلک يوسي او ويښ ترې فايده اوچتې کړي.
- خدای ج خو خدمت ته ضرورت نه لري، د خدای د مخلوق خدمت د خدای خدمت دی.
- د عدم تشدد وسله تبليغ دی او د تشدد وسله ټوپک دی، عدم تشدد په خلکو کې محبت پيدا کوي، همت پيدا کوي او جرات پيدا کوي او تشدد په خلکو کې نفرت پيدا کوي، ويره پيدا کوي او بزدلي پيدا کوي.
- تشدد اسان دی او په دې لاره تلل هم اسان دی او عدم تشدد ډېر گـران دی او په دې لاره تلل هم ډېر گـران دي، يو سړي له د پړق جواب کې پړق ورکول اسان کار دی، خو پړق زغمل گـران کار دی.
- پښتون ژوندی قوم دی، خو چې د ژوندي کولو خلک په کې پيدا شي، تر څو چې د يو قام کې د ژوندي کولو لپاره خلک پيدا نه شي، هغه قوم ژوندی کيدی نه شي.
- د هرې ژبې ويونکي خپلې ژبې ته ترقي ورکړې ده، پښتنو چې خپلې ژبې ترقي نه ده ورکړې، دې کې د پښتو ژبې څه گـناه ده؟ دا خو زما او ستا گـناه ده.
- چې په ډلو کې اختلاف پيدا شي، که ډېر ښه او زورور خلک وي هم بې کاره شي او دهغوې طاقت د يو بل په غورځولو کې صرف شي.

- په خدمت کې اختلاف نه راځي، اختلاف د خود غرضۍ نه پيدا کيږي.
- دا نن چې پښتانه په بدو لارو روان دي، د دې وجه دا ده، چې موږ د ښو او بدو فرق نه کوو او نه څوک شته، چې د ښو او بدو په فرق مو پوهـ کړي.
- موږ هميشه په خپل خيال پسې ځو او د بل فکر نه کوو، دا يو لوی کمی دی.
- زموږ په خلکو کې دا يو کمی دی، چې موږ هميشه د بل د کمزوريو او عيبونو د راوښکلو او لټولو په فکر او غم کې يو او خپلو کمزوريو او عيبونو ته فکر نه کوو او په دې وجه خو موږ نن په دنيا کې برباد او نيستمند يو.
- په ځای د دې چې موږ بل ته گوته ونيسو ځان ته گوته نيول پکار دي او د نورو د اصلاح نه ړومبی د ځان اصلاح فرض ده.
- چې کوم ځای انصاف نه وي او نه څه قاعده او قانون وي، هغه سره زيات بحث کول څه فايده مند نه وي.
- د هر سړي خپل عزت پخپل لاس کې دی او که هر سړی خپل خواهشات او ضروريات قابو، نو هميشه به په ارام، خوشاله او عزتمند وي.
- پښتنو کې دا ډېره لويه کمزورتيا ده، چې چېرته لاړ شي او چا سره واده وکړي، نو هغه خپله ژبه ترې پاتې شي.
- اې پښتنو ورونړو ! يو کافر خپل کافر ورور نه وژني، تاسو چې ځان مسلمانان وايې، بيا ولې يو پښتون بل پښتون وژنې.
- هې افسوس ! د نورو قومونو په شان د دوې پښتنو غمخور نشته ! دا دوې شپون نشته،ځکه خو يې شرمښان خوري او ماتوي.
- په دنيا کې هيڅ قوم بغير د خپلې ژبې نه ترقي کولی نه شي.
- چې کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شي، نو هغه سپک شي
- د مور غيږ د انسان اوله او ډېره مهمه مدرسه ده.
- خدای ج دې پښتون ته د بدۍ وس نه ورکوي او چې وس ومومي، لکه د لړم د بچو خپله مور خوري.

- رښتیا خبره دا ده، چې ظالمان بهادران نه وي،ډېر بزدله او بیمانه وي، بهادر سړی هېچیرې په چا ظلم نه کوي.
- په پښتنو کې ډېر لوی پاچاهان او مشران پیدا شوي دي او تېر شوي، خو هیچا په پښتنو کې اجتماعي ژوند او د اجتماعي ژوند فکر نه دی پیدا کړی، اولنی تحریک د خدایي خدمتګار تحریک دی، چې اجتماعي ژوند او فکر یې په کې پیدا کړو.
- عدم تشدد کې شکست نشته او تشدد کې شکست شته. مخ خبرې او عمل: په دنیا کې کوم قومونه چې خبرې لږې کوي او عمل ډېر، هغه قومونه همیشه خپل منزل ته رسېدلي دي.
- د کوم قوم ښځې چې بیدارې شي او د ملک د ازادۍ لپاره ملا وتړي، نو هغه قوم څوک غلام ساتلی نه شي او هغه قومونه به ډېر زر خپل منزل ته ورسیږي.
- انقلاب سیلاب دی او همیشه اوده قومونه وړي او ویښ ابادوي، تاسو ویښ شئ او منظم شئ او نقلاب نه ګټه واخلئ.
- اې پښتنو وروڼو ! موږ ټول یو قوم یو او یو بابا اولاد یو، زموږ مثال د یوې ونې دی، چې دې کې ډېرې څانګې وي، خو مونډ یې یو وي.
- پاڅئ ! دا خپل کور جوړ کړئ، دا بېل بېلوالی پرېږدئ، یو قوم شئ، که یو قوم شوې نو ستاسو دنیا به اباده شي او اخرت هم.
- چې ټول قوم په یو سړي متفق شي نو خپل منزل ته ورسي، خو دې خبرې ته کتل په کار دی چې هغه سړی چې څه کوي د ځان د پاره کوي او که د بل د پاره؟
- هغه قوم دنیا کې ډېر بدقسمته وي چې هغوې کې داسې خلک پیدا شي، چې په خپله خو د قوم او ملک د خدمت د پاره تیار نه وي او چې څوک په کې د خدمت د پاره پیدا شي، هغوې خدمت ته نه پرېږدي.
- چې د خدای د پاره د قوم خدمت کوي، نو د هغوې مخه څوک نشي بندولی او هغوې د چا مخالفتونه نه کوي، ځکه چې خپل څه غرض یې نه وي، مخالفت خو په ذاتیاتو کې پېدا کیږي.
- غلامي د خدای ج لعنت دی، او موږ له د دې لعنت نه ځان خلاصول په کار دی او دا به هله وشي، چې موږ کې قاموليې، وروروليې اتفاق او مینه محبت پېدا شي.

- نن دا دنیا د قوموله دنیا ده او تاسو وګورئ، چې چا کې قومولي، وروروليٰ او اتفاق دی، نو هغه اباد دي او چې کومو قومونو کې پرې، جنبې تربګنۍ او دښمني دي، هغه برباد دي.
- پښتون یو داسې قام دی، چې د زور په نسبت په احسان زر تابع کيږي.
- د د چا په زړه کې چې د خدای ویره وي، نو هغه په زړه کې د بل چا وېره نه راځي او د چا په زړه کې چې د خدای وېره نه وي، هغه د هر چا نه یربېږي.
- غم او فکر هغه چا سره وي، چې د ځان د پاره کار کوي او څوک چې د خدای د پاره کار کوي، هغوې هیڅ فکر او غم نه کوي.
- د یو سړي په زړه کې چې د خپل قوم او د خپل ملک محبت وي او همدردي وي، بیا به خلک د هغه خبرو منلو ته تیار وي که هغه سړی د هر ملت او مذهب وي.
- انسان چې انسان وي، څومره همدرد وي او چې انسانیت ترې لاړ شي نو بیا څومره بې رحمه شي.
- د کوم قوم لیډران چې زړور وي هغه قوم کې هم زړورتیا پیدا شي او چې د کوم قوم لیډران بزدل وي، هغه قوم کې بزدلي پیدا شي.
- که پښتون شي، نو دی څوک غلام کولی نشي.
- سیدجمال الدین افغان ویناوې
- هغه څوک چې فکر کوي د اسلام مبارک دین په سختۍ دستور ورکوي او د انسانانو په تاوان حکم کوي نه په ګټه؛ په ړندو سترګو یې قضاوت کړی او دروغ یې ویلي دي.
- که انسان له سترګو معیوب او ړوند وي غوره دی، نه چې د فکر او عقل له نګاه نه.
- پوهه د پوستکي او ماغزو سرمایه ده. هغه څوک چې په پوستکي اکتفا کوي نو په یو لوي دریاب کې غرق شوی دی.
- دخپلواکۍ د بیرغ د رنګ لپاره بهترین رنګ د خپلواکۍ د مجاهد د وینې رنګ دی.
- د خپلواکۍ درلودل یوه هیله او ارزو ده. ددی لاس ته راوړل کار او عمل ته ضرورت لري او انسان د قربانۍ ورکولو او خطرونو ګاللو لپاره وادار باسي.
- د مظلوم اعتبار د ظالم په وعدو د توپ او توري د وژلو نه خطرناک دی.
- کوم ولس چې د زدکړې د لاسته راوړلو په نیت یو ساعت جهاد وکړو؛ دهغه ولس لپاره تر قیامته پورې له ژوند کولو نه غوره دی.

- کوم ولس چې د استعمارگرانو او ستمگرانو په وړاندې د نورو وسايلو دنه درلودو په صورت کې له خپلې ژبې او قلم نه هم استفاده نه کوي نو هغه ولس د ځارويو نه هم گمراه دی.
- دفکر او ژبې خپلواکۍ اخستل کيږي، ورکول کيږي نه او د هيواد لپاره خپلواکي په خبرو لاس ته نه راځي.
- بهترين لاربنود هغه دی چې ولس د خپلو عملونو او کارونو په ذريعه رهنمايي کړي، نه د فرمانونو او امرونو په ذريعه.
- د ختيځ دولسونو لوي مشکل دادی چې هغوي پخپل منځ کې د اتحاد او يوالي په سر اختلاف لري او د بی اتفاقۍ په سر يووالی. دوي پخپلو کې تعهد کړی چې هيڅکله به يووالی ونکړي.
- حقيقت حقيقت دی او دا نشې کولای چې په گمان او خيال يې له منځه يوسې.
- هغه کسان چې علم نه لري او د دعوت لاره يې اختيار کړې، دهغوي خبرې صحت نه لري او يواځې خپل ځان ذليله کوي. ولې هغه عالمان چې د علم او پوهې لرونکي دي، د هغوي دعوت اثر پرې باسی او دوام هم کوي.
- دنړی حقير او پست ترين انسانان هغه دي چې خپل ژوند دنورو په مرگ کي ويني، ولې دلوړې درجې انسانان هغه دي چې دنورو ژوند که چيرې يو نفر هم وي دخپل ژوند په بدل کې غواړی.
- ذليله او پسته زنده گي غوره کول ډير اسان دي؛ د عزت او سرلوړۍ ژوند نه.
- دحق ويونکي او لرونکي هميشه قوي دي، که څه هم يې رتبه او مرتبه په ټيټه درجه کې وي، ولې د باطل لرونکي او ويونکي هميشه ضعيف او ذليل دي که څه هم قوي اوسي.
- دا ډير کم پيښيږي چې حق دې د کړاو گاللو نه بغير لاسته راشي.
- يو ولس د اخلاقو نه بغير نابود دی او اخلاق د عقيدې نه بغير کومه لاسته راوړنه نه لري او عقيده د علم او پوهې نه بغير عقيده نده.
- دولسونو داعمالو د تول لپاره بهترينه تله دهغوي اخلاق دي.
- دعلم او پوهې لاسته راوړنکي زيات دي ولې عمل کونکي پرې ډير کم دي.
- د يو نفر په غيرت بهترين دليل دهغه ښکاره مخالفت د هغه رسم او رواج سره دی چې باطل‌والی يې ښکاره وي.

- دوه پوهان په یوه ټولنه کې چې دوه میلونه غړي ولري، له هغو زرو کسانو نه ډیر غوره دی چې ځانونو ته هوښیاران وایي.
- که په یوه ټولنه کې جاهله او ناپوه کسان واک ونیسي نو دټولنې نظم او نظام له منځه ځي.
- که چېرې یوځای له هوښیارو او پوه کسانو نه خالي شي نو نادان او جاهل کسان د هغو کسانو د ځای د ډکولو لپاره یو بل سره په مسابقه کې پریوځي.
- یو جاهل او ناپوه انسان که ژوندی هم وي خو د مړو په کتار کې‌ېږ دی او یو عالم که مړ هم وي؛ ژوندی دی.
- هغه څوک چې خپل ځان نشی اصلاح کولای نور کسان هیڅکله نشي اصلاح کولای.
- که یوانسان د یو واکمن د مقام او چوکۍ نه نسبت د هغه د عادلانه کار نه زیات ډاریږي نو داسې حاکمان باید د احترام پرځای دخلکو لخوا مسخره شی.
- دختیځ دهیوادونو زیاتره حاکمان په داسې یو حالت کې قرار لري، که چېرې یو د هغو نه د غلامۍ په یوه تنگ او ژور کوهي کې ځان وغورځوي او یواځې د هغه دعزت او محتوا نه بغیر القاب خوندي وي نو دنیا د ځان لپاره جنت گڼی.
- هغه څوک چې لرگي د خرڅولو لپاره جمعه کوي، د هغه چا نه ډیر ښه دی چې طلا ذخیره کوي.
- هغه انسان له تاسو نه ډیر هوښیار دی چې هغه څه چې د ځان لپاره نه خوښوي نورو ته هم خوښ نکړي.
- سیاسي گوندونه د تدوای لپاره ښه دوا دي ولې په ختیځ کې په زیاتو وختونو او حالاتو کې په ډیر بد سردرد او ناروغۍ بدل شوي دي.
- له جگړې بغیر د تورو خوځول او د سولې په وخت کې دجگړې په سامان‌الاتو ویاړ د جگړې په ډگر کې د ویرې او ډار په معنی دی.
- پوه او عالم سړی چې په ختیځ کي کله مړ شي نو ژوندی شي او چې کله ژوندی وي نو مړ وي.
- دعقل او تفکر لاسته راوړنې هغه وخت مفیدې تمامیږي چې یو انسان د وهمونو او تشویشونو له حالاتو نه ازادي واخلي.
- نوی عالم همیشه فکر کوي چې دعلم سمندر یې یاد دی او همدا کفایت کوي، ولې یو حقیقی طالب همیشه مطالعه کوي او له ځانه سره وایي چې د علم په اول پوړ یا سریزه کې قرار لري.

- کله چې يو انسان له ځان سره داسې حساب وکړي لکه له نورو سره چې يې کوي نو اشتباه‌گانې يې کميږي او دژوندانه په حقيقي راز پوهيږي.
- که د يو انسان په لاسونو او پښو کې زنځيرونه واچول شي او بند شي؛ غوره دی له هغه چې وهم او خرافات يې په عقل او فکر کې زنځيرونه واچوي

**د خوشال بابا غوره ويناوې**




- له هغه دينه کفر ډېر غوره ده، چې له يقينه خالي او له شکه ډک وي .دا په مونږ باندې د خدای) ج (احسان دی، چې د پاک رسول الله) ص (دين يې را پيرزو کړی دی.
- د زړه سواندو او ربښتينو انسانانو مخونه د سپرلي د گل غوټيو په څېر تاند او غوړېدلي وي او د درواغجنو او بې رحمه خلکو څېرې د خزان سيلۍ وهلي او مړ ژواندي وي.
- چې هوښيار وي، په دې خبره به پوه شي، چې وړی د وربشو ډوډۍ ښه په مينه خوري او ښه پرې لگي، خو چې موړ وي، نو هغه د سوچه غوړيو حلوا ته هم نه گوري.
- هغه څوک چې خپل ارزښتناک وخت د علم په زده کړې کې تېر کړي، عالم او فاضل به شي .له يوې خوا به د غوسه ناکو کسانو د ژوندانه له ستونزو سره په آسانۍ مقابله وکړي او له بلې خوا به د خپلې اسلامي ټولنې له پاره د خدمت وړ وگرځي.
- د ربښتيا ويلو له امله په کلي او کور کې هېڅ خوا خوږی او همنوا نه لرم.
- څوک له طبيبانو دوا غواړي او څوک له درويشانو دعا، خو خدايه ! ما هيچا ته مه اړ کوه؛ زه هرڅه له تا غواړم.
- له رنځه ومرئ، خو د احسان دارو مه خورئ.
- د الله) ج (له وېرې د مؤمن له سترگو څڅېدلې اوښکې د جهنم اور هم مړ کولای شي.
- ژبه په ښو ويلو عادت کړه، په خپلو او پرديو کې به دې درونډ کړي، بده ژبه به دې په خپلو او پرديو کې سپک کړي.

- زه د هغه انسان په خپلواکه فکر، بې غمه زړه او روڼ تندي ویاړم، چې نه زر لري او نه زمین.
- جوته خوراک مه کوه، ځکه چې جوته خوراک د سپي دی.
- څوک چې صبر نه لري، هغه حکمت نه لري.
- د علم بحث له هر چا سره کوه ښه دی.
- څوک چې په غرمه پورته کېږي، هغه له هر کاره پاتې وي.
- طمعه مه کوه، ځکه چې طمعه مرغۍ هم وکړي، نو په دام کې گیره شي.
- له هر څه نه بده داده، چې ناپوه پایي او هوښیار مري.
- ناپوه سړی څاروی دی، که هر څومره یې په لاره کوې؛ نه په لاره کېږي، که یو ساعت ښه هم شي، په بل ساعت بیا ترې نه څاروی جوړېږي.
- هغه کس د ډېرې ستاینې وړ دی، چې خپل بار په چا نه اچوي، بلکې د بل بار وړي.
- د یوه عزتمن سړي له پاره په دنیا کې دوه کاره دي، یا به گټې او یا به سر قربانوي.
- په رسمونو او رواجونو پسې مه ځئ، څه چې شرعه وایي هغه وکړئ.
- ناځوانه خلک په خپل نسب ویاړي او مېړونه په خپلو کارنامو.
- د توبې صابون هېڅ خیری نه پرېږدي، که هر څومره دې جامه خیرنه هم وي.
- ای ناصبره ! صبر وکړه او له حقه مه اوړه، بریا به ستا وي، ځکه چې صبر تېره توره ده.
- د غافل سړي په سپینه ږیره مه غولېږه، ځکه چې غافل سړی که زوړ هم وي، نو د پیو ماشوم دی.
- چې ښې او کین لاس مي پېژندلی، له هغه وخته تر اوسه له یوې مینې خالي نه یم.
- د ښځې مثال د مار دی، په کور کې بنده ښه ده، لکه څنگه چې مار په سوړه کې ښه دی، ښځه چې له کوره بهر شي او مار له سوړې، نو ډېر خطر لري.
- هغه کس په عقل خام دی، چې خپل کسب پرېږدي او د بل په کسب پسې شي، دغه کس د یوه کسب هم نه شي.
- چې مرې، نو داسې ومره، چې خلک درپسې وژاړي او درپسې تل په دعا لاس پورته کړي .د مار او لړم غوندې مه مره، چې خلک دې په مرگ خوشاله شي.
- چې تېرې تورې وهې، نو یو وېښته به یې هم زیانمن نه شي، تر کومې چې د رب حکم نه وي شوی.
- که پوهېږې، نو ایمان دغه دی، چې له مخلوقه لرې شي او خالق ته ځان نږدې کړې.

- که په مخکې دې زمری هم ولاړ وي، خو چې له سره تېر شوې او وېره له زړه وباسې، نو زمری درته هېڅ هم نه دی.
- د ګل یا ښه بوی وي او یا هم ښه رنګ، چې په دې دواړو کې یو هم نه لري، نو ګل نه دی.
- ځوانه ښځه صحت دی او زړه ښځه زحمت.
- د ناپوهانو په رښتیاو کې هم ګټه نه وي، ځکه چې ټولې خبرې یې له خیره لرې وي .ځار مې د هوښیار له خبرو کړې، چې درواغ او رښتیایي د شکرو غوندې خوند او مزه لري.
- د دین او دنیا له پاره پاک اوسئ، ځکه چې ناپاکه خلک په دین او دنیا دواړو باندې خوار وي.
- د هغه کس دې رب مخ تور کړي، چې په یارۍ او دوستۍ کې په زړه غلا لري.
- هوښیار سړی پند ته اړتیا لري، د ناپوه له پند سره څه کار نه شته.

## د محمد علي کلي ويناوې



- خاموشي سره زر ده، کله چې د یو ښه ځواب د ورکولو لپاره فکر نشې کولې
- مینه هغه جال دی، چیرته چې زړونه د ماهیانو په شان پکې بندېږي
- نورو ته خدمت کول، ستا د هغه استوګنځي د کرایې ورکول دي، چې په دغه ځمکه یې لرې.
- ستاسو لاسونه هغه څه، هیڅکله هم نشي وهلی، چې تاسویې په سترګو نشی لیدلی.
- که د بایللو تجربه ونلرو، موږ به هیڅکله هم پوه نشو، چې موږ د څه شي لایق یو.
- زغم او صبر د بریالیتوب کونجي ده.
- په ژوند کې هیڅکله هم شاته مه ګورئ.
- ژوند جواري او قمار وهل دي.
- موږ هیڅکله هم زړور کیدلی نشو ، که ویره ولرو.
- د پتنګ په شان الوځه، حریف ته د مچۍ په شان ټک ورکوه.

## استاد ميروالي جان لکنيوال ويناوې



- ځينې فکرونه د شاړې ځمکې په شان تل مضر بوټې شنه کوي!
- کوم ملت چې ستر ملي ارمان او موخه نه لري، هره ورځ يې په وړو مسايلو تيريږي!
- بد ملګرى، د منو په کارتن کې د خرابې منې مثال لري، اول همسايه منه او ورپسې ټول کارتن خرابوي!
- فکري انقلابونه او رهبران تل خپلو بې سواده او بې پوهې ملاتړو ناکام او بدنام کړي!
- ځيني سرونه د بادام په شان وړه خو له فکره ډک وي، ځيني سرونه د کدو په شان غټ خو له فکره خالي وي!
- شخصيت د ټولنې امانت دى ,ممکن ټولنه يې در څخه بيرته واخلي!
- د ملت او اولس پر سر به د امتياز ښبنتن وي خو، هر خدمت به پر ملت احسان ګڼي ,رهبريت او خدمت امتياز نه بلکې مسووليت دى!
- هر چا ته د هغې د ظرفيت په اندازه درنښت او مينه ورکړه، ځيني کسان د درنښت او مينې په معنا نه پوهيږي!
- هره خنديدونکې څيره مخلصه او هره قهرجنه څيره منافقه نه ده!
- دوه سره مار اوسه خو دوه مخه انسان مه اوسه!
- له مارانو مه ويريږه، خو د يوشتمې پيړۍ له يارانو وويريږه!
- د چا چې په ورځ کې درې ځله دريځ بدليږي، درې ځله په هيواد سودا هم کولى شي!
- هر ډول ته نڅا کوونکى که هيڅ مخالف ونه لري نو هيڅ باور کوونکى هم نه لري!!!
- انساني ژوند د کښت د ځمکې په شان دى، څه چې پکې وکرې هغه به تر لاسه کوې!
- کور کې به په ليوني مشهور وي، بيرون به د سرېتوب دعوا کوي، انسان پيدا کيدل اسان خو انسان اوسيدل مشکل دي!
- په ملګرتيا کې د ستورو په شان اوسه چې په رڼا کې ورک وي خو په تياره کې ځان ښکاره کوې!!!

- د قدرت وږي د وږو ليوانو په شان دي ,خپل او پردي نه پيژني!
- يو نيم کس د گل پوښ موټر په شان وي، له بيرون ښکلی خو له داخل بدرنگ وي!
- د پيسو او شتمنۍ په خاطر چا ته چاپلوسي کول او لکۍ ښورول تر ټولو سپک کار دی!
- هيواد کور او مور دی، له دوی غلا له کور او مور څخه غلا ده!
- د بدمرغۍ نيالگی له ناپوهۍ اوبه کيږي او په پوهه وچيږي!
- ژوند امانت دی، له دې امانت سره خيانت دا دی چې يوازې د ځان لپاره ترې گټه واخيستل شي!
- ځينې خلک دومره کينه کښ دي چې، د پلار پرمختگ هم ورته د مرگ خبر وي !
- د غربت د دايمي ورکولو په خاطر د يو چا سره د ډوډۍ پر ځای د يو کتاب مرسته وکړه!
- وخت او حالاتو ځينو کسانو ته شخصيتونه ورکړل خو وخت او حالات به يې ترې اخلي!
- قدرت او شتمني د اصليت وزن کولو ښه ترازو) تله (ده!
- ناپوهان د وسلې په شان دي چې د هر چا لاس ته ولويږي ډزيږي!
- د هيواد حالت بحراني نه ده خو د ځينو خلکو جيبونه او فکرونه بحراني شوي!
- حرکت او تحرک د ځان عادت وگرځوه ,ځکه چې پر ځای ولاړې اوبه هم خوسا کيږي !
- ځينې خلک له ځيرې بدرنگ خو له زړه ښکلي وي او ځينې خلک له ځيرې ښکلي خو له زړه بدرنگ وي!
- د موقف د تر لاسه کولو لپاره د چارواکي ستاينه خجالت او د موقف د نه تر لاسه کولو لپاره د چارواکي غندنه د شخصيت ټيټ حالت دی!
- کلکوالی دا ندی چې ته مات نشې بلکې کلکوالی دا دی چې له ماتې وروسته مبارزې ته دوام ورکړې !
- د انسانيت پر بنسټ هر انسان د مينې وړ دی، خو د مينې پر بنسټ کم خلک د مينې مستحق دي!
- بې حافظې ملت يو جنس په بيلا بيلو نرخونو آخلي!
- که واکمنيدل غواړئ، علميت او معنويت ته مخه کړئ!
- هغوی چې قلفونه ماتولی شي، زړونه هم ماتولی شي، عاطفه او ترحم انساني ځانگړنې دي!
- زمونږ په ټولنه کې ستا استعداد ستا ستر مخالف دی!
- هغه دښمن چې فکراً مو وژني د هغې دښمن څخه ډېر خطرناک دی چې جسما مو وژني!
- چا چې د وخت قدر کړی، وخت د هغوی قدر کړی!

- بې هیلې ژوند د قبر د ژوند سره توپیر نه لري!
- هیڅکله هم کتاب او ملګری,د ظاهري ځیرې له مخې مه غوره کوئ!
- بې فکره خبرې، بې حقیقته قضاوت او بې منطقه بحث مه کوه!
- وخت د ارزښتونو او فرصتونو مور ده!
- بد ملګری د زنګ په شان دی، د روغې اوسپنې په شان، روغ خلک هم له کاره غورځوي!
- کمزوري دا نه ده چې، په څه نه پوهیږو؛کمزوري دا ده چې د ناپوهۍ سره په خپله پوهه ټینګار کوو!
- فکر مه کوه چې ناوخت دی ,ممکن د وخت په همدې ناوخته شیبه کې د ژوند د پرمختګ راز پروت وي!
- دروغجن شخصیت، د ونې د پاڼو په شان زیات عمر نه لري!
- د هر چا ملګری د هیچا ملګری نه دی!!!!
- هغوی چې د خاورې سره خیانت کوي، په حقیقت کې له مور سره خیانت کوي!
- لویدل ماتې نه ده، له لویدو وروسته، د نه پورته کیدو فکر د ماتې په معنا دی!
- ترخه اوسیدل ستونزه نه ده خو، ککړه اوسیدل ستونزه ده!
- ځینې کسان د چینایي مال په شان له قورې ښکلي خو له څرنګوالي بدرنګ وي!
- فکري ړنده ته تیوله نړۍ ړنده ښکاري!
- وړوکی فکر د وړوکي پټي په شان دی چې یوازې د ځان لپاره پکې کښت کیږي!
- هر انسان د خپلې پوهې په اندازه ځوریږي!
- مبارزه په فکر او ارمان ګټل کیږي، هغوی چې ماتیږي د مبارزې لپاره فکر او ارمان نه لري!
- د لمر ګل په شان ثابت اوسه چې یوازې په لمر پسې مخ ګرځوي!
- مونږ په هغو چارواکو کې امن لټوو،کوم چې په بې امنۍ کې خپلې ګټې لټوي!
- په کوم ملت چې سوداګر حاکمان شي، وینه او ارزښتونه یې قیمت له لاسه ورکوي!
- کله به په سر هیواد ساتې او کله به د هیواد لپاره سر ساتې!
- چې دنده په پیسو شوه، غوښه لاس کې د پیشو شوه!
- یا خپله څه وکړه، یا د بل ننګه وکړه خو مخرب مه جوړیږه!
- د انسان پر ځای د خالق پوروړي ښه یو، انسان مو وژني خو خالق مو بخښي!

- هر انسان له خپلو ملګرو رنګ اخلي، لازمه ده چې ربښتيني او اصلي رنګ ته ځان نيږدې شي!
- سپک خلک د پوقانۍ په شان پورته خو درانه خلک د کاڼي په شان ښکته زور کوي !
- رهبريت په خبرو او خوله اسان دی؛ په عمل کې د مليونونو انسانانو رهبري د هرې کاکرۍ کار نه دی!
- د دوو کسانو دمخالفتونو پايله تل دا وي چې؛ دريم مخالف ته د پرمختګ ور پرانيزي!
- ونه د ميوې پر وخت ډېر دوستان لري؛ خو د طوفان او سيلابونو پر وخت ور سره يوازې خپلې ريښې کومک کوي!
- پر ربښتيني سياست ملت؛خو پر دروغجن سياست ځان ساتل کيږي!


## سپين سهار ويناوې



- تر ټولو بد احساس د بې مسووليتۍ احساس ګڼلی شي !
- چې پوهېږې، په کوم ځي کې ځان ناپوه ونيسې، تر ټولو پوه دی !
- بدمرغي يې ګڼه، چې د زړه له تله خندا، په ريش خند، زهرخند او پوزخند بدله شي !
- له ژونده ځکه ډېر خوند واخله چې تمامېدونی دی، نه پاتېدونی !
- اور که څومره هم سرکشه وي، پاتې شوني يې مړې سړې ايرې وي .
- ترڅې چلند دې ښه نکړې، هېڅوک به ستا د خوښې کار پخپله خوښه او لېوالتيا ستا لپاره ونکړي !
- صبر و زغم، تر ظلم و ستم ډېر ښه دی.
- نېکمرغي د هر چا پخپل کور کې دننه ده، احمق دی چې د ګاونډي په باغ کې يې کسي.
- د غوايي له څنګ، د خرۀ له شا او د احمق له هرې خوا په احتياط تېرېږه.
- هغه چې يوازې د نورو تېروتنېويني، خپلې هغه يې پر ملا ليکلې وي .
- د ژوند خوند په ژوند کولو کې دی، ترڅې په همدې سترګه يې ونه کسې، خوند به يې ونه څکې.
- تر ټولو بد تېری، پخپل ځان تېری دی.
- نصيحت؛ هغه چې ځانته ته دې ونشو کړای، هېچاته به يې ونشې کړای .

- له ډېر ستر تاوان وروسته مې زده کړل) څوک چې د پاتې کېدن هوډ نه لري، خوشې کوه يې(!...
- سترګې د هر څه ويلو وړتيا لري.
- که ټول عمر د نورو په غندلو تېر کړو، دومره به سوري سوري شو چې د ستايلو هېڅ ځای به راکې پاتې نشي.
- ياد يې لره !انسانان تېروتنې کوي او موږ انسانان يو.
- که چا بد درسره کول، ته ښېګړه مه هېروه، ځکه ښېګړه ستا د شخصيت برخه ده.
- انسان يوازنی موجود دی چې ونې وهي، کاغذ ترې جوړوي او بيا پرې ليکي" :ونې وژغورئ
- کرکه او کينه د بل چا د وژلو لپاره پخپله زهر خوړل دي .
- تر ټولو ځورونکی رنګ د سپين سترګۍ رنګ دی.
- که غواړې هغه څه ولرې چې تر اوسه يې نه لرې، داسې ښه څه وکړه چې تر اوسه دې نه وي کړي.
- ژوند له سره نشې پيلولی، چېرته چې ولاړ يې له هغه وروسته سم دوام ورکړه.
- خپلو ملګريو ته د خپلو بريو کيسې دومره په زوَر و زېر مکوه چې د هغوی رخه او کينه را و پاروي، بد يې واېسې او کرکه درڅخه وکاندي.
- له ځان سره د بل لوري د همغږي کولو لپاره ډېرو خبرو ته نه، سمو خبرو ته ډېره اړتيا ده.
- له دندې لرې شوي مامور ته دې که لاس ورکړ، ګوتې دې بېرته وشماره.
- اري د قدم پيل کولو په واسطه شروع کيږي .
- ماته تر ټولو سخته شيبه دا وي چې د يو چا وروستی هيله شم خو زه يې پوره کولای نشم .
- د سپيڅلي مينې اصلي رنګ د مور مهرباني ده .
- ښه ميرمن د سړي عمر اوږدوي .
- تر ټولو بې ريا مينه د ماشومانو ده.

## مهتما ګاندي ويناوې




- که کومه ورځ دې دښمن پيدا کړ، نو پوه شه، چې موخې ته په رسېدو کې بريالی يې .
- زما په اند ديموکراسي به هغه وخت ديمواکراسي وي، چې د عدم خشونت پربنسټ جوړه شي، په هغې کې ټول آزاد وي او هرکس د ځان ښوونکی شي، په هغه صورت کې، که موږ په دې باور شو، نو د هندو او مسلمان ترمنځ توپير به هېر کړو او يوازې ځان به هندوستاني ګڼو او د خپلواکۍ د ګډې مبارزې له پاره به مو مبارزه کړې وي.
- که په خپلواک ډول ژوند نه شو کولای، نو بايد مرګ په ورين تندي ومنو .
- که کومه ورځ يې وګواښلې، نو پوه شه، چې ستا پر وړاندې کمزوري دي .
- لويه بريا هغه ده، چې داسې چلند وکړو، چې له هغې نه لا زيات زحمت ايستونکي شو، کوم چې د کار په پيل کې وو .
- که کومه ورځ دې خيانت وليده، نو پوه شه، چې ارزښت دې لوړ دی .
- که په موږ ازادي نه وي ګرانه، نو نه شو کولای، چې د آزادۍ ډوډۍ وخورو او که مو وخوړه، هضمولای يې نه شو .
- که کومه ورځ يې پرې ښودې، نو پوه شپه، چې له تا سره د اوسېدو وړتيا نه لري .
- نړۍ د مار په څېر ده، چې لاس پرې راکش کوې، ښويي، پوست او خوندور دی، خو زهر يې وژونکي وي .
- اووه څيزونه، پرته له اوو نورو وېروونکي دي : له زحمت پرته شمتني .له شخصيت پرته پوهه .له انسانيت پرته علم . له شرافت پرته سياست . له وجدان پرته خوند . له اخلاقو پرته سوداګري . له سرښندنې پرته عبادت .
- نړۍ د نورو له دښمنۍ او کرکې څخه تنګه شوې ده .

- عدم خشونت به هغه وخت وي، چې موږ له هغو کسانو سره مينه وکړو، کوم چې له موږ څخه کرکه لري، پوهېږو چې د مينې په دې ستر قانون باندې عمل کول ډېر ستونزمن کار دی، مگر د سترو کارونو ترسره کول ستونزمن نه دي .
- د هغو کسانو له پاره، چې په ځان کې يې د عدم خشونت فکر روزلی، ټول عالم ورته د يوې کورنۍ په شان ده، نه په زړه کې وېره لري او نه له دوی څخه څوک وېرېږي.
- د خپل ځان قرباني د نورو تر قربانۍ غوره ده .
- د خلکو اسارت او غلامي په خپله په هغوی او د هغوی د زغم، زحمت او د قربانۍ قبلولو په کچې پورې تړلې وي .
- له گناه څخه کرکه کوه، نه له گناهکار څخه .
- د عقيدې اختلاف بايد دښمنۍ ته وانه وړي، که نو زه او ښځه به مې له ټولو ستر دښمنان د خلکو وو .
- څوک چې خپل فکر او حس د مادي شيانو لور ته واړوي، نو ځان ته د پاملرنې حس به يې پياوړی شي او د هوی هوس ښکار به شي، چې دا په خپله يوه نا آرامي ده .
- دا چې وايي له گناه کرکه وکړی، نه له گناهکار څخه، ښه زده کړه ده، مگر بشر يې کم ترسره کوي، ځکه چې د کينې زهر زموږ په زړونو کې خواره دي .
- له نورو نه ملاتړ وکړئ، د مور او پلار په څېر ورسره مينه وکړئ .
- د انسان لومړنی مسؤليت له کمزورو نه ملاتړ او د بشري وجدان نه ټيپي کول دي .
- ډېر داسې خلک ليدل شوي، چې د يوې پټې نېکمرغۍ په لټه کې زرگونه بد مرغمۍ زغمي .
- کولای شئ ما په ځنځيرونو وتړئ، کولای شئ ما شکنجه کړئ، حتی کولای شئ ما له منځه يوسئ، مگر هېڅکله نه شئ کولای، چې زما فکر زنداني کړئ .
- اروپا مسيحي نه ده، ابليس لمانځي .
- کله چې ارزښتونه بدلېږي، نو بدلونونه ارزښتمن کېږي، په هغه نړۍ کې، چې سړي له نه سړيو څخه د ډوډۍ سوال کوي، نو تر دې د روسپيانو ډوډۍ ډېره حلاله ده، ځکه چې هغوی ځان پلورنکي دي، نه وطن پلورنکي .
- له لېوني نه کرکه مه کوئ، د بد کولو لوښي ترې واخلئ .

- غلا يوازې د نورو د شتمنيو پېټولو ته نه وايي، له هغه څه نه ګټه اخيستل، چې موږ په رښتيا ورته اړتيا نه لرو؛ هم غلا ده .
- هېوادنۍ مينه زما د دين او مذهب اوچت پړاو دی .
- مينه تر ټولو ځواکمن واک دی، چې نړۍ يې په خپل اختيار کې لري او په عين حال کې تر ټولو ساده ځواک دی، چې کولای شو پرې فکر وکړو .
- زما درد يوازيتوب نه دی، بلکې د هغه ملت مرګ دی، چې په سوال کولو يې قناعت او په تنبلی يې صبر کړی دی او په موسکا دې هرڅه ته د خدای (ج) د حکمت نوم ورکوي.
- په ياد ولره : زه نبايد هغسې واوسم، چې ته يې غواړې ...
- ما په خپله، خپل ځان جوړ کړی دی . ته يې چې له ما څخه ځان جوړوې، ستا هيلې او نيمګړتياوې دي .
- بريا هغه نه ده، چې هېڅکله ماتې ونه خورې، بلکې هغه ده، چې له هرې ماتې وروسته بېرته په پښو ودرېږې.
- زه کوښښ کوم، چې خلکو ته د خدمت له لارې، خدای (ج) ووينم، ځکه چې پوهېږم الله (ج) نه په جنت او نه په دوزخ کې، بلکې له ټولو انسانانو سره دی .
- حقيقت د هر انسان په زړه کې ځای لري، بايد په لټه کې يې شي، موږ حق نه لرو، چې نور دې ته اړ کړو، چې حقيقت زموږ په شخصي تګلاره کې وګوري .
- د حضرت نبي کريم (ص) خبرې يوازې د مسلمانانو خزانه، نه ده، بلکې په ټول بشريت پورې تړاو لري .
- کله چې ناهيلی کېږم، نو را يادوم، چې د تاريخ په اوږدو تل حقيقت او مينه بريالي شوي دي .
- په پيل کې تا نا ليدلی نيسي، وروسته پرتا ملنډې وهي، بيا له تاسره جګړه کوي، په پای کې ته بريالی کېږې .
- زما ژوند يو څرګند پيغام دی .
- زه هېڅ يوه ګناه له دې ګناه څخه ستره نه ګڼم، چې د خدای (ج) په نوم يو بې ګناه تر سخت فشار لاندې راولي .
- کمزوري کسان هېڅکله نه شي کولای، چې بښنه وکړي، بښنه د پياوړو کسانو ځانګړنه ده .

- داسې ژوند وکړه، چې ښايي سبا ته ومرې، داسې زده کړه وکړه، چې ښايي د تل له پاره ژوند وکړې .
- د ځان موندنې تر ټولو غوره لاره داده، چې ځان د نورو په خدمت کې ورک کړې .
- هماغه بدلون واوسه، چې غواړې په نړۍ کې يې ووينې .
- له يوې سترگې څخه بلې سترگې ته په غوسه کتل، بسنه کوي، تر څو ټوله نړۍ ړنده شي .
- موږ بايد خپل عقل نورو ته ونه سپارو او په غړېدلو سترگو خپله موخه وټاکو، د زور جبر اطاعت ته په پټو سترگو تسليمېدل ډېر زيانمن ختلي، تر زور او ظلم لاندې د يوه محکوم د خلاصون هيله شته، خو د هغه چا ژغورنه ناشونې ده، چې په زړه کې يې له غلامۍ سره مينه را ټوکېدلې وي .
- زه په دې خبره له کچې زيات ډاډه شوم، چې د ژوندانه په هغو ورځو کې يوازې توره نه وه، چې د اسلام له پاره يې ځای گټلی وی، دا د حضرت نبي کريم (ص) د ژوند ساده توب او پر ځان بشپړ باور، د خپلې موخې په اړه ژمنتوب، له ملگرو سره وفاداري، د هغه زړورتيا، د وېرې نه شتون او په خپل کار او هدف کې د الله (ج) بشپړ اطاعت او مننه وه، هو همدغه شيان وو، نه توره، چې هر څه يې د هغه مخې ته راوړل او په ټولو ستونزو او خنډونو يې هغه ته بری وروباښه .
- هېڅ څيز د دې مخه نه شي نيولی، چې خپلو گاونډيانو ته له پولو هاخوا خدمت وکړو. دا پولې هېڅکله، الله (ج) نه دي را منځته کړي .
- رښتينی هنر له شکل سره تړاو نه لري، بلکې له هغه څه سره تړاو لري، کوم چې له هغه نه هاخوا دی . هنری دی، چې وژل کوي او هنر دی چې ژوند ښيي. رښتينی هنر بايد د خوښۍ او نېکمرغۍ منعکس کوونکی او د سپېڅلتيا زېږوونکی وي .
- کېدای شي زه يو نا څيزه او ټيټ شخص واوسم، خو کله چې حقيقت زما په وسيله خبرې کوي، نو ماتې نه منونکی يم .
- هېڅکله خپل وخت، د وريجو دانه او د کاغذ ټوټه بېځايه مه لگوئ، زموږ وخت، موږ پورې تړاو نه لري، بلکې ملت پورې تړلی دی او موږ امانت ساتونکي يو، چې بايد له هغه څخه په ښه توگه گټه واخلو .

## البرت انشټين ويناوې



- زه منم چې اندونه، د انسان په وجود تاثيرات غورځوي.
- هغه ستونزې چې موږ ورسره لاس او ګرېوان يو په هغه طريقه له منځه وړلی نشو په کومه چې پيدا شوې دي.
- تخيل هر څه دي ، تخيل وړاندوينه او د راتلونکې آرزو ګانې دي.
- د يوه منظم او مشترک قدرت په مقابل کې يوازې منظم او مشترک قدرت مقاومت کولی شي.
- دا نو څه معما ده چې ټول مې ښه بولي مگر درک کولی مې نشي.
- که واقعيتونه ستاسې له نظرونو سره همغږي نکوي نو واقعيتونو ته تغير ورکړئ.
- تر هغه وخته چې د زمکې په سر يو ناخوښ کس هم شتون ولري بشر د جدي پرمختگ راز نشي موندی .
- تخيل تر پوهې مهم دی، ځکه پوهه محدوده ده مگر تخيل ټوله نړۍ په خپل ځان کې رانغاړي.
- هڅه مه کوه چې يو بريالی کس وې، بلکې کوښښ وکړه چې يو ارزښتمن کس و اوسې.
- په نړۍ کې ستخت کار د ماliاتو د فلسفې درک پر لاسته راوړنو دی.
- علم هغه وخت ښکلی وي چې د زندگې د اړتياو يا پيسو د لاسته راوړلو لپاره ونه کارول شي.
- پوهيږئ چې ټليفون د يوې اوږدې پشۍ په ښه دی، داسې چې لکۍ يې په نيويارک کې کش کړئ او سر يې په لاس انجلس کې ميو ميو کوي او راډيو هم په همدې شکل.
- کوم مسائل چې زموږ د فعلي فکر په واسطه رامنځته کيږي نشو کولی په همدې فکر يې حل کړای شو .
- زه په شهرت زيات او زيات کم عقل شوم، البته دا يوه نسبي پديده ده.
- مهمه داده چې کله هم له پوښتنو او سوالونو په کرار نشو.
- د انسان لپاره تر فکر کولو پرته بل سخت کار نشته.
- دين له علم پرته ړوند دی او علم پرته له دين گوډ.

- په نړۍ کې هېڅ مستقیمه کرښه نشته بلکې ټولې منحني دي، همدا کرښه چې زموږ په نظر مستقیمه ده که په فضا کې امتداد ورکړل شي وبه ګورئ چې منحني کیږي.
- زه د راتلونکې په اړه فکر نکوم ځکه هغه به په بیړه راشي.
- د ریاضي په برخه کې د هغه ستونزو په اړه مه اندېښمن کیږئ چې لرئ یې ځکه پدې برخه کې زما ستونزې ترتاسې لویې دي
- که مو د ازموینې نومرې کمې شوې مه خپه کېږئ.
- په هغه نړۍ کې چې دېوالونه او دروازې نلري پنجرو ته څه اړتیا ده.
- دوه شیان پای نلري : لومړی لمریز نظام او دویم د بشر ناپوهي مگر د اول په اړه زیات ډاده نه یم.
- زه نه پوهېږم چې په درېیم نړیوال جنګ کې به انسانان د څه په وسیله وجنګېږي خو په څلورم نړیوال جنګ کې به له تیږو او لرګیو کار واخلي.
- که یو کس ووایي چې په ټول ژوند کې له ستونزو سره ندی مخ شوی، نو دا پدې معنا ده چې ده هېڅ کله هم د نوښت فکر ندی کړی.
- لېونتوب یانې یو کار بیا بیا کول او له هغه کار بیا د متفاوتو پایلو د تر لاسه کولو هیله لرل.
- که د انسان د مغزو فعالیت دې ده د معدې دیومیلیونمې برخې په اندازه وای اوس به د ځمکې کرې بل پېژند درلود.
- هغه خواړه چې انسان ته روغتیا ورکوي هغه ندي چې دی یې خوري بلکې هغه دي چې دی یې هضموي.
- علم یوه عجیبه پدیده ده خو پدې شرط چې له هغې د پیسو د پیدا کولو لپاره استفاده ونشي.
- څومره چې یو ملک نظامي وسلې زیاتې جوړې کړي په هماغه اندازه ناامنه کیږي هم.
- نشو کولی چې په یو مهال هم د جنګ مخه ونیسو او هم ورته آماده شو.
- د جنګي وسلو لرل مانا دا چې د جنګ منځ ته راتلل.
- یوازېتوب په ځوانۍ کې غمونکی وي خو چې څومره عمر زیاتیږي خوند پیدا کوي.
- یوازې د هغه کسانو ژوند معنا لري چې د نورو لپاره ژوند کوي.
- ژوند د بایسکل سپرلي ده چې د تعادل ساتلو لپاره یې حرکت اړین دی.
- له پرون زده کړئ، په نن کې ژوند وکړئ او سبا ته هیلمن و اوسئ.

- کله هم د خپل وجدان خلاف کار مکوئ آن که د قانون غوښتنه هم وي.
- د ژوند تراژدي داسې یوه پدیده ده چې یو انسان ژوندی وي خو هغه پکې مړه شي.
- نړۍ د ژوند کولو لپاره یو خطرناک ځای دی، البته د هغه کسانو لپاره چې د شر مخه نیسي نه د هغو لپاره چې شر منځ ته راوړي.
- د ژوند کولو لپاره دوې لارې شته ، یو دا چې هرڅه معجزه وبولې او بل دا چې هېڅ شی معجزه ندي.
- یوازې هغه کس تېروتنه نکوي چې پوښتنې هم نکوي.
- حکمت او عقل داسې څه ندي چې په زدکړو یې ترلاسه کړو، دا پدیدې یوازې په دوامداره هڅو او د ژوند په اوږدو کې تر لاسه کیږي
- هغه کسان چې په وړو او جزوي چارو کې ریښتیاوو ته ژمن ندي په لویو چارو کې هم د اعتماد وړ ندي.
- د خوښۍ یو راز دادی چې له روان ژوند رازي اوسو او د راتلونکې په اړه زیات اندېښمن نشو .یانې خوشاله کس هاغه دی چې په نن کې ژوند وکړي او د راتلونکې په اړه زیات سوچونه ونکړي.
- ولې په ننۍ زمانه کې چې ژوند د امکاناتو په لور روان دی، کار د صنعت پر مټ آسانه او تر پخوا څوچنده زیات... مګر خوشالي بیخي کمه ده.
- ځواب ساده دی : موږ تر اوسه پورې د نني ژوند له امکاناتو معقوله ګټه نه خلو.
- د ټولنیز عتدالت د تامین لپاره هڅه یو با ارزښته کار دی چې کولی شو ترسره یې کړو.
- د ژوند کولو تر ګردو اړین څیزونه هغه ندي چې د لرلو لپاره یې باید پیسې پیدا کړو.
- هر کم عقل کولی شي، پېښې لویې، خطرناکې او پېچلې کړي، خو برعکس د همدې ستونزو لمنځه وړل عقل، نبوغ او پوره جرات غواړي.
- که غواړئ چې ماشومان مو هوښیار وي هغوی ته تخیلي کیسې واوروئ، که غواړي چې ډېر ډېر هوښیار وي نو هغو ته ډېرې تخیلي کیسې واوروئ.
- مطالعه له هغې وروسته چې د کار او زیار سن ته ورسیږي، ذهن له خلاقیت لرې کوي، هغه کسان چې مطالعه زیاته کوي خو له خپل ذهن بیا کمه ګټه اخلي د ټنبلۍ په رنځ اخته کیږي.
- منطق تاسې له Aنه Bته وړي مګر تخیل مو هر ځای ته وړلی شي.
- د یادولو او زده کولو یو راز دادی چې په داسې احساس او خوند در کړل شوې دنده سرته ورسوئ چې وخت ته مو هېڅ پام نه وي.

- دوه شيان دي چې پای نلري، يو نړۍ بل د انسان حماقت مگر د اول په اړه زيات باوري نه يم.
- خلک لرگي په خورا علاقمندۍ ماتوي ځکه چې پايلې يې همغه شېبه ويني.
- داسې کسان بيخي کم دي چې په خپلو سترگو ووينې او په خپلو مغزو وانديږي.
- نشو کولی له انسانيت ناهيلي شو، ځکه موږ خپله هم انسانان يو.
- ناسم چلند کول په ناسم شخصيت بدليږي.
- کله چې خپل محدود يتونه ومنو کولی شو له هغه تېر هم شو.
- که وگړي يوازې د وهلو له ډاره ښه وي او د امتياز آرزو لري نو ډېر د خپگان ځای همدا دی.
- هوښيار سړی يوه مسئله حل کوي خو عقلمن سړی يې په هر اړخ فکر کوي او پايله دا راوزي چې له حل يې تېر شي.
- په نړۍ درې قدرتونه حکومت کوي. ډار. حرص. حماقت.
- هڅه وکړئ چې اهميت پيدا کړئ داسې چې موفقيت مو تعقيب کړي.

## د ارنېستو چګوارا ويناوې



- خپله واوسه، که د چا نه خوښېدې، نه دې خوښېږي، دلته د مجسمه جوړونې کارخانه نه شته .
- ژړل يې، کله چې لېوه وليدل، چې سپې د يوه ټوټه هډوکي له پاره د شپانه لغتي زغمي .
- ژوند کووم، حتا که تر ټولو غوره ځيزونه هم له لاسه ورکړم، ځکه دا ژوند کول دي، چې نور غوره ځيزونه را ته جوړوي، پرېږدئ هرڅه چې له لاسه ځي لاړ دې شي، زه هغه غواړم، چې په عذر او زاريو باندې ککړ نه وي حتا ژوند .
- هڅه يې وکړه، چې موږ خښ کړي، نا خبره له دې چې موږ تخم وو .
- د يوه انسان د ژوندي يا مړه اوسېدلو د تشخيص له پاره د هغه عزت ته وګورئ، نه يې نبض ته .
- استعمار په ماتې باندې محکوم دی .
- بې رحمه مشر بدلېږي، ترڅو بل مشر بې رحمه شي .
- انقلاب منه نه ده، چې له پخېدلو وروسته غورځېږي، بايد موږ يې غورځېدلو ته اړ کړو .
- که چېرې د هرې بې عدالتۍ په وړاندې له ډېرې غوسې څخه رېږدې، نو پوه شه، چې يو زما له ملګرو څخه يې ( زما په ځېر يې ) .
- سکوت هغه استدلال دی، چې بله مانا ورکوي .
- موږ نبايد خلکو ته ورشو او ووايو: موږ راغلي يو، ترڅو تاسو تر خپلو وزرونو لاندې ونيسو او بېوزله پالنه وکړو يا خپله پوهه تاسو ته در وښايو، له لومړنيو مسايلو څخه ستاسو فرهنګ او ناپوهي او ستاسو تېروتنې تاسو ته در په ګوته کړو، پر ځای يې بايد په ځېرنه ورکوونکي ذهن او کمينه روح سره، د خلکو د علم او پوهې له سترې سر چينې څخه ګټه واخلو .
- په يوه انقلاب کې انسان يا بريالی کېږي او يا هم مري، که چېرې هغه انقلاب رښتينی وي .
- هغه ورځ زما اختر دی، چې د بزګر ( دهقان ) د يوه کال زيار او زحمت د پاچا د يوې ماښامنۍ لګښت نه وي .

- د ښار خلکو د آزادۍ له پاره تابوت او د مينې له پاره پوله جوړه کړه، نا خبره له دې چې نه آزادي په تابوت کې ځايېږي او نه هم مينه پوله پېژني .
- خوشاله اوسېدل يوازې هغه غچ دی، چې انسان کولای شي، له ژوند څخه يې واخلي .
- لوی څارنوال : په السالوادور کې دې څه کول ؟ چگوارا : بدن ته مې لمر ورکاوه .
- لوی څارنوال : ودانۍ دې ولې ونړوله ؟ چگوارا : زما د لمر مخه يې نيولې وه .
- د انسانانو له نظره سپيان ګټور او وفادار حيوانات دي، خو د لېوانو له نظره سپيان هغه لېوان دي، چې غلامۍ ته يې غاړه ايښې، ترڅو آرامه او هوسا ژوند وکړي .
- آزادوونکی نه يم، آزاد کوونکی شتون نه لري . دا خلک دي، چې خپل ځان په خپله آزادوي .
- هغه مرغۍ، چې له مه وېرېږه، څخه ووېرېږي، له لوږې مري .
- لاس مې د ګل بوی ورکاوه، زه يې د ګلانو د را شکولو په جرم محکوم کړم، خو هيچا فکر ونه کړ، چې ښايي ما د ګل کوم نيالګی کېنولی وي .
- آزادۍ ته د رسېدو له پاره، د يوه انسان رسالت په کتار کې درېدل نه، بلکې د کتار له منځه وړل دي .
- يو رښتينی انقلابي په هغه ځای کې خدمت کوي، چې ورته اړتيا وي .
- پوهېږم، په هغه شېبه کې چې د حاکم ستر روح ګوزار ورکوي، ترڅو ټول بشريت په دوه مخالفو ډلو ووېشي، زه به د عادي خلکو تر څنګ يم . راتلونکې ته هيله من کېدل، غم وينځي .
- د استثمار د درجې په لوړېدو سره، هره شېبه د انقلاب حس ځواکمن کېږي .
- کله چې وږي ماشومانو ته خواړه ورکوم، وايي ښه سړی دی، خو کله چې پوښتنه کووم، چې ولې وږي دي ؟ وايي : کمونيست دی .
- موږ نه شو کولای، د ژوند کولو له پاره له کوم څه څخه ډاډه واوسو، خو دا چې چمتو واوسو د هغه له پاره ومرو.
- آزادي تر ټولو ډېره د هغو کسانو له خوا ګوزار خوري، چې هغې ته د رسېدو له پاره لنډه لار ټاکي .
- که چېرې د نړيوالې سولې غوښتونکي يو، ګډ سوله ايز ژوند نبايد په ځواکمنو هېوادونو پورې محدود شي .

## د افلاتون ويناوې



- عقل د الله تعالی لومړی او تر ټولو لوی نعمت دی، ورسته د عقل څخه خاکسري او د خپل روح اعتدال یا برابري ده، که دغه دوه نعمته له شجاعت سره یو ځای شي چې څلورم نعمت دی، نو دریم نعمت یعنې عدالت ترې جوړیږي.
- د ښو او نیکو اخلاقو خاوندان په دې فکر کې وي چې ښه نوم ورڅخه په یاد پاتې شي.
- تقوا او پرهیزګاري خپل عادت وګرزوئ ځکه چې دا د آخرت توښه او د دنیا بریالیتوب دی.
- د انسان لپاره نیک اخلاق او فضیلت د لویو نعمتونو څخه دی، له بدکاره خلکو څخه لرې اوسئ او هغوی ته مه نیږدې کیږئ، که چیرې دغه لاره خپله کړئ او له ګناه څخه ځان لرې وساتئ نو بیا مرګ ستاسو لپاره له ژوند څخه بهتره ندي.
- فضیلت عبارت دی له: له لوړ مثال سره د انسان نږدې والی یعنې له خدای ج سره د انسان نږدېوالی.
- د ځمکې پر مخ او ترې لاندې ټول سره زر د یوه فضیلت په اندازه ارزښت نلري.
- له فضایلو څخه باید نه په وېره او زیات ورته هیله من شو بلکې د خپل اطمینان لپاره هغه حاصل کړو ځکه د روح ښایست او صحت پر هغه پورې تړلی دی، فضیلت د بریالیتوب او هوساینې د روح سرچینه ده.
- پر خپل ځان بریالیتوب بهترینه کامیابي ده.
- ځوک چې د ځان ښایست د روح له فضیلت څخه بهتره ګڼي خپل روح ته سپکاوی کوي، خپل روح ته سپکاوی روا ګڼي، ځکه په واقعت کې ځان له روح څخه ارزښتمن ګڼي، په داسې حال کې چې هغه څه پر ځمکه پیدا کیږي هېڅکه له آسماني څېزونو څخه لوړ کېدای نشي، هغه ځوک چې نه پوهیږي روح یو اسماني موجود دی، پدې هم نه پوهیږي چې خپل روح له یو واړه یا ناچیزه څیز سره برابروي.
- ډیر امیدونه افکار بدلوي.

- په شهوت او هوس باندې برياليتوب د نيکبختۍ لامل ګرزي، خو د هغه په مقابل کې ماتې د بدبختۍ سبب کيږي.
- پوهه او هوښياري بهترينې همغږۍ دي او تنها هغه څوک له دې څخه برخمن کيدای شي چې په هر قدم کې د عقل له قوانينو څخه پيروي وکړي، هغه څوک چې له دغه خدايي ورکړې څخه بې برخې وي هم خپل کور او هم ټولنه د تباهۍ لور ته بيايي.
- د انسان ښايست درې شيان دي: علم، محبت او ازادي.
- دنيا ته نه راتلل له ناپوهۍ څخه بهتره دي ځکه ناپوهۍ د ټولو بدبختيو سرچينه ده.
- عوام شتمن خلک خوښوي او خاص خلک عالمان او پوه خلک خوښوي.
- کوم خوند چې په علم او پوهه کې دی بې تکلُفه دی او په بل څه کې نشته.
- د خلکو لپاره يوازينۍ او ښه لارښود پوهه، مثبت فکر او ښه تدبير دی.
- د لارښود او پلان پرته د ډيرو معلوماتو لاسته راوړل د مطلقې ناپوهۍ څخه ډېر زيانمن دي.
- په نړۍ کې دوې قوې (توره او تدبير) شتون لري چې ډېری وخت تدبير په توره باندې غالب وي.
- چې د کاميابۍ درته مخه شي هر څه ښه دي او که د ناکامۍ درته مخه شي نو هر څه بد دي.
- که ورځنی کاروبار دې زيانمن شي نو مه ناهيلی کيږه، ځکه چې لمر هم د ورځې په آخر کې لويږي او د بلې ورځې پر سهار بېرته راپورته کيږي.
- د بوډايۍ د ورځو لپاره په ځوانۍ کې شمع بله کړه.
- د ژوند په قدر ځان پوه کړئ، بې ځايه وخت مه ضايع کوئ.
- په ژوند کې بې حرکته او ساکن پاتې کيدل تدريجي مرګ دی.
- که په هر پسرلي کې مو له تير پسرلي څخه پرمختګ نه و کړی نو وخت مو بې ځايه تير کړی.
- د ضرورت لپاره نړۍ ته راغلي يو په حيرت کې ژوند کوو او په تکرار سره به له دې نړۍ ځو.
- هر څوک چې د نورو د نيکمرغۍ غوښتونکي وي. لرې نده چې خپله به يې هم نيکمرغي په نصيب شي.
- خوشحاله زړه، بيداره بخت او روغ صحت لويه نيکمرغي ده.

- د نیکمرغۍ لاسته راوړلو لپاره باید نیک اخلاق پیاوړي او د بدو اخلاقو سره مبارزه وکړو، حکومت د یو فرد په شان دی او دنده یې د اخلاقي فضایلو په دایره کې د افرادو روزل دی. د کس له نیکمرغۍ څخه د ټولنې نیکمرغي په څو ځله غوره ده.
- له اخلاقي پلوه یو شخص باید داسې وځلیږي څو تر څنګ یې وتوانیږي د ټولنې یو بشپړ او ګټور غړی تمام شي.
- تر هغه پورې یو ملت نه شي کولای پیاوړی واوسي تر څو په واحد ذات باندې اعتقاد ونلري.
- هغه کسان چې عاقل او پوه دي، سربیره په دې دوی توانیدلي دي چې له خپلې پوهې د ټولنې نور خلک برخمن کړي، دوی ته باید ټولنه د قدر په سترګه وګوري، او هغه کسان باید په دوهم قطار کې حساب شي چې غواړي خپله پوهه ټولنې ته انتقال کړي خو په دې چاره ندي توانیدلي او په دریم قدم کې هغه کسان چې خپله پوهه له ټولنې دریغوي بایده وپوهول شي.
- دوستي په هغه ټولنه کې پیدا کیږي چې ظلم او کبر پکې ډېر کم وي.
- که چیرې په ټولنه کې ازادي، همغږي او روښنفکري نه وي، په ټولنه کې نیکمرغي نه راځي.
- د نیکمرغۍ لوی شرط دا دی چې انسان نه په چا ظلم وکړي او نه د چا ظلم ته سر ټیټ کړي، له ظلم څخه ځان ساتل ستونزمن ندي، خو د داسې وړتیا لاس ته راوړل چې انسان د هر ډول ظلم له تحمُل څخه خوندي وساتي ډېر ستونزمن کار دی، داسې وړتیا یوازې هغه کسان لرلای شي چې بشري فضیلت یې د بشپړوالي درجې ته رسېدلای وي.
- یوازې عدالت دی چې نیکمرغي منځ ته راوړي.
- تر ټولو لویه بې عدالتي داده چې عادل وبلل شې په داسې حال کې چې عادل نه وې.
- بهتره ده چې په ټولنه کې ټولې ښځې له نارینوو سره همکاري وکړي، له دې نه بغیر د ټولنې یو اړخ فلج دی او که چیرې نر او ښځه دواړه اوږه په اوږه کار وکړي نو د ټولنې هڅه به دوه برابره شي.
- د هر کار پیل د هغه کار له ډېرو مهمو برخو څخه دی په ځانګړې توګه هغه مهال چې دا د یوې نوې او حساسې موضوع پیل وي، دا هغه وخت چې د انسان شخصیت نوی راڅرګند شوی وي او مطلوب احساسات یې هم ګټې اخیستنې ته آماده وي.
- هیڅ وخت هغه څوک مه ناهیلی کوئ چې په آرامه او ورو پرمختګ کوي.

- په کار کولو کې ډېر تیزوالی مه کوئ ښه والي يې غواړئ، ځکه چې د کار په پای کې يې سرعت نه بلکه ښه والی يې معلومیږي.
- له دې څخه چې یو لوی کار په نیمګړي ډول پای ته ورسیږي، غوره دا ده چې یو کوچنی کار په غور او دقت سره تر سره شي.
- د یو کار ربښتینی پای دا نه دی چې شخص هغه په بشپړ ډول پای ته ورسوي او یا هم د یو کار بنسټ کیږدي، بلکې هغه وخت کولای شي هغه کار بشپړ وبولي چې د هغو د دوام او ساتنې توکي برابر کړي، پرته له دې هغه کار نیمه بشپړ بلل کیږي.
- د یوې ډندې سرته رسول، ویښ وجدان، هوښیار زړه او باطني علاقه غواړي.
- که څوک غواړي چې غوره ژوند وکړي، باید ربښتینولۍ ته نږدې شي ځکه دغه مقام ته له رسیدلو وروسته کولای شي د دنیا له غم څخه لاس په سر شي.
- لوی شخص هغه دی چې په خپله تګلاره او د نورو په کړنو کې ربښتینولي له خپل ځانه، نورو کسانو او له ټولو شتو څخه په څو ځله غوره وګڼي، له دې امله هر څوک باید له ځان غوښتنې څخه ځان وساتي او خپل زړه تر هغو کسانو پورې وتړي چې له هغه څخه غوره وي او باید هوښیار اوسي چې په دې برخه کې کوم بې ځایه خجالت يې له دغه کار څخه منع نه کړي.
- یوازې هغه کسان د دې وړ دي څو باور پرې وشي چې له حقیقت سره مینه لري او ریښتیني دي، هغه څوک چې د پوهاوي ترڅنګ دروغ وايي له وفا څخه پردي دي، هغه کسان چې په ناپوهۍ سره يې دروغ خوښیږي بې عقل دي، او له دې دواړو څخه یو يې هم نیکمرغۍ ته نه رسیږي؛ ځکه بې وفا او بې عقل دواړه نه شي کولای غوره دوستان پیدا کړي او د وخت په تیریدلو سره پوهیږي چې د ژوند په سختو شرایطو (بوډايۍ) کې به یوازې پاتې کیږي، عامه خبر ده که نوموړی خپلوان او زامن ولري او یا نه.
- قانون ایښوودونکی باید تل په دې هڅه کې وي څو قوانین يې نور کسان د انسانیت غوره لارې ته رهبري کړي.
- په قضاوت او پریکړه کې باید درې څیزونه لرې واوسي: هوس، کینه او قدرت.
- تل باید قدرت داسې کسانو ته وسپارل شي چې د هغه علاقمند نه وي.
- طبعیت بشر ته ښکلا وربښي او ټولنه هغه د فساد لوري ته بیايي.

- روغتيا، ښکلا، وړتيا، شته او نور ټول هغه شيان چې ښه بلل کيږي په هماغه کچه چې د ښو کسانو له خوا د خير په لاره کې لګول کيږي په هماغه اندازه د بدو کسانو لخوا د شر لپاره کاريدلای شي.
- نورو ته ضرر رسول آسانه دي ولې ګټور تماميدل د هر چا له وسه نه کيږي.
- هر هغه څوک چې د ګناه مرتکب نه شي د ستاينې وړ دي ولې هغه چې نور هم د ګناه له ارتکاب څخه وژغوري په څو ځله له پورته کسانو څخه غوره دي.
- پټه غلا د پستۍ نښه ده او ښکاره غلا له د بې شرمۍ او بې نزاکتۍ زېږنده.
- په آينه کې وګوره، که ښايسته ځواني ولرې نو داسې کارونه وکړه چې د ښايست لپاره دې په درد خور وي او که ښايسته نه وې نو داسې کار مه کوه چې په بدرنګۍ کې دې زياتوالی راولي.
- خلک په کړنو و آزمويئ نه په خبرو.
- که غواړې د يو چا خصلت وپيژنې نو له ورسره مشوره وکړه تر څو د هغه له عدل، خير او شر سره بلد شې.
- په خپله وعده باندې وفا وکړه څو د دوو ښېګڼو څښتن شې؛ ښېګڼه او رښتينولي.
- ترحُم يوازې د ظالمانو سره مناسب دی چې د روح ناروغي يې لا تر دې دمه د معالجې وړ ده، د داسې کسانو سره بايد د مهربانۍ له مخې عمل وشي خو هغه کسان چې په ظلم کې تر ستوني پورې غرق وي بايد له ترحُم څخه ورسره کار وانخيستل شي.
- نيکه روزنه هغه ده چې عادل او وړ ذوات رامېنځ ته کړي، روزنه يوه لويه پيرزوينه ده چې يوازې غوره کسان ورڅخه برخمن دي. هغه کسان چې له دغې پيرزوينې څخه برخمن نه دي خو ورڅخه ګټه اخيستل يې ورته شوني وي، بايد ټول عمر د دغې کمۍ په پټې کولو کې تير کړي.
- هغه کس چې په انتقاد اوريدلو نه غوسه کيږي او د هوښيارانو خبرې په ورين تندي اوري، شونې ده چې په ډيرو ستونزمنو اوقاتو کې د حل لاره ومومي.

## د برایان تریسي ویناوې




- له خطره پرته ګټه کول، له خطره پرته تجربه کول، له هڅې پرته مکافات اخیستل، دې ته پاتې کېږي، پرته له دې چې وزېږېږئ، د ژوند کولو تمه لرئ .
- پر ځای د دې چې پلورونکی واوسې، یو زړه خوږی مشاور واوسه، هغه مهال پلور خپله را منځته کېږي .
- تاسو د یوه وینا کوونکي په توګه دنده لرئ، چې اورېدونکي وهڅوئ، چې د مخکې په پرتله په خپل فکر کولو کې بدلون را منځته کړي او ستاسو د خوښې وړ چلند ترسره کړي
- ستاسو د ژوند څرنګوالی، له وخت څخه ستاسو د غوره ګټه اخیستنې د مدیریت له څرنګوالي سره تړاو لري .
- په ځان باندې باور د یوه فرد تر ټولو په زړه پورې ځانګړتیا ده؛ مګر یو کس څنګه کولای شي، چې ستاسو په وجود کې ستر والی وویني، چې مخکې مو خپله نه وي لیدلی ؟
- که کوم کار چې دم ګړۍ یې ترسره کوئ، تاسو د خپله موخې لوري ته نه نږدې کوي، نو له خپلې موخې څخه ستاسو د لرې کولو په حال کې دی .
- بریالي کسان تل د هغې موکې په لټه کې دي، ترڅو له نورو سره مرسته وکړي او ناکام کسان تل دا پوښتنه کوي، چې ماته څه را رسېږي ؟!
- زموږ تر ټولو ارزښتمنه شتمني د ګټې ترلاسه کولو وړتیا ده، نه هغه پیسې چې ترلاسه کوو یې . وړتیا له منځه نه ځي، مګر ښایي پیسې او شتمني څو څو ځله له لاسه لاړې شي .
- د انسان وړتیا دومره زیاته ده، چې کولای شي، سل هم مهالي ژوندونه ولري . موږ کولای شو هر څه زده کړو او په هرڅه باندې پوه شو .
- روزنه د بریا کیلي ده، مګر دا چې سخته او ډېر وخت ته اړتیا لري، نو ډېری انسانان لټان دي او زده کړې ته ارزښت نه ورکوي .
- نه یوازې نن باید هوښیارانه کار وکړو، بلکې باید هوښیارانه او سخت کار وکړو، ترڅو شتمني او بریا مو په برخه شي .

- په ژوند کې د کلمو ارزښت ډېر مهم دی، ښې کلمې غوره سوچونه را منځته کوي .
- بریالي کسان د حل په لارو تمرکز کوي، مگر منځني کسان د هغه چا په اړه فکر کوي، کوم چې ستونزه يې را منځته کړې ده .
- گټونکي هغه کسان دي، چې اوږد فکر کوي او منځني کسان لنډ او سطحي فکر کوي .
- بریالي کسان ستر او سخت کارونه ترسره کوي، مگر منځني کسان د هوسا او عادي کارونو په لټه کې دي .
- موږ هر يو بايد شل کلنه نقشه ولرو او د اقتصادي ستونزو په اړه د فکر کولو پر ځای، خپلو موخو ته د رسېدو له پاره کوټلي گامونه پورته کړو .
- هغه کسان چې مالي مهارتونه لري بریالي دي، تاسو بايد په ورځ کې لږ تر لږه د اقتصاد او پانگونې په اړه دوه ساعته مطالعه وکړئ .
- د ډېری برياوو راز پشتکار او پايښت دی، بايد له ځان سره ژمنه وکړې، چې هېڅکله به نه شاته کېږې، ترڅو خپلو موخو ته ورسېږې .
- په ځان باندې باور بايد دومره لوړ وي، چې هېڅ څيز يې مخه ونه شي نيولای .
- د بریالي پلور له پاره بايد د اړيکو او ارتباطاتو شمېر زيات کړئ .
- د نه اورېدو له امله مه خواشيني کېږئ، نه يانې پيسې .
- هغه کسان چې ډېرې نه گانې تر لاسه کوي، ډېرې هو گانې هم اوري .
- بریالي پلورونکي په خپل محصول، کار او شرکت باندې مين دي .
- يوازې موخه دا نه ده، چې پلور وکړې، بلکې په پيل کې بايد وگورې، چې دا مشتري ستا محصول ته اړتيا لري او که نه .
- په پلور کې بايد لومړی اعتماد جوړونه وکړئ .
- ننني ټاکنې ستاسو د راتلونکي ژوند کيفيت جوړوي . تېر پرېږدئ او د خپلې راتلونکې د جوړونې په اړه فکر وکړئ .
- موږ بايد بدلون وکړو، که چېرې بدلون ونه کړو، نو د ژوند کنټرول به مو له لاسه وتلی وي .
- د راتلونکې د تسخير له پاره، بايد له اوسنيو خوندونو څخه لاس واخلو .
- له اصلي يونلور څخه کرېدل، زموږ د ماتې تر ټولو ستر لامل دی .

- کوچني، ساده او هوسا کارونه مه ترسره کوئ، ځکه چې ورو ورو ورسره روږدي کېږئ . له سختو او سترو کارونو ښخه ګټه واخلئ .
- بريالي کسان هغه کارونه ترسره کوي، چې د پايلو پوتناشيل يې ډېر لوړ وي .
- د ټولو کارونو له پاره تل طرحه ولرئ، تر څو وکولای شئ، خپل اقدامونه په چټک ډول ترسره کړئ .
- په کار کې د بريا له پاره تر ټولو غوره تګلاره داده، چې خپل افکار د کاغذ پرمخ وليکئ .
- که چېرې يو عادي انسان وتوانېږي، په خپل ځان کې دا عادت را منځته کړي، چې خپل کارونه په واضح ډول د لومړيتوب له مخې جدول بندي کړي او مهم کارونه په چټک ډول ترسره کړي، کولای شي له يوه نابغه ښخه، چې ډېرې خبرې کوي او غوره نقشې جوړوي، مگر لږ کار کوي، مخکې شي .
- د کاغذ پرمخ فکر وکړئ ! تل د لېست له مخې کار وکړئ . په دې ترتيب خپله به هم حيران شئ، چې کارونه مو څومره ډېر شوي دي .
- هغه څه چې کولای شي، له تاسو سره ډېره زياته مرسته وکړي، هر څه چې وي، د خپلې موخې په توګه يې په پام کې ونيسئ، د ترلاسه کولو له پاره يې طرحه جوړه کړئ او پرته له ځنډه په خپلې طرحې باندې کار پيل کړئ
- د هر کار له پيل ښخه مخکې، له ځانه وپوښتئ : د دې کار ترسره کول يا نه ترسره کول به زما په ژوند باندې اوږد مهالی اغېز ولري ؟
- لاس په کار شئ ! همدا نن تر ټولو مهم کار يا پروژه چې بايد بشپړه شي وټاکئ او پرته له ځنډه کار پيل کړئ.
- ستونزې موږ نه شي درولای، بلکې روزنه راکوي .
- ټلويزيون مه ګورئ او هغه وخت خپلې کورنۍ، مطالعې، ورزش او د هغه کار ترسره کولو ته ورکړئ، چې د ستاسو د ژوند له پرمختګ سره مرسته کوي
- هره ورځ خپل ځان ته ووايئ : يوازې نن چمتو کېږم او خپله ورځ په سخت کار سره پيلوم له هغه اغېز ښخه چې دا تګلاره يې ستاسو په ژوند باندې ښندي، ډېر به حيران شئ .
- که چېرې دوه مهم کارونه په مخکې لرئ، لومړی هغه کار چې تر ټولو ستر، سخت او مهم وي ترسره يې کړئ، ځان موظف کړئ، چې پرته له ځنډه لاس په کار شئ او دومره استقامت وکړئ ، تر څو کار پای ته ورسوئ، مخکې تر دې چې د بل کار په ترسره کولو لاس پورې کړئ .

- د خپلو عادتونو، خوب او خوراک د انرژۍ کچه په ځير سره وڅېړئ، د خپلې انرژۍ او تندرستۍ د کچې د لوړولو له پاره خپله هوډ وکړئ او لاندې پوښتنو ته ځواب ورکړئ : له خپلو بدني فعاليتونو څخه کوم يو يې زيات کړم ؟:له خپلو بدني فعاليتونو څخه کوم يو يې کم کړم ؟
- د دې له پاره، چې يو ښه ملګری ولرئ، يو ښه ملګری واوسئ .
- که چېرې غواړئ، چې په نورو باندې اغېز وښندئ، تاسو هم بايد له نورو څخه اغېزمن شئ .
- په ژوند کې هر پرمختګ په يوه فکر پيلېږي .
- د هر تصميم په اړه چې نيسئ يې يو احتمال ورکړئ، چې ښايي ماتې هم وخورئ، نو وړاند وينه وکړئ، چې په دې صورت کې څه کول اړين دي ؟ .
- د دې له پاره چې ګټه مو زياته شي، ډېر څه زده کړئ .
- د وخت مديريت يوه وسيله ده، چې کولای شي تاسو له هغه ځای څخه چې یاستئ، هغه ځای ته چې غواړئ واوسئ ورسوي .
- ننني بريالي کسان هغه دي، چې له خپلو رقيبانو څخه ډېر پوهېږي.

## د بنجامين فرانكلين يناوې




- وړی د خپلې خښتې د مړولو په کړاو اخته دی او شتمن د خښتې له درده ځورېږي .
- ستاسو رښتينی ژوند هغه مهال دی، چې د هغه چا له پاره يو کار ترسره کړئ، چې ستاسو د مينې د جبران توان ونه لري .
- مه هېروئ، چې نه يوازې بايد په سم ځای کې سمه خبره وکړئ، بلکې ستونزمنه داده، چې په شکمن ځای کې د خپلې ژبې مخه ونيسئ او نا سمه خبره ونه کړئ .
- څوک چې د خپل ځان د ساتلو له پاره له آزادۍ نه تېر شي، هغه د آزادۍ او سلامتۍ حق نه لري .
- که چېرې غواړې چې له مرگ وروسته هېر نه شې، يا داسې څه وليکه چې د لوستلو وړ وي او يا هم داسې کار وکړه چې په ليکلو وارزي
- څوک چې له هيلو سره ژوند کوي، د مرگ او لوږې له خطر سره مخامخ دی .
- لوږه د کارگر کورته گوري، خو د ورننوتلو زړه نه کوي .
- د گټې يار او سيوری، تر هغې چې لمر ځلېږي، شاوخوا ليدل کېږي .
- هغومره پيسې چې پر جگړو لگېږي، که څمکه پرې وپېرودل شي، تر هغو ځمکو چې په جگړو او وينو تويولو يې لاس ته راوړي، ارزانه پرېوځي .
- مينه او ساړه نه پټېږي .
- درې څيزونه ډېر سخت دي : فولاد، الماس او ځان پېژندنه .
- زوی ته چې دې کله وغوښتل ښځه وکړه، خو لور ته دې چې کله وکړای شول مېړه کوه .
- هغه څوک چې د هيلو پر بنسټ ژوند کوي، نو له دنيا څخه به روژه تي لاړ شي .
- هغه څوک چې په هيلو ژوندی دی، له لوږې مري .
- نور نو يو بې ماغزو مردار خښتی، چې د پلار و نيکه يا خپلې غلا او جنايت له کبله شتمن شوی؛ پر نورو وياړ نه شي پلورلای .

- قناعت هغه کیمیا ده، چې هر شي ته ور ولګېږي، هغه طلا کېږي .
- که چېرې انسان خپله پانګه په خپله بټوه کې نه، بلکې په خپلو ماغزو کې وساتي، نو هېڅوک نه شي کولای چې ترې غلا یې کړي .
- د جګړې په رنګو، ویجاړو او تاوان د جګړې له پای ته رسېدو څخه وروسته پوهېږو او د زور له مخې یې زغمو.
- هوښیار څوک دی ؟ هغه څوک چې له ټولو زده کړه کوي .
- د حق خبره په تاسو ښه اغېزه کوي، که څه هم هغه نه منئ .
- شتمني هغه نه ده چې لرې یې، بلکې شتمنې هغه ده، چې ورسره خوشاله واوسې .
- څوک چې خپلې هیلې د تنخوا اخیستلو له پاره قربان کړي، ښایي له لوږې مړ شي .
- خپلو دښمنانو سره مینه وکړئ، ځکه چې هغوی تاسو ته ستاسو کمزوري ټکي در په ګوته کوي .
- څوک توانمند دی ؟ هغه څوک چې په خپله برخه خوشاله وي .
- واده د کلا بند شوي ښار په څېر دی، هغه کسان چې په ښار کې دننه دي، هڅه کوي چې ترې ووځي او هغه کسان چې ترې بهر دي، کوښښ کوي چې ور دننه شي .
- د یوې نجلۍ د عیبونو د موندلو له پاره، د دوستانو په مخکې یې د هغې ستاینه وکړئ.
- انسان کولای شي دوه دقیقې پرته له هوا، دوه اوونۍ پرته له اوبو، درې اوونۍ پرته له خوړو او یو عمر پرته له پیسو ژوند تېر کړي، مګر یوه شېبه هم پرته له غور او فکر څخه ژوند نه شي تېرولای
- پنبه له اور او ځوان له قمار څخه لرې وساتئ .
- کله چې یو ناوړه څیز خورې پکار ده، چې د هغه د پوره کولو له پاره دوه نور شیان تیار کړې، نو غوره به دا وي، چې د لومړني څیز د هوس نه ځان وساتې، ترڅو په بل اخته نه شې .
- له کوچنیو او غیر ضروري لګښتونو څخه ډډه وکړئ، ځکه یو کوچنی سوری د یوې سترې کښتۍ د ډوبېدو سبب کېدای شي .
- که غواړې چې د پیسو په ربښتیني ارزښت پوه شې، نو له خپلوانو څخه دې پور وغواړه .
- په کار کې بې نظمي له هغه څخه تر نا خبرۍ ډېره بده ده، د ژوند په کارونو کې باید په ځان باندې باور ولرو او بس .
- د ژوند په ټولو پړاوونو کې د بریا اصلي شرطونه درې دي : اول پیسې دویم پیسې دریم پیسې .

- د خاورو لاندې د ویده کېدلو له پاره کافي وخت لرو، که چېرې وخت تر ټولو ګران بیه څیز دی، نو بېځایه تېرول یې تر ټولو بد کار دی، ځکه وخت چې له لاسه لاړشي بېرته نه راګرځي، هېځکله په دې ګومان مه کېنئ، چې کافي وخت لرئ. په عمل کې به یې ووینئ، چې وخت تل لنډ او ناڅیز دی .
- لکه څرنګه چې په نړۍ کې بده سوله نه ده لیدل شوې، نو ښه جګړه هم نه ده پېښه شوې .
- که چېرې له تاسو سره مینه کېږي، نو مینه وکړئ او د دې مینې وړ واوسئ .
- کوښښ، زیار، کار، هلې ځلې او منځلاري د انسان له پاره نېکمرغي راوړي .
- تجربې ماته ثابته کړې ده، چې د څلیریشت ساعتونو په اوږدو کې، داسې څوک نه شته، چې لږ تر لږه د پنځو دقیقو له پاره په حماقت اخته نه شي . پوه او نېکمرغه هغه څوک دی، چې پرېښږدي دا حماقت له دې کچې څخه زیات شي .
- آیا ژوند دې خوښېږي ؟ که داسې ده، نو وخت مه ضایع کوه، ځکه چې ژوند د وخت له مادې څخه جوړ شوی دی.
- له طلا څخه د کوم څیز ارزښت لوړ دی ؟ الماس . کوم څیز له الماسو څخه ګران بیه دی ؟ اراده .
- په دې دنیا کې له مال او مرګ پرته نور څه نه شته .
- ژر ویده کېدل او ژر پاڅېدل، انسان روغ، شتمن او پوه کوي .
- که چېرې غواړې راز له دښمنانو پټ وساتې، نو هغه راز هېځکله خپلو دوستانو ته هم مه ښکاره کوه .
- څوک چې شته نه لري، خپل ځان لري .
- د شتمن کېدو لاره ډېره آسانه ده، یوازې دوه کلمې ورسره تړاو لري، یو کار او بل پس انداز .
- په یوې موسکا د انسان پرمخ ټولې دروازې پرانیستل کېږي .
- مخکې تر دې، چې په هوی هوس پسې لاړ شې، نو د خپلو پیسو بټوې ته وګوره .
- کوچنی دښمن شتون نه لري .
- هغه څه چې په غوسه پیل شي، په شرم پای ته رسېږي .
- که چېرې بدلونونو ته د پای ټکی کېږدئ، نو خپل ژوند به مو د پای ټکی ایښی وي .

## د بوذر جمهر ويناوې



- که چېرې هيله من يې، چې درد او کړاو دې ښه او غوره پايله ولري، نو هېڅکله د ښوونکو خبرې خوارې او بې گټې مه گڼه او له فرمان څخه يې سر غړونه مه کوه .
- په ډېرو خبرو خپل درنښت له منځه مه وړه .
- د انسان له پاره تر ناپوه دوست، پوه دښمن ډېر غوره دی .
- د نړۍ له زړه ورو او د دښتو له ځيرې کوونکو حيواناتو سره مخامخ شوم، خو يو يې هم د بد ملگري په شان په ما بريالی نه شو .
- ښکلی او د ښې راتلونکې لرونکی کس هغه څوک دی، چې عادل، نېک نومی او په خپل چال چلند کې د غوره تگ لارې لرونکی وي .
- تر ټولو ستره پوهه د الله (ج) عبادت دی .
- ټول دغه څلور ځيزونه لټوي، خو ټول نه شي موندلای : روغه ستڼه، ربښتينولي، خوشالي، او ربښتينی ملگری .
- هېڅکله به له هغه څه څخه پښېمانه نه شۍ، کوم چې په ژبه مو نه دي راوړې .
- که چېرې له ژوند څخه پورته کوم څه شتون ولري، نو روغتيا ده او که چېرې هغه ته ورته کوم ځيز پيدا شي، بې اړتيايي او د طبيعت لوړوالی دی .
- که چېرې ټول خلک د په زړه پورې خبرو د کولو وړتيا نه لري، نو لږ تر لږه د چوپتيا له ساتلو څخه به عاجز نه وي .
- تقوا، پرهېزگاري ( له چا څخه تمه نه لرل ) او تېرېدنه هغه شيان دي، چې ژوند ورباندې آسانېږي .
- پوهان او پاک زړي کسان پوهېږي، چې د ژوند موده اوږده نه ده . د انسان جسم له دې او روح يې له بلې نړۍ سره تړاو لري .
- بايد شونډې وتړو، مټې را ونغاړو، کار وکړو، باټې ونه وهو او باور وکړو، چې د بريا زرينه کيلي کار او زيار دی .
- شهوت ته ځان مه نږدې کوه، چې عقل درنه مخ اړوي .

- د ژمنې ماتول له شریعت او د خلکو له کولتور نه ډېر لرې دی .
- د عقل د قانون له مخې په هر کار کې باید فکر وکړو .
- ډېر غوره کار دادی، چې په ځوانۍ کې زده کړه وشي او په زړښت کې ترې ګټه واخیستل شي .
- هر څوک باید د نصیحت اورېدلو غوږونه ولري، زړه زده کړې ته وسپاري او دا بسنه کوي، چې د پوهانو ګټورې خبرې واوري .
- لوبه چې ښوونکې وي، نو غوره ده .
- د ناپوه له پاره تر خاموشۍ بله ښکلې او وړ ګاڼه نه شته .
- دریو کسانو ته خپل راز مه وایه : د ساده زړه لرونکي احمق ته، ډېرې خبرې کوونکي ته او ډېر دوستان لرونکي ته .
- د وخت سپېڅلی کس هغه څوک دی، چې شیطان یې له سمې لارې څخه ونه باسي او تل بې ګناه ژوند وکړي .
- هر څومره چې دښمن درسره مینه وکړي، په همغه اندازه ورنه لرې شه .
- انسان باید له ګناه څخه ډډه وکړي، هر هغه څه چې د ځان له پاره نه خوښوي، نو د خپل دوست او دښمن له پاره یې هم باید روا ونه ګڼي
- هېڅکله دومره ټیټ او کمزوری شوی نه یم، چې چاپلوسي وکړم .
- جګړه که هر څومره پیاوړې وي، بې غولولو نه کېږي .
- عالم باید د غوسې اور د علم په اوبو مړ کړي او د هوس شیطان د پوهې په افسون په ښیښه کې بند کړي او د کارونو ترسره کول په مهربانۍ پیل کړي .
- د هوښیارانو په نزد د پاچاهانو له پاره څلور ځیزونه عیب ګڼل کېږي : د جګړې په ډګر کې وېره، له ښښنې څخه تېښته، د هوښیارانو رایه بې ارزښته ګڼل او په کارونو کې نا آرامي، بېړه او تلوار .
- هغه خبره چې ګټه نه لري، نه ویل یې غوره دي، بې ګټې خبره د هغه اور په څېر ده، چې لوګی یې زیات، تودوخه او لمبه یې ډېره کمه وي .
- د جګړې پرمهال هوښیار او د ځان ساتونکی واوسه . دا چې دښمن ستا په وړاندې ولاړ دی، نو ښه تدابیر ونیسه .
- پوهه د الله (ج) تر ټولو غوره ورکړه ده . پوه تل خوشاله دی .

- هر هغه څوک چې روغه ستړه او ځواک لري، نو هېڅکله ناسمې خبرې نه کوي . ټول دروغجنان ناروغ، کمزوري او کرغېړن دي .
- د پوهې خاوندانو زړه هغه مهال خوشالېږي، چې بردبار وي او بې شرمه او بې حيا خلک ځانته نږدې نه کړي .
- سپېڅلی او ځيرک هغه څوک دی، چې لنډې او مانا داره خبرې وکړي .
- پوهان د هغه څه په اړه افسوس نه کوي، کوم چې له لاسه تللي، د هغو څيزونو په اړه نه خواشيني کېږي، کوم چې په ترلاسه کولو کې يې پاتې راغلي، دا چې د يوه څه په ترلاسه کولو کې له سختيو سره مخامخ شي، سست او ناهيلي کېږي نه .
- څوک چې خپله ژبه د بدو خبرو له کولو څخه وساتي، نو د هيچا زړه به ونه ځوروي.
- څوک چې د الله (ج) په حکمتونو باندې باور لري، د وخت په ښو او بدو پسې نه ګرځي، دا ډول بنده د الله (ج) په عبادت کې لا هڅه کوي، له بدو فکرونو او د شيطان له پيروۍ څخه ډډه کوي؛ بدې کړنې نه ترسره کوي او د بې ګناه خلکو له ځورولو څخه کرکه لري .
- هغه څوک چې د نورو په پرتله له خپل خدای (ج) څخه ډېره هيله او تمه لري، نو له نورو څخه زيات د ستاينې وړ دی .
- مال او شته هم د سرلوړی او هوساينې بنسټ او هم د خوارۍ او پرېشانۍ سبب دي . که چېرې د پوهې د قانون له مخې ولګول شي، نو خوشالي او نېک نوم به را منځته کړي، که چېرې همداسې پاتې شي او ونه لګول شي، نو د تيرېې او مرغلرې بيه به يو شان شي .
- د هغه چا زړه د شيطان خونه ده، کوم چې پاچا ترې خوا بدی وي .
- که چېرې پاچا په تا باندې مهربان شو، نو مه بې ادبه کېږه، د پاچا زړه هغه اور دی، چې زمری ترې وېرېږي .
- د نوم لوړول له زړورتيا پرته ناشونی دی او وخت له ډارنو څخه کرکه لري .
- خبرې ګرځوونکی او کينه کښ شيطان چيچونکي دي . خبرې ګرځوونکی هېڅکله له درواغو پرته خپله خوله نه پرانيزي . خبرې يې تل بې رڼا وي . دومخی او خبرې ګرځوونکی تل د الله (ج) له مهربانۍ څخه بې برخې وي .


- ښښونکی او د ښه خوی خاوند هغه څوک دی، چې د ښښنې په ګانه ځان سینګار کړي. له ځوانمردۍ څخه دا ډېره لرې ده، چې یوه څه چاته وښښي او وروسته پرې احسان باروي .
- هغه څوک چې د ځان د هوسایني غوښتونکی وي، نو باید زغم او بردباري ولري، په دوستۍ او راکړه ورکړه کې خلک دوکه نه کړي . له چا څخه چې ګناه ووینې ورته ښښنه وکړي، کېنه کښښ او ژر غوسه کېدونکی نه وي .
- دوستان د دښمنانو د ښکار له پاره غشی او لینده دي .
- هر څوک چې د نورو له برخلیک څخه پند وانخلي، نور به د ده له برخلیک څخه پند واخلي .
- هغه څه چې یاستئ تاسو په غوره توګه معرفي کوي، تر هغه څه چې وایئ یې .
- بخیل د خپل مال او شتو ساتونکی دی او د میراث له پاره خزانه لري .
- بوذرجمهر ته یوه ښځه راغله او له هغه څخه یې د یوې مسئلې په اړه پوښتنه وکړه، بوذرجمهر وویل : نه پوهېږم .
  - ښځې وویل : له پاچا څخه ډېرې پیسې او ډالۍ ترلاسه کوې او زما پوښتنې ته ځواب نه شې ویلی ؟
  - بوذرجمهر ځواب ورکړ : پاچا د هغه څه په بدل کې ماته پیسې راکوي، چې پرې پوهېږم، که چېرې د هغه څه بدل کې یې پیسې را کولی، چې نه پرې پوهېږم، نو د پاچا ټولې خزانې به تشې شوې وای .

## د پیر روښان ویناوې



- که دهرکارپه پیل کی له لړ فکراوعقل څخه کارواخلی هیڅکله به له ماتی اوخنډ سره مخامخ نه شي
- بی فکره کارتباهی ده.
- ډیرفکراوژورفکرانسان له بدیوڅخه ژغوری.
- دخدای ج په ذات کی فکر زه وهغی اندازی ته ورسولم چی نورمی ځان هیرکړ اویوازی می خدای لیدلی.
- په ځآن کی فکر ددی لپاره مه کوی چی څنگه یاست ددی لپاره یی وکړی چی تاسوخدای څنگه پیداکړیاست.
- دخدای په شان کی فکرترهرډول فکرډیرۍ ښه دی.
- ترټولوښه فکرهغه فکر دی چی دنورودهوسایی لپاره وی.
- ماددی لپاره دخدای فکرپریښود اودخلکوپه فکرکی سوم چی دهرخالق په خپل مخلوق خوابدیږینومادخدا ی دمخلوق حال بد ولید اوتوری ته می لاس کړ اودهغه دمخلوق په فکرکی شوم.
- بی احترامه هرځای ترټلی اوخوار وی.
- دځان احترام کول دخدای احترام کول دی.
- دبشرمشکل دادی چی په نوره نړۍ کې خدای پلټی په داسی حال کی چی خدای خپله دده په جسم کی دی.
- بشربه هغه وخت یونیکمرغه موجود وای چی نفس اوشیطان یی ملگری نه وای.
- اې بشره! دهغه خالق عبادت اوبنده گی وکړه چی ته یی اشرف المخلوقات وگرځولی.
- زه دې اشرف المخلوقات ته حیران یم چی خدای دی څنگه پیداکړی دی او ده له ځانه څه شی جوړکړیدی.

## د توماس کارلایل ویناوې



- د هر واده اصلي لاملونه ښځینه او نارینه دي، خو فرعي لاملونه یې بې شمېره دي .
- ناپوهي لوی درد دی .
- ستر هوډ په پیل کې ناشونی ښکاري .
- د نړۍ پرمخ د انسان ټولې هڅې او درد زغمنې که له عقل سره سمون لري پایې نه لري؛ د خپلواکۍ له پاره دي .
- تاریخ د سترو مېړونو له ژوندانه څخه سر چینه اخلي .
- مثبتې هیلې ( نېکمرغي ) او منفي هیلې ( بدمرغي ) ده .
- ځوان کولای شي، هغه څه چې غواړي ورته ورسېږي، په شرط د دې چې د ټینګ هوډ لمن خوشې نه کړي .
- هغه کارونه مو چې په تېر کې ترسره کړي، موږ د سیوري په څېر تعقیبوي او د هغوی د ډول په پرتله موږ د بدۍ او خوښۍ په لور را کاږي .
- د سترو خلکو ستروالی، له کوچنیو خلکو سره د هغوی د چلند د څرنګوالي له لارې مالومېږي .
- که چېرې ونه پوهېږئ، چې چېرته ځئ، نو هره لار به تاسو له ځان سره بوځي .
- تر ټولو ستر عیب دا دی، چې له خپله عیبه خبر ونه اوسو .
- انسان وسیله لرونکی حیوان دی .
- تجربه تر ټولو غوره درس دی، که څه هم لاس مزد یې ګران وي .
- د دې له پاره، چې په ژوند کې تېروتنه ونه کړې، تل دې خپل زړه پاک ساته .
- د هر چا ځانګړنې د هغه د اخلاقي دوستانو په ښېګنو او بد ګړو پورې تړاو لري .
- خپل برخلیک په فکرونو سره وټاکئ .
- اې بشره ! که څه هم پیدا شوی یې، پاڅېږه او دا ثابته کړه، چې اشرف المخلوقات یې.
- هر کله چې وتوانېږو له خپل تخیلي ځواک څخه په هغه کچه ګټه واخلو، کوم چې له خپل بصري ځواک څخه یې اخلو، نو هر کار د ترسره کېدو وړ دی
- هېڅ داسې ملت شتون نه لري، چې تاریخ یې له نورو ملتونو سره تړاو ونه لري .

- حضرت نبي كريم (ص) د نړيوالو په منځ كې د قريشو په قبيله او د هاشم په كورنۍ كې دې نړۍ ته سترګې پرانيستې او نړۍ يې په خپلو لارښوونو او سمووونو ( اصلاحاتو ) روښانه كړه .

## د چارلي چاپلين ويناوې




- په پيسو كولاى شو : كور واخلو، خو ځاله نه. بستره واخلو، خو خوب نه. ساعت واخلو، خو وخت نه . كولاى شو مقام واخلو، خو درنښت نه. كولاى شو كتاب واخلو، خو پوهه نه . درمل واخلو، خو درملنه نه . بالاخره كولاى شو زړه واخلو، خو مينه نه .
- ښه انسان اوسه، مګر نوروته د اثبات له پاره يې خپل وخت مه ضايع كوه .
- زه په ژوند كې ډېرې ستونزې لرم، مګر شونډې مې ترې خبرې نه دي او تل خاندي .
- زما تېروتنه دا وه، چې په هرځاى كې وځورېدم، وخندېدم، فكر يې وكړ چې درد نه لري، لاپسې كلک ګوزارونه يې راكړل .
- افسوس هرڅومره هڅه مې چې وكړه، چې خلک پوه شي، خو يوازې وخندېدل .
- څومره تريخ دى، چې د كينې له مخې يې وليكې او په خندا يې ولولي .
- په دنيا كې د ټولو له پاره كافي ځاى شته، پرځاى د دې چې د چا ځاى ونيسې، هڅه وكړه، چې خپل ځاى پيدا كړې .
- تر ټولو غوره دوست مې هېنداره ده، كله چې زه ژاړم، هغه نه خاندي .
- د ژوند تر ټولو ستر خوند دا دى، چې له خوبه را ويښ شې او وګوري، چې بيا هم د ويده كېدلو فرصت لرې .
- كله چې ژوند تاسو ته د ژړا له پاره سل دليله درښيي، نو تاسو د خندا له پاره زر دليله ور وښيئ .
- واده بازار ته تګ په څېر دى، ترڅو چې پيسې، اړتيا او اراده ونه لرې، نو بازار ته مه ځه .
- ما موندلي، چې سترې مفكورې هغه مهال ذهن ته لاره پيدا كوي، چې د دا ډول مفكورو د لرلو هوډ ولرو .

- کېدای شي ژوند هغه جشن نه وي، چې تا يې هيله لرله، مگر اوس چې ورته بلل شوی يې، ترڅو چې کولای شې ښکلی وناځه .
- دا زموږ د ژوند يو له تضادونو څخه دی، چې انسان تل ناسم کار تر ټولو غوره او ممکن وخت کې ترسره کوي.
- حتا ځان خوشاله ښودل، هم نورو ته خوښي ور ښښلی شي .
- که چېرې کومه ورځ درسره خيانت وشو، نو پوه شه چې ارزښت دې لوړ دی .
- تر ټولو ځلانده تاج، چې خلک يې په خپل سر باندې ږدي، په اور غالي کې جوړ شوی دی .
- حتا غوره اولاد هم د مور او پلار د روح دښمن دی .
- له خند پرته ورځ، هغه ورځ ده، چې بېځايه تېره شوې ده .
- بشپړ نقاش هغه څوک دی، چې له هېڅ څخه ځانته سوژه جوړه کړي .
- که چېرې غواړې، چې دښمنان مو وگواښې، نو له خپلو دوستانو سره ښېگڼه وکړې.
- زده کړې مې دي، چې نباید د ماشوم له لوري ډالۍ ته نه ووایم
- زده کړې مې دي، چې د هغه چا له پاره دعا وکړم، چې په هېڅ ډول ورسره مرسته نه شم کولای .
- زده کړې مې دي، چې په پيسو شخصيت نه اخيستل کېږي .
- کله وخت د له لاسه ورکولو له پاره هېڅ نه لرم، په سړه سينه يې منم او خپلو بدمرغيو ته موسکی کېږم ... خلک داسې فکر کوي، چې هېڅ ستونزه نه لرم، مگر له ستونزو پرته ژوند يوازې يو خوب دی، سړی نه شي کولای، چې تل ويده شي .
- موسکا وکړه ! پرته له تمې د دنيا په ځواب پوه شه، يوه ورځ به دنيا دومره شرمنده شي، چې د موسکا د ځواب پرځای به ستا ټولو سازونو ته وناځي .
- زده کړې مې دي، چې يوازې کوچنۍ ورځنۍ پېښې دي، چې ژوند ننداريز کوي .
- زده کړې مې دي، چې له حقايقو سترگې پټول، په هغو کې بدلون نه شي را وستلای.
- زده کړې مې دي، چې دا مينه ده، چې ټپونو رغوي، نه وخت .
- زده کړې مې دي، چې کله له چاسره مخامخ کېږو، نو له موږ څخه د موسکا تمه لري .
- آخر هر څه ښه کېږي، که ښه نه شول، نو وخت يې نه دی را رسېدلی .

- د چا لوڅ زړه دې چې ونه لیده، نو لوڅ بدن دې مه ور ښکاروه، هېڅکله د هغه چا له پاره چې ستا د کتلو په مانا نه پوهېږي له خپلو سترګو اوښکې مه تویوه، خپل زړه دې تش وساته، که چېرې کومه ورځ دې وغوښتل، چې چاته په خپل زړه کې ځای ورکړې، هڅه وکړه چې یوازې یو کس وي، هغه ته وواېه، چې له ځانه ډېره او له خدای (ج) څخه کمه مینه در سره لرم، ځکه په الله (ج) باندې باور لرم او تاته اړتیا لرم .
- د ښځو ځان غوښتنه د هغوی د بربادۍ تر ټولو لوی لامل او د کورنیو له منځه تګ دی،
- له دښمن نه دې یو ځل او له دوست نه دې زر ځله ووېرېږه .
- زه په باران کې په قدم وهلو مین یم، ځکه هېڅوک نه شي کولای، چې زما اوښکې وویني .
- یوازې هغه کسان، چې ورسره مینه نه ده شوې، کرکه کوي، یوازې هغوی او غیر طبیعي انسانان .
- ژوند کولای شي فوق العاده وي، که چېرې نور مو په خپل حال پرېږدي .
- هېڅوک دومره بېوزله نه دی، چې ونه شي کولای چا ته موسکا ور وبښي او هېڅوک دومره شتمن نه دی، چې موسکا ته اړتیا ونه لري .
- زده کړې مې دي، په ژوند کې یوازې هغه څوک ما خوشالوي، چې راته وواېي: تا زه خوشاله کړم .
- تاسو هېڅکله خپل کور ته غل نه پرېږدئ، نو ولې هغو افکارو ته په خپل ذهن کې د هستوګنې اجازه ورکوئ، چې ستاسو خوشالي غلا کوي
- کورنۍ نه دي ورانې کړي .
- که چېرې خوشاله وې، ورو وخانده، ترڅو غم را ویښ نه شي او که چېرې غمجن وې، نو ورو وژاړه، ترڅو خوبني ناهیلې نه شي .
- تاسو هغه مهال ځواک ته اړتیا لرئ، چې وغواړئ په ناوړه کارونو لاس پورې کړئ، که نه نو مینه د ټولو کارونو د ترسره کولو له پاره بسنه کوي .
- مهربان و اوسه او هرچا ته چې رسېږي، نو موسکی شه، ته نه پوهېږې، چې په خلکو څه تېرېږي، کېدای شي ستا موسکا هغوی ته د یوې ارښتمنې خزانې په څېر وي او هغوی هغې موسکا ته ډېره اړتیا ولري .
- د دوه بدمرغیو ترمنځ واټن ته نېکمرغي واېي .
- ژوند یوه ستونزه نه ده، چې حل یې کړې، بلکې یوه ډالۍ ده، چې باید ترې خوند واخلې .

- بېوزله او وړی انسان له ټيټ او بې مينې انسان څخه غوره دی .
- د نړۍ تر ټولو غوره الماس لمر دی، چې له ښه مرغه د ټولو په غاړو ځلېږي .
- بربنډتوب زموږ د عصر ناروغي ده .
- زده کړي مې دي، چې د خپلې مور له مرګه مخکې، يو ځل زيات ورته ووايم، چې مينه درسره لرم .
- زده کړي مې دي، چې موسکا تر ټولو ارزانه لاره ده، چې د هغې په وسيله کولای شو، خپل ليد پراخ کړو .

## د ډيل کارنګي ويناوې



- آرامتيا ته د رسېدو له پاره بايد په تېر او راتلونکې باندې اوسپنيزه کرښه کش کړئ او يوازې د اوس په اړه فکر وکړئ .
- د نيمګړتياوو او عيبونو پېژندل تر هنر ليدلو ښه دی .
- که چېرې اخلاقي بدۍ پربښودل هم شي، نو د ټپ په څېر له رغېدو وروسته به يې ځای باقي پاتې وي .
- موسکا له څو شېبو نه زياته نه وي، خو ياد يې ټول ژوند پاتې کېږي .
- که چېرې وينې، چې څوک تاته نه موسکی کېږي، نو لامل يې په خپلو ترلو شونډو کې ولټوه .
- که چېرې کېنو او کار ونه کړو، نو ماغزه به مو چينجي وخوري، د ارادې او عمل ځواک به رانه واخلي .
- ترڅو چې کولای شئ د ځان له پاره صميمي دوستان وټاکئ او پوه شئ، چې هرڅومره مو دوستان ډېروي، په ژوند کې بريالي ياستئ .
- موسکا لګښت نه لري، خو ګټه يې زياته ده .
- که چېرې د دښمنۍ غوښتونکی يې، نو ځان له خپلو دوستانو څخه غوره وګڼه، مګر که چېرې دوست غواړې، پرېږده چې دوستان دې له تا څخه ځان غوره وګڼي .
- هر څه ته مخکې له پېښېدو کتل او لرليد لرل ښه کار دی، خو راتلونکو بد مرغيو ته نن ورځ غمجنېدل ښه نه دي . په هوا کې تر زندان جوړولو ولې ښکلې ماڼۍ نه جوړوئ .
- مذهبي ايمان په بشپړه توګه د غم او اندېښنې د درملنې تر ټولو غوره وسيله ده .

- تاسو کولای شئ، نورو ته په پام سره د دوه میاشتو په لړ کې ډېر دوستان پیدا کړئ، تردې چې وغواړئ په دوه کلونو کې د نورو پام ځانته را واړوئ .
- موږ د څلورو لارو په وسیله له خلکو سره په اړیکه کې یو او زموږ ارزښت د همدې څلورو شیانو له مخې څرګندېږي، لومړی هغه کړنې چې ترسره کوو یې . دوهم هغه څه چې خلکو ته یې ښایو . دریم هغه څه چې وایو یې . څلورمـ په کوم ډول یې وایو .
- د تېروتنې ښښنه، پسته غچ اخیستنه ده .
- د تکبر حس په ټولو خلکو کې یو شان دی، خو اختلاف یې په څرګندولو کې دی .
- چاپلوسي هم ویونکی او هم اورېدونکی بې لارې کوي .
- ډېر خلک ډاکټر ته د ورتګ پر ځای، یوه همراز او خوالګر ته اړتیا لري، چې د دوی د زړه درد ته غوږ ونیسي .
- کوم شی، چې د انسان د وېرې لامل ګرځي، هغه د پیسو نېستي نه، بلکې د پیسو مصرفول دي .
- کله چې دوستي خپل وروستي پړاو ته ورسېږي، نو د کوچنۍ خوابدۍ په رامنځته کېدو سره د ګیلو کیسه پیلېږي .
- نارینه د مېرمنو مخ ګوري، نه کالي .
- له نورو سره وخانده، خو په نورو پورې مه خانده .
- پرېږده، چې مخاطب داسې خیال وکړي، کوم فکر چې تا ورکړی، خپل یې دی .
- له شخړې نه داسې تښته، لکه له زلزلې او مار نه چې تښتې .
- په هیلو کې بریا، زموږ له څواک او ارادې سره نېغ په نېغه تړلې ده .
- خلک په درې ډوله دي : لومړی د پیسو نوکران . دویم د پیسو ملګري . درېیم د پیسو څښتنان .
- اورېدل زده کړئ او غږېدونکی وهڅوئ، چې د ځان په اړه وغږېږي .
- خپل کار په غوره ډول ترسره کړه او وروسته خپله زړه چترۍ په خپل سر باندې ونیسه، تر څو د نیوکو له باران څخه دې خوندي وساتي
- هره پېړۍ ځانګړې ناروغۍ لري، د اوسنۍ پېړۍ ناروغي فکر او اندېښنه ده
- په ژوند فکر وکړئ، خو خپګان مه کوئ .
- کار تر ټولو ارزانه درمل دي، چې د اندېښنې د له منځه وړلو له پاره زموږ په واک دي .

- زه په بېلا بېلو کارونو کې د ځواک او انرژۍ په خپرېدو باندې باور نه لرم .
- موږ د دې له پاره سترې کېږو، چې احساسات مو په بدن کې د عصبي فشارونو د تولید لامل ګرځي .
- اې هغه ځوانانو، چې د ژوند په پسرلي کې یاستئ، د ځوانۍ د دې قېمتي جوهر په ارزښت پوه شئ، د ژوند پسرلي مو د طبیعت په پسرلي نېک کړئ .
- په هره څانګه کې د بریا رښتینې لار داده، چې په هغه څانګه کې ځان د استادۍ پړاو ته ورسوې .
- د دې پرځای، چې له خپلو دښمنانو څخه کرکه وکړو، باید د الله (ج) ډېر شکرونه پرځای کړو، چې زموږ ژوند یې د هغوی په څېر نه دی رامنځته کړی .
- که چېرې رښتینې نړۍ پرېږدو او د خوبونو نړۍ پسې لاړ شو، چې زموږ ذهن رامنځته کړې ده، نو دا هغه وخت دی، چې د ځان له پاره مو لېونتوب اخیستی دی .
- که څوک وغواړي، چې له تاسره خپله خوښي بدله کړي وې منه، خو غم له هیچا سره مه بدلوه .
- په یاد ولرئ، چې د انسان نېکمرغي د هغه په مقام او شتو پورې تړاو نه لري، بلکې نېکمرغي یوازې د هغه په فکر پورې تړلې ده .
- که زما له ژونده، زما دوستان لرې کړئ، زه به مطلق صفر شم .
- که چېرې غواړې، چې په وېره باندې غالب شې، نو په کور کې مه کېنه، بهر لاړ شه او ځان بوخت کړه .
- سیالي او دوستي هېڅکله له یو بل نه انکار نه کوي .
- نظم د طبیعت لومړنی قانون دی .
- که د کرکې چشمې له سترګو لرې کړئ، نو وبه ګورئ چې ژوند له دغې نه هم ښه او ښکلی دی، چې تاسو یې په اړه فکر کوئ .
- ترڅو چې پله ته نه یې رسېدلی، له هغه څخه مه تېرېږه او د تویې شویو شیدو له پاره ژړا مه کوه .
- موسکا په بیه نه شو اخیستلای او نه یې په سوال لاس ته راوړلی شو، نه یې په پور او نه یې غلا کولای شو .
- په خپلو شونډو موسکا ولرئ .
- په را پرېوتو کې زیان نه شته، بدمرغي په بېوزلۍ او خوارۍ کې ده .
- که چېرې پوهېږئ، چې ګناهکار یاستئ، نو بې له ځنډه او د زړه له کومې خپله ګناه ومنئ .

- دوه کسانو د زندان له پنجرې بهر ته کتل، یوه ختې لیدې او بل رانه ستوري .
- د ستونزې د حل له پاره، لومړی باید حقیقت پیدا کړو

## د شکسپېر وېناوې



- د بل چا په سترګو او خوښه واده کول د ځان له پاره د دوزخ د دروازې پرانیستل دي.
- خدای (ج) تا ته یوه څېره درکړې ده او تا له هغې څخه بل څه جوړ کړي دي .
- اندېښنې، د خوبونو لیدل، اسویلي، اوښکې او هیلې له مینې څخه نه بېلېدونکي انډیولان دي .
- ستا څېره هغه کتاب دی، چې خلک کولای شي، په هغې کې عجیب څیزونه ولولي .
- غوره تجربه د ژوند د هیلو او امیدونو رڼا ده، که څوک هیلې ونه لري، نو د هغه له پاره ژوند ارزښت نه لري .
- څومره بدمرغه دي، چې صبر او زغم نه لري، مګر داده چې ټپونه ببرته رغېږي .
- له دې وړاندې نه شم کولای، چې حرکت وکړم او پرمخ ولاړشم، زما پښې له هیلو سره له همقدمۍ څخه عاجزې دي .
- ډارن مخکې له مرګه څو څو ځله مري، خو زړور یې یوځل خوند څکي .
- هغه مینه، چې د سترګو په اوښکو ووینځل شي، تل به پاکه او سپېڅلې وي .
- ډېره عجیبه ده، چې د بشر غوږونه د نصیحت په وړاندې کاڼه او د چاپلوسۍ په وړاندې اورېدونکي شي .
- د انسان وطن په هېڅ جغرافیایي نقشه کې نه شئ موندلای، خو د انسان وطن د هغو کسانو په زړه کې موندلای شئ، کوم چې ورسره مینه لري
- لوښی چې تش وي، نو غږ یې لوړ وي .

- که چېرې ما دولس زامن درلودای او ټول یو شان راباندې ګران وای او یوولس زامن مې د هېواد په لاره کې قرباني کړي وای، خوښ به وم له هغې چې یویو راته په بستره کې مړه شوي وای .
- که چېرې اوښکې لرې، نو تویولو ته یې چمتو شه .
- هر څوک باید په ډېر زغم سره د خپلو کړنو پایله وزغمي .
- د دې له پاره چې سم او ستر کار ترسره کړې، نو کوچنی تېروتنه وکړه .
- هغه څوک چې زما، مال غلا کړي، یو بې ارزښته څیز یې غلا کړی دی، مګر هغه څوک چې زما نېک نوم پټ کړي، نو زما د بدن یوه برخه له ځانه سره وړي، چې هغه پرې نه شتمن کېږي، خو ما ذلیلوي .
- دنیا د یوه نندار تون په څېر ده، هرڅوک پکې خپل رول لوبوي او بېرته ځي .
- هغه څه تر لاسه کړه، چې هېرولای یې نه شې او هغه څه هېر کړه، چې ترلاسه کولای یې نه شې .
- پوهېږو چې څه یاستو، مګر نه پوهېږو چې څه کېږو .
- که چېرې ټوله شپه د لمر د له لاسه ورکولو له پاره وژاړې، نو د ستورو د لیدلو خوند به له لاسه ورکړې .
- ښځه هغه وخت خاندي، چې امکان یې وي، مګر ژړا هر وخت په هره ګړۍ کې کولای شي؛
- ښځه اول مینه په سترګو کوي، بیا په زړه او اخیره کې په عقل؛
- د مالدار سړي زینت سخا ده، د غریب سړي ښایست، قناعت او صبر دی او د ښځې ښایست پاک لمني ده؛
- ښځه په دفاعي حالت کې ژاړي، د ناکامۍ په صورت کې پټه خوله وي او د بحث پر مهال یې وسله خندا ده؛
- ښځه په ډېره اسانۍ سړي ته خپل زړه ورکوي، مګر په بېرته راګرځولو کې یې له سختو کړاوونو سره مخ وي؛
- له درې شیانو ځانونه ساتئ:
- اور، اوبه او ښځه.
- اور دې سوځوي، اوبه دې غرقوي، او ښځه به دې لیونی کړي.
- ښځې سره درې شیان مه منه:
- اعتراف، راز او خاموشي.
- درې شیان د ښځې عزت زیاتوي:

- ادب، علم او نيک اخلاق.
- ژوند څو فصله دی. ښځه يې پسرلی دی، بوډۍ ګانې يې خزان دی، سړي يې اوړی دی او له واده پاتې ښځې يې ژمی دی.
- ښځه درې سوالونه ډېر بد ګڼي: بله ښځه له دې ښايسته ده، عمر دې څومره دی او د ماضي په اړه پوښتنه ډېره بده ګڼي.
- حيا د وړې نجلۍ له نظره چيغې او نارې دي، د پيغلې له نظره ښايسته جامې او سينګار، د سړي له نظره واده او د ښځې له نظره د ژوند ترخه تجربه ده.
- سړی په اوښکو قانع کېږي، مګر ښځه بيا په مچه؛
- ملګرتيا ډېر وخت په مينه پای ته رسيږي او مينه ډېر کم وخت په ملګرتيا پای ته رسيږي؛
- غټې او پراخه سترګې د سپين زړې او نيکۍ نښه ده، تنګې او وړې سترګې د مکر، فرېب، ضد او چالاکۍ نښه ده؛
- خوبولې سترګې د نرم او مهربانه زړه نښه ده؛
- شنې سترګې د ضد او عناد نښه ده؛
- ما خپل وخت ضايع کړ، اوس هغه دی چې ما ضايع کوي .
- خپلې بدمرغۍ د خپلو کاليو په شان په پوره بې پروايۍ سره وزغمئ .
- اې ځيرکتيا ! زما دوست واوسه .
- د ښځې په ذهن کې دوه فکرونه وي: هغه دا چې ښځه هر څه غواړي، مګر په خپله هېڅ هم نه کوي؛
- سره زر په اور معلوميږي، ښځه په سرو زرو او سړی بيا په ښځه ښه امتحانيږي؛
- د ښځې په شونډو کې د ګردې نړۍ شات او زهر پراته دي، چې هر يو وغواړي، کارولی يې شي؛
- نجلۍ په څوارلس کلنۍ کې د زړه سکون لپاره مينه کوي، اتلس کلنۍ کې د واده لپاره، دېرش کلنۍ کې د دې لپاره مينه کوي، چې ځان په دې ډاډه کړي، چې دا خو لا هم ښايسته ده او څلويښت کلنۍ کې د دې لپاره مينه کوي، چې ځان ورته لا هم ځوانه ښکاره شي؛
- دوستي ارزښتمن نعمت دی، چې نېکمرغي دوه برابره کوي او بدمرغي را کموي .
- که چېرې له چا سره مينه لرې، نو پرې يږده، که ستا په لور را وګرځېده، نو ستا ده او که را ونه ګرځېده له پيله ستا له پاره نه و .

- په هرځای کې، چې ښکلا په دعوا لاس پورې کړي، نو د وياند ژبه گونگېږي .
- له ستروالي مه وېرېږه، ځینې ستر زېږېږي، ځینې ستروالی تر لاسه کوي او ځینې ستروالی په خپله لمن کې اچوي .
- د بېځایه او ناوړو هیلو له منځه وړل د کار او ژوند بریالیتوب دی .
- آه درواغ څومره ښکلې څېره لري .
- د ښځې خواهشات او امرونه پوره کول د سوري گېلاس په څېر دي، پوره کول يې امکان نه لري.
- هغه نجلۍ، چې په لومړي ځل درته په ښکاره د مینې اظهار کوي، هغه به دې له خدای پاماني پرته پرېږدي.
- هوښیاره نجلۍ مینه د مینې لپاره نه کوي، بلکې مینه د واده لپاره کوي.
- ښځه هغه سړي سره مینه کوي، چې راز ساتي، مگر سړی بیا هغې ښځې سره مینه کوي، چې ښایسته وي.
- د ښځې په ژوند کې درې سړي مهم دي: پلار، چې احترام او درناوی يې کوي، ورور، چې ترې وېرېږي او مېړه، چې دا له هغه سره مینه کوي او هغه له دې سره.
- دنیا د سړي زړه دی او د ښځې زړه دنیا ده، ښځه ژور شیانو ته گوري او سړی لرې فکر کوي.
- د ښځې اوښکه د هر غم دارو ده او خندا يې د ټولو خوښیو لپاره ده.
- د ښځې د مینې په اندازه د هغې غچ او کسات هم وي او ښځه چې څومره بې عقله او خره وي، د ژوند تاوان يې هم په همدې اندازه وي.
- د نړۍ تر ټولو بې عقله ښځه د نړۍ هوښیار سړی تېرویستی شي او د نړۍ تر ټولو هوښیاره ښځه يو ساده سړی هم غلطوی شي.

- په ټولو بشري کړنو کې لوړې او ژورې وي، که انسان د هغو په منځ کې واقع شي، نو د نېکمرغۍ ساحل ته رسېږي او که نه نو عمر به يې په بد مرغۍ او هلاکت کې تېر شي.
- چې څه ونه لرې، نو د له لاسه ورکولو له پاره هم څه نه لرې .
- د اسراف لمبه دوام نه کوي، ډېر توند اورونه ژر مړه کېږي، ورو ورو باران دوام لري، ناڅاپي توپان اوږد نه وي.

- جهنم تش دی، ځکه ټول شیطانان دلته دي .
- څوک چې قانع مسکین وي، نو شتمن دی .
- د شمعمې رڼا تر کوم ځایه رسېږي، ښه مرگ هم  د خبرو په دې نه اورېدونکې نړۍ کې همدومره ځلېږي .
- څومره چې دې کار مهم وي، په هماغه کچه به دې دښمنان هم ډېر وي .
- نه ښه شته او نه بد، دا زموږ فکر دی، چې له هغه څخه ښه یا بد جوړ وو .
- مور د ټولنې بنسټ دی .
- نجونې پرته له خاونده هېڅ نه غواړي، خو کله یې چې ترلاسه کړ، نو بیا هرڅه غواړي
- جدایي څومره خوږ غم دی .
- له ټولو مهربانیو څخه یې را غونډ کړي شیان او یوه مور یې ترې جوړه کړې ده .
- شیطان هم خپلې موخې ته د رسېدو له پاره په آسماني کتاب استناد کوي .
- د جاهلانه او حکیمانه تگلارې اغېز هم د ناروغۍ په څېر یوه نه بل ته سرایت کوي.
- خپلو افکارو ته ژبه مه ورکوه .
- چاپړوسي د ناپوهانو خواړه دي .

## د ژان پل سارتر ويناوې



- تر ټولو غمجن هغه څوک دی، چې تر ټولو ډېر خاندي .
- د ناخبرۍ شېبه بسنه کوي، تر څو هر څه له لاسه ورکړې او ناڅاپه هرڅه دې چې په هڅه او زيار تر لاسه کړي، بربادېږي او له لاسه ځي
- هېڅوک نه پوهېږي، چې په بحراني وختونو کې وفاداري کوم لور ته مخ اړوي .
- ټول وخت ته اړتيا لري، سړی نبايد مخکې تر دې چې پوه شي څه وايي، پايله واخلي .
- کله چې کوم څه له لاسه ځي، نور نه شو کولای چې بېرته يې تر لاسه کړو .
- داسې هوډونه شتون لري، چې نبايد هېڅوک يې نيولو ته لا چاره شي .
- ترڅو چې ډاډمن نشم، خپله هيله له لاسه نه ورکوم .
- هېڅکله دروازه مه ټکوه، مگر دا چې پوه شې، هغې خواته يې څه تېرېږي .
- دا چې کوم څه چېرته وويل شي، توپير نه کوي، دا چې هغه څه لومړی وويل شي، دويم وي يا دويم ورپسې .
- ټول ښکلي ځيزونه چې وينې، نو ذهن ته يې وسپاره، ترڅو تل له تا سره وي، حتا په هغو وختونو کې، چې نه شې کولای وې وينې .
- هر ځل چې داسې گڼې، د پوښتنې ځواب دې پيدا کړی، پوهېږې چې هغه پوښتنه هېڅ مفهوم نه لري .
- هر څوک دوستانو ته اړتيا لري .
- خلک له هر څه ښخه خبرې کوي، په ځانگړې توگه له هغه څه څخه، چې په اړه يې هېڅ نه پوهېږي .
- د بې عدالتۍ نړۍ ده، که چېرې وې منې، په جرم کې ور گډېږې او که چېرې وغواړې بدله يې کړې، نو جلاد کېږې
- کله چې يوازې يو، په دوست پسې گرځو، کله مو چې پيدا کړ، په عيبونو پسې يې گرځو او کله مو چې له لاسه ورکړ، نو په يوازېتوب کې په خاطرو پسې يې گرځو . په زړونو پام کوئ، هېڅ ځيز د زړه په پرتله ژر نه ماتېږي .

- ـ خلک د خپلو نیمگړتیاوو په کچه نور ځوروي .
- کله وخت باید خپلې شاوخوا ته د یوازېتوب دېوال جوړ کړې، د دې له پاره نه چې له نورو لرې شې، بلکې وگورې چې څوک ستا د لیدلو له پاره دېوال ورانوي .
- زه هېڅ پوه نه شوم، چې ځواني یانې څه ؟ زه له هلکتوب څخه نېغ په نېغه زړښت ته ورسېدم .
- هغه وخت چې د هېڅ کار د نه ترسره کولو له پاره یې ځانگړې کوې، ډېرى وخت پایله یې د ډېرو کارونو ترسره کېدل کېږي، مگر نه پوهېږم، رښتیا څه ډول ؟
- ښایي تر ټولو ستره ستونزه همدا وي، هغه ژوند چې موږ پېژانده پای ته رسېدلى دى، مگر تر اوسه داسې څوک نه شته، چې وپوهېږي څه ځیز یې ځاى نیولى دى .
- هېڅ ځیز د زړه په پرتله آسانه نه ماتېږي .
- که چېرې وغواړې، چې د مندې وهلو له لارې ځان وژنه وکړې، نو لومړى باید ښې مندې وهل زده کړې .
- کله چې هیله مري، کله چې گورې د هیله من کېدلو ډېر لږ امکان دې هم له لاسه ورکړى، نو تشه فضا په خوبونو، د هلکتوب په کوچنیو فکرونو او کیسو ډکوې، تر څو وکولاى شې، ژوند ته دوام ورکړې .
- مه پرېږدئ چې هلکان وژاړي، ځکه چې باران هم د گلانو غنچې تباه کوي .
- تاریخ یو اتوماتیک او بې چلوونکي ماشین نه دى او په یوازېتوب کې خپلواکي نه لري، بلکې تاریخ به هماغه شي، چې موږ یې غواړو .
- نبوغ د سوچ او فکر جوهر دى .
- لاچاره د انسان نن به په پرون بدله شي، مگر امکان لري، چې ستاسو سبا به هېڅکله نن نه شي .
- انسان د هغه څه ټولگه نه ده، چې لري یې، بلکې د هغه څه ټولگه ده، چې تر اوسه یې نه لري، مگر کولاى شي، چې وې لري .
- بشر د ارزښتونو پیدا کوونکى دى .
- یوازې هغه کسان چې بیل نه وهي، د کښتۍ د ښورولو فرصت لري .
- په مینه کې یو کس جمع یو کس مساوي یو دى .
- انسان محکوم دى، چې آزاد وي، ځکه چې نړۍ ته تر راتگ وروسته د خپلو کارونو مسؤل دى .

- هر څه کشف شوي دي، مګر څه ډول ژوند کول .
- کله چې شتمن جګړه را منځته کوي، دا بېوزلان دي، چې مري .
- کله چې ته، تل اوسېدل له لاسه ورکړې، نو ژوند هم خپله مانا له لاسه ورکوي .
- بشر هېڅ نه دی، مګر هغه څه چې له ځانه يې جوړوي .
- هېڅ څيز نه شي کولای، چې زموږ له پاره ښه وي، مګر هغه چې د ټولو له پاره ښه وي .
- زما کتابونه د يوه ماشوم د لوړې په وړاندې هېڅ ارزښت نه لري .
- حقيقت شتون نه لري، مګر په عمل کې .
- هغه څه چې انسان بې غيرته کوي، تېښته يا تسلمېدل دي .
- تل بايد اخلاق را منځته او نوي يې کړو .
- ارزښت څه نه دی، له هغې مانا پرته، چې تاسو يې ورته ټاکئ .
- د ژوندي پاتې کېدلو له پاره بايد ځان له دننه څخه ووژنې، له دې امله ډېری کسانو هر څه پرېښي دي، ځکه چې پوهېږي، که هرڅومره هڅه وکړي، نو په پايله کې يې بايلي او کله چې دې ټکي ته ورسېدې، هر ډول مبارزه بې ګټې ده .
- هغه څه چې انسان ته د ژوند امکان ورکوي، يوازې عمل دی .
- زه تل کولای شم، چې په آزاد ډول ټاکنه وکړم، خو بايد پوه شم که چېرې ټاکنه ونه کړم، بيا مې هم ټاکنه کړې ده .
- اتل شخص خپل ځان او خپل شخصيت اتلوي .
- هېڅوک نه شي کولای خپله آزادي خپله موخه وګرځوي، مګر دا چې د نورو آزادي هم په هماغه ډول خپله موخه وګرځوي .
- تورې ختمې د اوبو زجر دی .
- زما په اند د ژوند په اړه چې په هرڅه پوهېږم، له کتابونو مې زده کړي دي .
- زه يم، زه شتون لرم، فکر کووم، نو يم؛ زه يم، ځکه چې فکر کووم، ولې فکر کووم؟

## د فرانسېس بېکن ویناوې




- هوښیار سړی پرځای د دې، چې په ژوند کې د یوې ښې موقع په تمه کېني، په خپله یې رامنځته کوي .
- د انسانانو په منځ کې بد گوماني داسې ده، لکه د مرغیو په منځ کې د ماښام ځکالی، چې د سپېده داغ او لمر لوېدو په وخت کې چې روښانایي او تیاره سره په منگولو وي خپل وزرونه پرانیزي .
- لکه څنگه چې هلکان تیارې ته له تگ څخه ډارېږي، په هماغه ډول خلک له مرگ څخه وېرېږي .
- مرگ دا مهرباني لري، چې انسان ته د نېکنامۍ مانۍ ور په برخه کوي او د ده په اړه د نورو کرکه او کینه له منځه وړي .
- تر ټولو تېروتونکي کسان هغه دي، چې د نورو عیبونهویني .
- له رښتینې ایمان سره باید داسې اور شتون ولري، چې د بد گومانۍ چټل خلي، بوټي وسوځوي او په ایرو یې بدل کړي .
- هغه څه چې خلک پوهوي د کتابونو لوستل نه، بلکې هغه څه دي چې زده کوي یې .
- ټول له نورو څخه د مینې تمه لري او ناخبره له دې چې دوی هم کولای شي، نورو ته د مینې سبب شي .
- د انسان په طبیعت او اخلاقو کې هېڅ داسې کمزورتیا او انحراف نه شته، چې په مناسبه روزنه سم نه شي .
- هغه افراطي کړه، وړه مو چې په ځوانۍ کې کړي دي، پور یې باید په زړښت کې پرې کړو، څه شی مو چې په ځوانۍ کې له بدن څخه لگولي دي، په زړښت کې یې هیله مه لرئ.
- بشر په معمول ډول د خپل سیرت پر بنسټ فکر کوي، د خپلې پوهې او رایجو عمومي افکارو پر اساس خبرې کوي، مگر عموماً د عادت پر مبنا عمل کوي .
- انسانیت حقیقت ته اړتیا لري .
- د بدو خبرو کوونکې خوله باید د خاموشۍ په وقار بنده کړو .
- د ژوند ستره موخه علم نه، بلکې عمل دی .

- د ژوند په نړۍ کې دومره بله ستره شرمنده ګي نه شته، لکه چې نور د انسان درواغ را لوڅ کړي .
- پيسې د کېمياوي کود په څېر دي، تر هغه وخته چې په ځمکه کې نه وي خپور شوی ګټور نه دی.
- کله چې انسان مړ شي، په هماغه شېبه لويي تر لاسه کړي، د ده په وړاندې ټولې کينې او تربګنۍ له ده سره يوځای مړې شي، د نېکنومۍ دروازې يې په مخ پرانيستل شي او په داسې مقام کې کېني چې هېڅ ډول خطر يې نه ځوروي .
- دوستان د وخت غله دي .
- علم د حقيقت انځور دی .
- حسود درنښت نه لري .
- د ګرانښت فلسفه حقيقت لري، خو نه هغه مينه چې له يوه علم يا يو شان مسلک سره يې کوې .
- پوهه په يوازېتوب کې هم يو ستر ځواک دی .
- که چېرې غواړې چې د هيچا غلام نه شې، نو د هېڅ څيز مه غلامېږه .
- له ناروغۍ څخه بده يې د درملنې وسيله ده .
- ځينې کتابونه بايد لړ وڅکل شي، ځينې سمدستي ترمرۍ تېر شي او ځينې په ډېر پام سره ورو ورو وژوول شي .
- څوک چې غوسه ناک او سخت طبيعته وي، مقام او منزلت به ولري، خو نېکمرغي نه لري .
- د خپلو دوستانو په وړاندې د خپل زړه غوټه پرانيستل دوه اغېزې لري : خوښي دوه برابره کوي او غم په دوه برخو وېشي .
- درواغ د بدمرغۍ او بېوزلۍ سر چينه ده .
- د يوه انسان بخت د هغه په خپلو لاسونو کې دی .
- څوک چې د ژوند په ارزښت نه پوهېږي، د هغه د لرلو حق او وړتيا نه لري .
- موږ بايد د نېکمرغه اوسېدلو له پاره مناسب ځايونه را منځته کړو، نه دا چې د هغه په تمه شو .
- نا پوهانو ته خوښي لوړتيا ده .
- پوهه يانې ځواک .
- انسان نه شي کولای، چې په طبيعت امر وکړي، پرته له دې چې د لايزال قانون ومني، همدغه منل دي، چې طبيعت د انسان تابع دی

- شعر د بشري پوهې يوه برخه ده .
- انسان ته نه ښايي چې د نفس د خوښۍ په بريا چې د لنډې مودې له پاره ور په برخه شوې ده وغولېږي، ځکه د انسان نفس کله، کلونه کلونه چپ او پرته له خوځښته پاتې کېږي او يو ناڅاپه د يوې وسوسې پر بنسټ را پارول کېږي .
- وجدان هغه غږ دی، چې خلک له بدو کړنو څخه را گرځوي .
- څوک چې په هر کار کې د وجدان مني، نو هېڅکله به غمجن نه شي .
- پوهې ته وزرونه مه ورکوئ، يو څه سرپ ور پورې وتړئ .
- د ديني، ټولنيزو او ملي دندو له راغونډولو نه وجداني دنده را منځته کېږي .
- مطالعه انسان بشپړوي، مگر ليکل انسان ته ځرکتيا ور ښني .
- کله چې ناروغ ياست روغتيا ته او کله چې روغ اوسئ، نو ورزش ته ارزښت ورکړئ .
- په تياره کې رنگونه له يو بل سره اختلاف نه لري .
- يوازې هيله بسنه نه کوي، بلکې خوځښت، زغم، فکر کول او توکل هم اړين دی .
- د خپلې هرشېبې افکار وساته، ځکه غير ارادي افکار به دې د ارادي افکارو په پرتله څو څو ځله په درد وخوري .
- د سهار هيله ښېگڼه ده، مگر د ماښام هيله بد گڼه .
- بريا د هغو کسانو حق دی، چې له خپلو ماتو څخه يې درس اخيستی دی .
- کبرجن کور ته اور ور اچوي، ترڅو په لمبو کې يې د ځان د مړولو له پاره هگۍ پخې کړې .
- هغه څوک چې د خپل زړه غم خپل ملگري ته ووايي، نو د خپلې اندېښنې پېټی به سپک کړي .
- رښتينی ملگري هغه دی، چې په غم او ښادۍ کې مو شريک، نېکمرغۍ مو دوه چنده کړي او نيمې ستونزې مو په ځان ومني .

## د شوپنهاور يناوې



- موږ کله نا کله د هغه څه په اړه فکر کوو، چې لرو يې، په داسې حال کې د هغه څه په اړه تل فکر کوو، چې نه يې لرو .
- بشپړ انسان هغه دی، چې خپل ژوند په خپله جوړ کړي .
- که چېرې په بې غورۍ سره کوچنۍ ګنا وکړو، داسې ورځ به را ورسېږي، چې تر ټولو ستره او سخته ګنا به هم له خجالت او پښېمانۍ پرته ترسره کړو .
- انسان هغه څه چې غواړي اراده يې کولای شي، خو دا نه شي کولای، چې څه اراده وکړي .
- دنده د اندونو د ځلا هنر دی .
- هغه کس، چې د کار له کولو وروسته پښېمانه کېږي، دوه ځلې بدمرغه کېږي او دوه وارې ځان کمزورۍ ښکاروي .
- ماته ووايه، چې دې نړۍ ته له راتګ مخکې چېرته وې ؟ ترڅو ووايم، چې له مرګه وروسته چېرته ځې .
- کوم انسان چې هېڅ وخت نه لري، هغه څوک دی، چې لږ کار کوي .
- د کب لکۍ او د ښځې زړه ساتل ستونزمن کار دی .
- هره جدايي يو ډول مرګ دی او هر ليده کاته يو ډول قيامت .
- کله چې روغتيا ته زيان ورسېږي، د ټولې نړۍ شربتونه چې خولې ته ورسېږي، نو په زهرو بدلېږي .
- د ژوند خوشاله شېبې د شنو او ښکلو ونو په څېر دي، کله چې له لرې څخه يې ګورو، ډېرې ښکلې تر سترګو کېږي او کله چې ورنږدې شو او دننه ور ننوځو، نو ښکلا يې له منځه ځي، په دې وخت کې تاسو نه پوهېږئ، چې ښکلا يې چېرته تللې ده؟ هغه څه چې وينئ يوازې څو ونې دي .
- د ځوانۍ او زړښت ستر توپير دادی، چې د لومړۍ موخه ژوند او د وروستۍ هغه مرګ دی .
- ټولې هيلې له اړتيا نه سرچينه اخلي، يانې کمښتونه او غمونه .
- د بشر تر ټولو ستره قرباني د مين له لاسه ورکول دي .
- د ژوند لومړنی درس، چې بايد مور او پلار يې خپلو اولادونو ته ور زده کړي، رښتينولي ده .
- مينه هغه پېرۍ دی، چې ټول يې په اړه خبرې کوي، خو هيچا ونه ليده .

- ټېټ او رزيل خلک د سترو خلکو له تېروتنو څخه ډېر خوند اخلي .
- ښځه هغه ځناور دی، چې وېښتان يې اوږده فکر يې لنډ دی .
- که څه هم ښکلا د درنښت او شرافت بنسټ دی، خو له زرگونو ستونزو او کړاونو سره و گرېوان ده.
- هنرمن په رياضي نه پوهېږي .
- آيا دا ناپوهي نه ده، چې د نن ورځې خوږې شېبې د راتلونکو ورځو نه قربان کړې .
- د شتو راټولول، بريا ته رسېدل، د پوهې او شهرت تر لاسه کول، هېڅ يو له روغتيا سره سيالي نه شي کولای . د روغتيا ساتنې له پاره، بايد له هرهغه څه څخه چې روغتيا ته زيان ورسوي، ډډه وشي . په ځانگړې توگه له رواني شهوت څخه .
- د خلکو راز د زنداني خاصيت لري، چې کله خلاص يا آزاد شي، نو پرهغه باندې تسلط امکان نه لري .
- ژبه د يوه ملت تر ټولو ارزښتمن ميراث دی .
- تر ټولو غوره اولاد هغه دی، چې هېڅکله ونه زېږي .
- اراده له هغه ړوند سړي څخه پياوړې او ځواکمنه ده، کوم چې په خپلو اوږ باندې شل سړی لېږدوي، تر څو هغه ته لارښوونه وکړي .
- د سيالۍ برېښېدونکې نښې په پوهنه، هنر او ورزش کې په سترگو معلومېږي .
- مينه او مينتوب، که هرڅومره نېکه او په ښکلو احساساتو ځرگنده شي، بيا هم شهواني ريښې لري.
- قلم د هغه د خاوند د روح او مغز په اندازه د خير او شر لامل کېدای شي .
- کابو زموږ ډېر غمونه له نورو سره د اړيکو نه را پيدا کېږي .
- هېڅوک نه پوهېږي، چې په خپل ځان کې د دردونو او کړاونو د زغملو څومره وړتيا لري، تر هغه وخته پورې، چې يوه پېښه رامنځته شي او دا ځواک په خوځښت راولي .
- يو ډاکټر پرته له ځانه د هرچا درملنه کولای شي، کله چې ناروغ شي، نو د خپلې درملنې له پاره خپل يوه همکار ته ورځي .
- واده ياني د حقونو نيمايي کول او د مسؤليتونو دوه برابره کول .
- هر حقيقت له درې پړاوونو څخه تېرېږي : لومړی ملنډې پرې وهل کېږي . دويم له سخت مخالفت سره مخامخ کېږي، درېيم د يوه ښکاره امر په توگه منل کېږي .
- موږ د خپل وجود درېيمه يا څلورمه برخه د دې له پاره له لاسه ورکوو، چې د نورو په څېر و اوسو .

- لومړنۍ دنده له ژوند څخه د خپل حق اخيستل دي .
- هغه کسان چې د مينې په موخه واده کوي، تل به بد مرغه وي .
- کله چې مطالعه کوو، نو زموږ پرځای يو بل څوک فکر کوي، مو يوازې د هغه ذهني بهير تکرار وو.
- افکارو او غوښتنو، چې په يوه موده کې يې حضور درلوده، د انسان په څېره باندې يې خپل اغېز پرېښی دی .
- که چېرې هرڅوک يوازې په خپل کار بوخت شي، نو ډېرې ستونزې به حل شي .
- هېڅکله مه پرېږدئ، چې کوم څيز مو فکري ژوند ودروي، که څه هم کېدای شي د نړۍ بې امنه توپان زموږ چاپېريال بې نظمه او يا هم له منځه يوسي
- هر کتاب د يو ځل لوستلو ارزښت لري، هېڅ کتاب ته په کمه سترګه مه ګورئ، ځکه چې خزانه په ويرانه کې وي .
- پوه هغه دی، چې زده کړې يې کړې وي؛ نابغه هغه دی، چې ور څخه يو څه زده کړو او هېڅکله يې له چا څخه څه نه وي زده کړي .
- کله وخت د ځان په اړه د قضاوت پرمهال اراده په کوښښ لاس پورې او عقل له کاره لوېږي، نو ځکه بايد له ملګري سره مشوره وکړو .
- هغه څوک چې غواړي ستر کارونه ترسره کړي، نو راتلونکو ته دې پام وکړي او په ټينګ او رښتيني هوډ سره دې را روانو نسلونو ته فعاليت وکړي .
- يوازې پاتې کېدل د ټولو لويو لارو ژوند ليک دی، دا ژوند ليک دی، چې هر څوک درباندې خواشيني څرګندوي، مګر زه وايم چې د نورو ژوند ليکونو په شان خواشينونکی نه دی .
- هغه کسان، چې د ډېرو خلکو له منځ څخه را بهر کېږي، هغه کسان چې ورته د نابغه نوم ورکول کېږي. يوازې همدوی د بشريت تر ټولو لوړ او حقيقي ډول دی .
- که له خدايه روغتيا، شتمني او د سر امن غواړې، نو هر څه به دې غوښتي وي .
- دا چې مغز بايد د خېټې نوکر او مزدور وي، په حقيقت کې دا د هغو کسانو عقيده ده، چې نه يې په خپل لاس ګټل شوې ډوډۍ خوړلې او نه يې هم په خپله برخه قناعت کړی دی.

## د کنفوسیوس ویناوې



- که خلک ما ونه پېژني پروا نه لري، خو که زه خلک ونه پېژنم هرومرو به خپه شم .
- څوک چې د نورو د ښېګڼو ساتنې ته لېوال وي، هغه په حقیقت کې د خپلو ښېګڼو ساتنه وکړه .
- لویان له دریو شیانو څخه ځان ساتي : په ځوانۍ کې له شهوت څخه، په کمزورۍ کې له جګړې څخه او په زړښت کې له شهرت څخه .
- که په غلطه لاره لاړې، نو له بېرته را ګرځېدو څخه یې مه وېرېږه .
- مخکښ انسان هغه دی، چې په وینا کې بیړه ونه کړي او په کار کې خوښي ښکاره کړي .
- یوازې هغه کسان، چې ډېر یې ژړلي، کولای شي د ژوندانه د ښکلاو په ارزښت پوه شي او د زړه له تله وخاندي .
- څوک چې په حقیقت پوه وي، له هغه چا سره ډېر توپیر لري، کوم چې حقیقت پرې ګران دی .
- حق تل له وېرې پرته بیان کړه او شیطان وشرموه .
- که په څه پوهېږې، نو باید پوه شي چې پوهېږې او که نه پوهېږې باید پوه شې، چې نه پوهېږې، نو حقیقي پوهه همدغه ده .
- پوهه انسان له شک څخه ژغوري، اخلاقي لوړتیا هغه ته له درد او غم څخه نجات ورکوي او لوړ همت او اراده هغه له وېرې څخه ژغوري .
- د ښه سړي تېروتني داسې وي، لکه لمر یا سپوږمۍ چې تیاره شي، که هغه غلط کار وکړي، نو ټول یې ویني او که هغه خپله تېروتنه اصلاح هم کړي، نو بیا یې هم خلک ویني.
- د دې پرځای چې په تیاره لعنت ووایئ، نو یوه شمعه بله کړئ .
- د بېوزلو او غریبانو داسې درناوی وکړئ، لکه له پاچا سره چې مخامخ کېږئ .
- زاړه معلومات په کار اچول او د هغه له مخې نوي معلومات تر لاسه کول، زموږ د زده کړې له عمده اصولو څخه دي، څوک چې دغه چاره پر ځای کوي، هغه ته ښوونکی ویلی شو .
- طمعه د ټولو بدیو مور او سر چینه ده .

- څوک چې د خپل شخصيت په مټ حکم چلوي، هغه د شمالي قطب ستوري ته ورته دی، چې پر خپل ځای په حرکت کې پاتې کېږي او نور ستوري د هغه په محور څرخي .
- له دنيا څخه بې پروايي په قناعت سره وغواړه، ځکه څه شی چې انسان شتمن کوي، هغه قناعت دی .
- په ناسته ولاړه کې بايد ځان د وجدان له خاوندانو سره يوځای کړو او له بې عزته خلکو نه ځان وژغورو .
- په قضاوت  کولو کې نه ډېره چټکتيا په کار ده او نه هم ډېر ځنډ .
- ظالمانو ته کتل او د هغوی خبرو ته غوږ نيول د ظلم پيل کول دي .
- غوسه ناک سړی، تل له زهرو ډک وي .
- ښځه ډېر ښکلې او قېمتي موجود دی .
- هره ورځ ځان نوی کوه، بيا هم ځان نوی کوه، تل ځان نوی او تازه ساته .
- په کوچنيو کارونو بوختېدل له لويو کارونو نه پاتې کېدل دي .
- د ښېګڼې بنسټ له انسان سره مينه او د پوهې بنسټ د انسان پېژندل دي .
- هغه څه چې زما خوښېږي، نورو ته يې هم خوښوم .
- زه هره ورځ له ځانه درې پوښتنې کوم : هغه دندې چې زما پر غاړه دي، د وجدان له مخې يې سرته رسوم ؟: له نورو سره په اړيکو کې انساني ارزښتونه په پام کې نيسم ؟: هغه څه چې نورو ته يې ښيم، په خپله يې منم او هماغسې کوم ؟
- هغوی چې رښتيني ښه دي، هېڅکله به بدمرغه نه شي، هغوی چې رښتيني پوه دي هېڅکله به بېوزلي نه شي او هغوی چې رښتيني زړور دي هېڅکله به ماتې ونه خوري .
- انسان ته ښايي، چې نورو ته د ورونو په سترګه وګوري .
- ښځه تر هر څه اغلې او ښاغلې ده .
- ژوند مو چېرته وپېژانده، چې مرګ وپېژنو .
- وياړ او شتمني، چې له غلطې لارې په لاس راغلي وي، د ژر تېرېدونکې وريځې په شان ده .
- هېڅ بد فکر ته دې په سره يا زړه کې ځای مه ورکوه .
- د هغه څه له ښودلو څخه، کوم چې زده کړي مې دي، هېڅکله نه يم ستړی شوی، دا يو ډېر نا څيز خدمت دی، چې د ځان له پاره يې تر سره کووم .
- بريا د ماتې په څېر خطرناکه ده .

- هر هغه څه چې زما په ژوند کې پيدا کېږي، دا ټول زما د مېرمنې همکاري او لورينه ده .
- پائه د زوال پرمهال او مېوه د کمال پرمهال را غورځي، نو وګوره، چې څه ډول راغورځې، د ژېړې پاڼې په څېر او که د سرې منې په څېر.
- د انسان په ژوند کې درې لارې دي :
- لومړۍ لاره : له فکره تېرېږي، چې دا تر ټولو غوره لاره ده .
- دويمه لاره : له تقليده تېرېږي، چې دا تر ټولو آسانه لاره ده .
- درېيمه لاره : له تجربې تېرېږي، چې دا تر ټولو ترخه لاره ده .
- له خپلو تېروتنو څخه مه شرمېږه او هغه جرم مه ګڼه .
- هغه څوک چې د راتلونکې په اړه فکر نه کوي، نو په راتلونکې کې به له ستر غم سره لاس و ګرېوان شي .
- کنفوسيوس څلور خبرې له ځانه غورځولې وې لکه : زه، وبه يې کړم، بايد او هرومرو .
- کنفوسيوس له څلورو خصلتونو څخه آزاد و لکه : بې ځايه کرکه، پرته له پوهېدو تصديق کول، سر ټنبه ګي او ځان غوښتنه .
- د سيمې ولسوال کنفسيوس ته وويل : ( په سيمه کې داسې سپېڅلي خلک هم شته چې که پلار يې مېږه پټه کړي، نو زوی به يې د غلا خبر راکړي )
- کنفسيوس په ځواب کې ورته وويل : ( خو زموږ په ځای کې سپېڅلتيا داسې ده، چې پلار د زوی او زوی د پلار سلامتي غواړي او دواړه د سپېڅلتيا په لاره کې هڅې او هاند کوي .
- له کنفسيوس نه يې پوښتنه وکړه : ( آيا هغه ښه سړی دی، چې په ټولو ګران وي ؟ )
  - ويل يې : ( نه )
  - پوښتنه يې وکړه : ( آيا داسې څوک شته چې د ټولو زښت وي ؟ )
  - وې ويل : ( ښه سړی هغه دی، چې په ښو خلکو ګران او د بدو خلکو زښت وي ) .
  - له کنفسيوس نه يې پوښتنه وکړه : ( کېدای شي، چې ښه کړه وړه په لنډول بيان کړې؟ )
  - وې ويل : ( څه شی دې، چې ځان ته نه خوښېږي بل ته يې هم مه خوښوه ) .
- جر و بحث  او مناظره غوسه را پيدا کوي او غوسه ناک سړی حقيقت نه پېژني .
- منځ مهالي او اندازه ساتل د انسان د طبيعت کمال دی .

- په هغې دنده باندې فکر مه کوه، کومه چې تاته نه وي در سپارل شوي .
- هغه څه چې اورې او یا يې وينې، نو چاڼ يې کړه او هغه څه چې ښه دي، د ځان له پاره يې وساته .
- بد کار چې هر څومره پټ وي، بالاخره بربنډېږي .

## د لارو شفوکو ویناوې




- په کینه کې، ځان غوښتنه له مينې مخکې حکومت کوي.
- کله چې انسان په خپل ځان کې آرامتيا پيدا نه کړي، نو په بل ځای کې يې لټه بې ګټې کار دی.
- د ښځې بې پروايي هغه سينګار دی، چې په ښکلايي ور زياتېږي.
- زموږ ناکامۍ تل د هغو بانو له امله ښښل کېږي، کومې چې د توجيې له پاره يې کوو.
- په مينه کې وفا داري دوه سببونه لري، يو دا چې ورو ورو په خپل دوست کې داسې شيان پيدا کوي، چې د دوستۍ وړ وي او بل دا چې په خپله وفادارۍ وياړي.
- د انسان پوهه په دې کې ده، چې په خپله ناپوهۍ پوه شي.
- مينه او مين له ډېرو خبرو څخه ځکه نه ستړي کېږي، چې دوی ټولې خبرې د ځانونو په اړه کوي.
- بد خلک تل خپل عيبونه له نورو پټوي، مګر ښه خلک تل په خپلو عيبونو پوه او خبر وي.
- ښځې چې د مينې خوند وڅاکه، بيا نو دوستي خوند نه ورکوي.
- انسان هله ډېر تېروځي، چې فکر کوي نور يې تېر يوستي دي.
- زړښت د ښځو له پاره جهنم دی.
- د لويۍ غوښتنې حس په ټولو خلکو کې يو شان دی، خو توپير يې په څرګندولو کې وي.
- څوک چې بې هنره او بې فضيلته انسان ستايي، نو داسې ده، لکه هغه ته چې ښکنځلې کوي.
- لکه رښتينې مينې چې لږ دي، رښتينې ملګرتياوې هم لږ دي.
- دا چې موږ فکر کوو، چې ځينې څيزونه امکان نه لري، دا په دې مانا ده، چې موږ خپل ځان ناتوانه ګڼلی دی.

- ټيټيال هغه ناچله روپۍ ده، چې زموږ ځانځانۍ دود کړې.
- کله ناکله له عقل څخه د بېځایه کلمو د کارولو له پاره هم ګټه اخلو.
- شتمنو ته د پوهې لاسته راوړل دومره ګران دي، لکه پوهانو ته د پیسو لاسته راوړل.
- لرېوالی عادي مینه له منځه وړي، مګر سترې او تل پاتې مینې ته نور هم ځواک وربښي، لکه باد چې شمعه مړه کوي او، اور لا پسې تازه کوي.
- که مشران او واکمن په هغو ښېګڼو وستایل شي، چې نه یې لري، نو دا به هغه ښکنځلې وي، چې د جزا له وېرې پرته ورته کېږي.
- د دښمنۍ تر ټولو غوره لاره، له وړتیا او استعداد څخه کار اخیستل دي.
- ځواني مستي او د عقل تبه ده.
- کله چې وګورم، خلک په یوه موضوع کې له ماسره همغږي دي، نو فکر کووم، چې تېروتی یم.
- دوکه او ټګي تر ډېره د کمزورو خلکو کار دی.
- کولای شو، چې مینه له روح سره تشبیه کړو، ځکه چې په سترګو نه لیدل کېږي، خو په اړه یې خبرې کېږي
- په مینه کې ټینګار زموږ کمزوري ښیي، نه ځواک.
- وېره او هیله تل له یوبل سره وي.
- هېڅ شی ناشونی نه دی او هر کار لاره لري، که په غوره توګه اراده وکړو، نو په کافي اندازه وسایل موندلی شو.
- هغه چې په کوچنیو کارونو ځان بوختوي، دا په دې مانا ده، چې د سترو کارونو د تر سره کولو توان او وړتیا نه لري.
- د لومړۍ غوښتنې ترسره کول د نورو غوښتنو له ترسره کولو آسانه دي، چې وروسته رامنځته کېږي.
- دا انسان دی، چې غواړي د دوستۍ په چوکاټ کې، له نورو څخه ګټه تر لاسه کړي.
- حرص د سړي او حقیقت ترمنځ توره وربځ جوړوي.
- ځینې کسان دي، چې په ځان باندې داسې مغروره دي، که چېرې مین شي، د خپلې مینې په پرتله به له ځان سره ډېره مینه وکړي.
- سستي ټوله تقوا له منځه وړي.

- بېوزله انسان د بې عقلۍ او ناپوهۍ حق نه لري.
- تقوا د ګټې په وخت کې ورکېږي.
- څوک چې څومره مينه ناک وي، په همغه اندازه ښښونکی هم وي.
- انسان د نورو په کار کې له خپل کار څخه ډېر هوښيار دی.
- که چېرې کبرجن ونه اوسو، نو د نورو له کبر څخه به هېڅکله شکايت ونه کړو.
- مخکې تر دې، چې يو شی تر لاسه کړې، دې ته ښه پام وکړه، چې هغه کس د دې څيز په لرلو څومره نېکمرغه دی.
- خپل دوستان له بېوزله او غريبې طبقې څخه غوره کړئ، ځکه چې په زړه کې يې مينه ډېره وي.
- هوښيار هغه دی، چې خپل ټول د ګټې مواد برابر کړي او هر يو په خپل ځای کې استعمال کړي.
- په غالب ګومان زموږ فضيلتونه زموږ زوال دی، خو په بدله جامه کې.
- ښکاره سيالي ځان غوښتنه او ځان ښودنه ده او له نورو سره د مينې هېڅ دليل پکې نه ښکاري.
- يوازې ستر خلک په سترو عيبونو باندې پوهېږي.
- که چېرې غواړئ، چې دوست پيدا کړئ، نو پرېږدئ، چې دوست خپله لوړه وکړي.
- ښځې هېڅکله نه وايي، چې له تاسره مينه لرم، مګر کله چې له تا نه يې پوښتنه وکړه، چې له ما سره مينه لرې؟ نو پوه شه چې په زړه کې يې ځای لرې.
- د يوه حقيقي دوست لرل، له هرڅه څخه ګران او ارزښتمن وي.
- بخت له ورک سوچه پرته بل څه نه دي.

## د لیو بوسکالیا ویناوې




- زموږ ډېری وخت پرته له دې چې پوه شو د مینې په ګرو کې تېرېږي .
- مینه او خوشالي ارادي لارې دي او بس .
- مینه عمر نه پېژني .
- مینه تل پاتې ده، دا موږ یو چې بې ثباته یو، مینه ژمنه ده او خلک ژمنه ماتوونکي، مینه تل د باور وړده، مګر خلک نه دي .
- د پیسو په وسیله کولای شو، چې جسم او حتی د نورو لږ درنښت پرې واخلو، خو مینه هېڅکله پرې نه شو اخیستلای .
- مینه په طبیعي مرګ نه مري، بلکې د بې تدبیرۍ له امله مري .
- داسې ښکاري، چې موږ د خپلو کامیابیو په پرتله له خپلو ماتو څخه ډېر ژر پند اخلو .
- د مینې تګلاره د ودې او پرمختګ تګلاره ده .
- په ناپوهۍ پسې تل پوهه راځي .
- هېڅ څیز د ماتې منلو په پرتله هغه نه شونې کوي .
- ربښتینې مینه هغه ده، چې د ډېرې ګټې په نه پام کې نیولو سره، نورو ته یې د ښنلو غوښتونکي واوسو .
- له خطر څخه لرې لوبې کول، یانې بایلل .
- تول په یوه اندازه کولای شو، چې مینه وکړو او د مینې کولو وړ وګرځو .
- که د هر دلیل له مخې نړۍ ته ترېو تندي ور وښایو، نباید د بل ځواب په تمه واوسو .
- که چېرې نور خپلو هیلو ته د رسېدو اسباب وګڼو، نو د هغوی مقام به مو د شیانو تر کچې را ټیټ کړی وي .
- که چېرې مینان یو، لکه څنګه چې د مینې له خوښیو څخه خوند اخلو، نو باید بدمرغۍ یې هم ومنو، ځکه چې دواړه د مینې د حقیقت برخه دي .
- د هغه چا په لټه کې واوسئ، چې له تاسو سره د ستاسو د توپیرونو او بدلونونو په سبب مینه ولري، نه په خلاف د هغو .
- ژوند زموږ ستره شتمني ده او مینه یې ستر سند او شاهد .

- د هغه څه اساس او بنسټ، چې تل پاتې ګڼل کېږي، صبر او زغم دی .
- کله وخت تر ټولو غوره خدمت، چې کولای شو د هغو له پاره يې ترسره کړو، له کومو سره چې د زړه کومې مینه لرو داده، چې تر څنګ يې ودرېږو، خاموشه واوسو، له صبر او زغم څخه کار واخلو، پوه شو او سترګې په لار پاتې شو .
- تر دې ډېر ورانوونکی څیز نه شته، چې پوه شې د هغو کسانو له خوا دوکه شوی يې، چې باور دې پرې درلوده.
- هغه مهال زاړه شوي یو، چې خپله دننني خوښي مو له لاسه ورکړې وي .
- په مینه کې ماتې شتون نه لري، مګر دا چې وغواړو د خپلې ماتې ګناه په بل چا ور واچوو .
- زموږ تر ټولو ارزښتمنه شتمني، زموږ عزت دی .
- یوازې بې درملنې درد هغه دی، چې په هغه باندې په اخته کېدلو سره، په موږ کې مثبت بدلون را منځته نه شي .
- باور لرل، د مینې تر ټولو ستره او بنسټیزه ځانګړنه ده .
- تر کله چې په دې نړۍ کې درد او کړاو، یوازېتوب او لوږه شتون لري، نو موږ د هغو په وړاندې ځواب ویونکي یو .
- دا چې په کومه کچه له موږ سره مینه کوي، له دې سره تړاو لري، چې په کومه اندازه مینه ناک یو .
- که چېرې خپل وقار مو نا لیدلی وګاڼه، نور نو حق نه لرئ، چې له بې وقارۍ څخه ګیله وکړئ .
- په ندرت سره يې منو، چې خپله د خپلو بدمرغیو ځواب ویونکي یو .
- زموږ د نېکمرغۍ د سترې برخې بنسټ، زموږ د عزت په حس باندې ایښودل شوی دی .
- هماغه تر لاسه کوې، چې ښښې يې او هماغه پیدا کوې، چې هیله يې لرې .
- د رښتینولۍ له مخې ستاینه کول ډېر آسانه دي او هېڅ لګښت نه لري، مګر نباید ارزښت يې کم وګڼو .
- مینه په زړو ټپونو باندې د مالګې دوړول نه، بلکې مرهم او پټۍ لګول، پورته کېدل او پرمخ تلل او دغه راز له ژوند سره پخلا کېدل دي .
- مینه له هغه چا سره هېڅ کار نه لري، چې ژر ماتې خوري او ژر نا هیلی کېږي .
- بریالي کسان هغه دي، چې د ژوند د مسایلو منونکي دي .
- رښتینې مینه ځان غوښتونکې نه ده .

- په رښتیا چې هیله د باور لرونکو کسانو له پاره د تل بهانده سیند په څېر ده .
- هغه کس چې د دنیا د غلطیو په وړاندې یې ماتې خوړلې ده، ښکاره ده، چې د هغه څه په وړاندې چې ښه او پر حقه دي، ړوند پاتې کېږي .
- د یو چا د سمې پېژندنې له پاره باید د خبرو په پرتله یې چلند ته ډېر پام وکړو .
- وخت زموږ تر ټولو ارزښتمنه شتمني ده .
- په هغه ځای کې چې مینه پیاوړی حضور ولري، اندېښنه، ناهیلي او وېره له منځه ځي .
- ځیرکي او هوښیاري تل زموږ تر ټولو غوره لارښود دي .
- د هر چا ژوند یې خپل دی، هر هغه څوک چې هڅه کوي، هغه له موږ څخه غلا کړي، باید ترې لرې شو .
- مینه یانې ژوند، که چېرې مینه له لاسه ورکړئ، نو ژوند به مو له لاسه ورکړی وي.
- په هر کار کې چې ترسره کوو یې، د مینې له پاره فرصت نغښتی دی .
- ښکلا او ښېګڼه، د بدرنګۍ او بد ګړې په وړاندې تر ټولو غوره وسله ده .
- مهمه نده، چې څه را پېښېږي، مهمه داده هغه څه چې پېښېږي، پرموږ باندې څه اغېزه کوي .
- په دې باندې پوهېدل، چې په داسې شرایطو کې یو، چې خپله نېکمرغي په خپلو لاسونو رامنځته کړو، ډېر ارزښت لري .
- مینه ژوند ته هو ویل دي

## د مارک تواين ويناوې




- ژوند د عقل او مينې ترمنځ له مبارزې پرته بل څه نه دي .
- د پرمختګ راز په پيل کولو کې دی او د پيل کولو راز په دې کې دی، چې خپلې سختې او پېچلې دندې په کوچنيو دندو چې
  - ○ د مديريت وړ وي، وويشئ او وروسته له لومړۍ څخه يې پيل کړئ .
- د غوره فکر له پاره په تمه مه پاتې کېږئ، غوره فکر ترسره کړئ، تر ټولو غوره به ورپسې راشي .
- ژوند به ډېر خوشاله وو، که چېرې په اتيا کلنۍ کې دې نړۍ ته راغلي وای او ورو ورو اتلس کلنۍ ته رسېدلی .
- مشران کوچينو او بې ارزښته کارونو ته ډېر ژر رسيدګي کوي .
- ښايي يو درواغ نړۍ وڅرخوي او بېرته يې خپل لومړني ځای ته ور وګرځي، مګر په همدې موده کې يو حقيقت شتون لري، چې د خپلو بوټونو مزي تړي، ترڅو حرکت وکړي .
- ستونزه دا نه ده، چې د احمقانو شمېر زيات دی، مګر ستونزه يې په نا مناسب وېش کې ده .
- مينه شنې چشمې دي، چې په وسيله يې انسان وانښه د شفتلې غوندېويني .
- چاپلوسان يوازې د دوست په څېر دي، لکه څنګه چې لېوان له سپيانو سره ورته والی لري.
- څوک چې ونشي کولای ځان مهار کړي، پرته له شکه، د نورو په مهار کولو کې به هم پاتې راځي .
- شل کاله وروسته د هغو کارونو له امله، چې ترسره کړي دې نه دي، ډېر افسوس کوې، د هغو په پرتله، چې ترسره کړي دې دي، نو په دې اساس د تسليمېدو روحيه يوه اړخ ته پرېږده، د امنيت له څنډې را بهر شه، لټون وکړه، وګرځه، هيله وکړه، او پيدا يې کړه .
- انسان د مينې د ترلاسه کولو له پاره، په ډېرو کارونو لاس پورې کوي؛ مګر د نورو د کينې د را پارولو له پاره هر کار يې چې په توان پوره وي، نو ترسره کوي يې .
- هڅه مه کوه، چې يوه خوګ ته سندرې ويل ورزده کړې، نه يوازې خپل وخت بېځايه تېروې، بلکې د خوګ د ځور لامل هم کېږې .
- مهرباني هغه ژبه ده، چې کاڼه کولای شي وايې وري او ړانده کولای شي، چې وې ويني .

- مور مي زما له پاره ډېرې سختۍ گاللي دي، مگر فکر کووم، چې له دې ټولو سختيو څخه يې په ژوند کې خوند اخيستی دی .
- د تعجب وړ خبره نه ده، چې رښتيا نسبت درواغو ته ډېر بېوزله او غريب دي، ځکه چې درواغ احساسات را پاروي .
- غوره ده، چې خپله خوله وتړې او احمق ښکاره شي، تر دې چې خلاصه يې کړې او ټول پوه شي، چې په رښتيا احمق يې .
- له احمقانو سره هېڅکله بحث مه کوئ، هغوی لومړی تاسو خپلې سطحې ته راټيټوي، بيا د خپل ژوند د يو عمر تجربې پرمټ تاسو ته په هغې سطحه کې ماتې درکوي .
- د پرمختگ راز پيلول دي .
- د نړۍ تر ټولو سخته کار له هغه چا سره بحث کول دي، چې له ځان سره يې ژمنه کړې ده، چې ونه پوهېږي.
- له درواغجن څخه پوښتنه مه کوه، ځکه چې درواغجن به هرو مرو د يوه درواغ ځواب په بل درواغ درکړي .
- د ستونزو د رامنځته کېدو لامل د افرادو ناپوهي نه، بلکې په ډېر څه پوهېدل يې دي، چې حقيقت نه لري .
- په هغه ځای کې چې آزادي نه شته، که چېرې رايه ورکولو څه بدلولای شوای، نو هېڅکله به يې اجازه نه وه ورکړې، چې رايه مو ورکړې وای .
- په نړۍ کې تر ټولو خطرناک ځای د خوب تخت دی .
- هېڅکله اجازه مه ورکوئ، چې څوک ستاسو له پاره لومړيتوب ولري، په داسې حال کې چې تاسو د هغه له پاره يوازې يوه ټاکنه واوسئ .
- ستاسو په ژوند کې دوه ډېرې مهمې ورځې شتون لري، هغه ورځ چې نړۍ ته راځئ او هغه ورځ چې د ولې ؟ د موندلو په لټه کې ياستئ .
- تاسو نه شئ کولای، چې په خپلو سترگو باور وکړئ، کله چې فکر مو متمرکز نه وي .
- سمه ده، چې په دې ځای کې يوه ښه خوړنځي ( هوټل ) شتون درلوده، مگر دا چې څه نه ثابتوي، نو يو وخت زه هم ښه هلک وم .

- هر انسان باید خپله په یوازې ډول هوډ وکړي، چې څه سم دي او څه ناسم .
- که چېرې تل رښتیا وواېې، نو اړتیا نه لرې، چې څه دې حافظې ته وسپارې .
- راځئ، چې د احمقانو له شتون څخه منندوی واوسو، که چېرې هغوی نه وای، نو نور کوم ځای ته نه شو رسېدلای .
- هرکله دې چې ولیدل، له ډېرو سره یې، نو دا هغه وخت دی، چې باید صبر او فکر وکړې .
- د خپل ځان له پاره تر ټولو غوره هڅونه، د نورو هڅول دي .
- زه نه د پوستکي له رنګ، نه قوم او نه هم ملت سره تعصب لرم، یوازینی څیز چې ورته ډېر ارزښت ورکوم، هغه دا دی، چې څوک انسان دی او که نه، له دې پورته نه شم اوسېدلی .
- د خلکو دوکه کول ډېر آسانه دي، په دې باندې د هغوی له پوهولو څخه، چې دوکه یې خوړلې ده .
- د هر چا آسمان د هغه د زړه د رڼا او تیارې په کچه دی، رڼا او تیاره .
- د هر چا له پاره تر ټولو رښتینی، تر ټولو بې تمې، تر ټولو ګټور او تر ټولو تل پاتې ملګری کتاب دی .
- موږ په خپل ژوند کې د ډېرو ستونزو او سختیو له پاره اندېښمن یو، چې له هغو څخه ډېری یې هېڅکله نه را منځته کېږي .
- الماس د ځمکې له تل څخه پرته په بل ځای کې نه شو موندلای او حقیقتونه له ژور فکر څخه پرته نه شو پیدا کولای .
- څوک چې ښه کتاب نه لولي، په هغه چا باندې هېڅ غوره والی نه لري، چې کتاب نه لولي .
- کتاب لوستل مهم نه دي، بلکې ښه کتاب لوستل مهم دي .
- له مینې څخه کرکه لرم، ځکه چې یو ځل مین شوم او خپله مور مې هېره کړه .
- واده دوه کسیز تړون دی، چې په ټوله نړۍ کې اعتبار لري .
- کله چې خپله موخه له لاسه ورکوو، نو اړ یو چې خپله هڅه څو برابره کړو .
- په دې ژوند کې چې ټول اړین څیزونه لرئ، ناخبري او پر ځان باندې اعتماد دی او بریا حتمي ده .
- کاشکې هېڅکله مې د وېرې حس نه وای تجربه کړی او نه مې وای موندلی، ځکه چې دا حس مې شېبې را خرابوي او خوښۍ مې له منځه وړي .
- موږ په دې ځمکه کې له درې څیزونو څخه برخمن یو : وېښ وجدان، د بیان آزادي او اړین احتیاط، د دې له پاره چې له دوه لومړیو څخه یې هېڅکله ګټه وانخلو .

- لومړی حقايق پيدا کړه، بيا چې هر ډول دې زړه وغواړي تحريفولای يې شې .
- کله چې شکمن يې، نو حقيقت ووايه .
- له مرگ څخه وېرېدل، له ژوند څخه د وېرېدلو په مانا دی، هغه انسان چې په سم ډول ژوند کوي، نو هره شيبه مړينې ته چمتو دی .

## د ميلان کوندرا ويناوې



- له اندازې ډېره ربښتينولي، هېڅکله ښه پايله نه لري .
- کله وخت د انسانانو سرنوشت له مرگ څخه يې مخکې پای ته رسېږي .
- دښمنان نه دي، چې انسانان په يوازېتوب او انزوا محکوموي، بلکې دوستان دي .
- هغه انسانان څومره مينه ناک دي، چې خپلو خبرو ته ورته دي .
- هېڅکله د ځان په اړه ډېرې خبرې مه کوه، ځکه چې ډېر ژر يې بوی پورته کېږي .
- هېڅ څيز له دې څخه غوره نه دی، چې لږ تر لږه په ژوند کې دې يو کس ولرې، چې د زړه له کومې ورسره مينه ولرې او د زړه له کومې تا مهربان وگڼي .
- کله چې زړه د خبرې کولو له پاره خپلې شونډې پرانيزي، نو له پوهې سره دا نه ښايي، چې بانه وکړي .
- که چېرې ناخبره يو، بې گناه يو ؟ آيا هغه ناپوه انسان چې د ځواک پر تخت باندې يې تکيه کړې، د ناپوهۍ په بانه، له هرډول مسؤوليت څخه لرې دی ؟
- مينه يوې امپراطورۍ ته ورته ده، هغه فکر چې د هغې پر بنسټ را منځته شوی وي له منځه لاړ شي، نو مينه به هم له منځه لاړه شي .
- که چېرې د مينې له لاسه ورکول د يوه لامل پر بنسټ وي، موږ تسليمېږو، خو که چېرې پرته له کوم لامل څخه مينه له لاسه ورکړو، نو هېڅکله به ځان ونه بښو .
- هېڅ څيز په ټول توان سره د ناتوانۍ له مخې د منډې وهلو په پرتله سپکوونکی نه دی.

- هغه مهال چې انسان ته موخه ارزښت ونه لري، نو پوښتنه نه کوي، چې چېرته ځي.
- مینه کول له ځواک څخه د سترګو پټول دي .
- ښکلا وروستۍ انساني بریا ده، چې نوره هیله نه لري .
- هېڅکله نه شو کولای، هغه کړنه چې یو ځل مو له لاسه وتلې وي، بېرته یې تر لاسه کړو .
- تاریخ لیکونکي د ټولنې تاریخ لیکي، نه د انسان تاریخ .
- له یو چا سره د همدردۍ له مخې مینه کول، حقیقي مینه نه ده .
- که د ژوند لومړی تمرین، خپله ژوند وي، نو ژوند ته کوم ارزښت ورکولای شو ؟
- هېڅکله باید پرېنږدو، چې راتلونکې د تېرو وختونو د پښو لاندې له منځه لاړه شي .
- دښځو له پامه غورځول ستر کفر او د الله (ج) مخلوق ته ستره بې احترامي ده .
- ژوند یو ځل دی او موږ هېڅکله ونه شو کولای، چې د سم او ناسم هوډ ترمنځ توپير وکړ؛ ځکه چې موږ په هر ډول شرایطو کې یوازې یو ځل کولای شو، چې تصمیم ونیسو، ژوند دوه ځله، درې ځله او یا هم څلور ځله موږ ته نه را کول کېږي، چې دا زموږ له پاره شونې کړي، تر څو خپل بېلابېل هوډونه سره پرتله کړو .
- شک او تردید یو طبیعي امر دی، انسان هېڅکله له هغه څه څخه چې باید وې غواړي خبر نه دی، ځکه ژوند یو ځل دی او نه شي کولای، چې هغه له تېرو ژوندونو سره پرتله او په راتلونکې کې یې سم کړي .
- که چېرې موږ د مینې کولو وړتیا نه لرو، کېدای شي دلیل یې دا وي، چې له نورو څخه دا هیله لرو، چې موږ ته مینه راکړي، پر ځای د دې چې له ادعا او هیلې پرته، خواته یې ورشو او یوازې د حضور غوښتونکي یې واوسو .
- له ماشومتوبه را بهر کېږو، پرته له دې چې وپوهېږو ځواني څه ده. واده کوو، بې له دې چې وپوهېږو متاهلي څه ده  او حتا سپین ږیري کېږو، نه پوهېږو چې چېرته ځو، نو له دې امله انساني ځمکه د بې تجربګۍ سیاره ده .
- انسان د داسې نړۍ غوښتونکی دی، چې پکې خیر و شر په ښکاره ډول تشخیص شي، ځکه چې په هغه کې ذاتي تمایل، سرغړونه او له پوهېدو مخکې قضاوت شتون لري .

- هغه څه چې د يوې ټاکنې پايله نه وي، نه شو کولای، چې وړتيا يا ناکامي ورته ووايو، د داسې تحميلي وضعې په وړاندې بايد سم چلند وکړو .
- انسان چې هر څومره په خپله دنننۍ تياره کې ژوند وکړي، په هماغه اندازه يې ظاهري بنه مړاوې کېږي .
- هغه څه چې روزل شوی فرد له ځانه يوه شوي فرد څخه جلا کوي، د پوهې پراختيا نه بلکې په ځان باندې باور دی .
- مرګ يوه ساده پېښه ده، چې د نورو پېښو په څېر په ډېرې آسانۍ را منځته کېږي .
- حتا تر ټولو ساده اوربدونکي هم هغه څه چې تېرېږي، لږ يا زيات يې تشخيصولای شي.
- موسيقي په خپل پېچلي شکل کې هم يوه ژبه ده .
- خلک يوازې د دې له پاره غواړي، چې په راتلونکې کې ارباب شي، چې تېر وختونه بدل کړي .
- کله چې انسان کتار پرېږدي، د دويم ځل له پاره کولای شي، چې ورته را وګرځي، مګر کله چې کړۍ ( دايره ) تړل کېږي، نور نو د راتګ لاره شتون نه لري .
- خلک تل چيغې وهي، چې غواړي غوره راتلونکې جوړه کړي، مګر دا حقيقت نه لري، راتلونکې نسبت ټولو ته بې مينې تشيال ( خلا ) ده .
- له ښو احساساتو څخه کولای شئ په ډېرې آسانۍ د سترو وحشتونو د توجيې له پاره کار واخلئ .
- يو ځل حساب نه دی او يو ځل د هېڅ وخت په څېر نه دی .
- د هغه چا مجازات کول، چې نه پوهېږي څه کوي، د وحشت نښه ده .
- هغه کس چې د همدردۍ ( ګډ احساس ) وړتيا نه لري، په ډېره سړه سينه د نورو چلند محکوموي .
- د سم هوډ د تشخيص له پاره هېڅ وسيله شتون نه لري، ځکه چې هېڅ پرتلنه شونې نه ده .
- تاريخ د بې دوامه بدلونونو پرله پسې کېدل دي .
- وحشت د يوه ګوزار حالت لري، دا هغه شېبه ده، چې انسان هېڅ څيز نهويني، په وحشت کې د هېڅ ډول ښکلا اغېز نه تر سترګو کېږي او انسان يوازې د سختو پېښو رڼا ويني، چې ورته سترګې په لاره دی .
- بشري وخت کړييز نه تېرېږي، بلکې په مستقيم خط پرمخ ځي، نو له دې امله انسان نه شي کولای چې نېکمرغه واوسي، ځکه چې نېکمرغي تکرار ته تمايل لري .

- فکرونه هم د خلکو ژوند ژغوري .
- انسان هېڅکله هغه څه نه دی، چې فکر کوي دی .
- انسان فکر کوي، خو په حقیقت نه پوهېږي .
- برخلیک اوسپنیزه مرمۍ ده، چې زموږ د پښې په ښنګري پورې تړلې ده .
- مهرباني د مصنوعي فضا د رامنځته کولو په مانا ده، چې په هغې کې له نورو سره باید د ماشوم په څېر چلند وشي .
- هره شېبه د هغې کوچنۍ نړۍ ښکارندوی ده، چې لا چاره په راتلونکې شېبه کې هېرېږي .
- د ناول روح، پېچلی روح دی، هر ناول لوستونکي ته وايي شیزونه له هغې څخه پېچلي دي، کوم چې ته یې فکر کوې .
- نظامي جامې هغه څه دي، چې موږ یې نه ټاکو، بلکې زموږ له پاره ټاکل کېږي او دا د فرد د بې ثباتۍ په وړاندې هماغه ټولیز ثبات دی .

## د نیلسن ماندیلا ویناوې



باور لرم، د خلکو په منځ کې تر ټولو خوشاله کس هغه څوک نه دی، چې غوره څیزونه لري، بلکې هغه څوک دی، چې له خپلو شته څیزونو څخه غوره ګټه واخلي .

- هېڅ څیز له ماشومانو سره د یوې ټولنې د چلند د څرنګوالي په څېر د هغې ټولنې عزت نه څرګندوي .
- باور لرم، اتل هغه څوک دی، چې هر کار په خپل وخت ترسره کړي، د پایلو په نه پام کې نیولو سره .
- زده کړه تر ټولو ځواکمنه وسله ده، چې کولای شئ د نړۍ د بدلون له پاره ترې ګټه واخلئ .
- که چېرې له یو چا سره په ژبه خبرې کوئ، متوجه کېږي چې ستاسو خبرې یې په سر کې کېني . که چېرې د هغه په ژبه خبرې کوئ، نو ستاسو خبرې یې په زړه کې کېني .
- د یوې لوړې څوکې له فتحه کولو وروسته په دې پوهېږئ، چې د فتحه کولو له پاره بې شمېره نورې لوړې څوکې هم شتون لري


- هره ورځ سهار په ځنګله کې هوسۍ له خوبه را ویښېږي، چې پوهېږي له زمري څخه باید چټکې منډې ووهي، تر څو د هغه خوراک نه شي او زمری په دې پوهېږي، چې باید له هوسۍ څخه تېزې منډې ووهي، ترڅو وږی پاتې نه شي . مهمه نه ده، چې زمری یا هوسۍ واوسې، مګر له هر لمر خاته سره، په ټول توان منډې وهلو چمتو واوسه .
- زه له نژاد پالنې سره مخالف یم، ځکه هغه وحشیانه چلند ګڼم، که د تور پوټکو له خوا وي او که د سپین پوټکو له خوا .
- د آزادۍ په لور هېڅ آسانه لاره شتون نه لري، موږ باید د مرګ له سیورو ډکې درې څخه تېر شو، ترڅو د خپلو غوښتنو لوړې څوکې ته ورسېږو
- که چېرې غواړئ، چې له خپل دښمن سره سوله وکړئ، نو باید له هغه سره کار وکړئ، په دې توګه به له خپل دښمن سره شریک شئ .
- خپل سر نوشت په خپل لاس لیکم .
- کله چې انسان کوم کار ترسره کوي او ګومان کوي، چې دنده یې د خپل هېواد او خلکو له پاره ده، نو کولای شي، چې په آرامه ویده شي .
- آزادي له لاس و پښو څخه د ځنځیرونو په غوڅولو نه خلاصه کېږي، بلکې آزادي د نورو آزادۍ ته درنښت لرلو ته هم اړتیا لري .
- بښنه کووم، خو هېروم یې نه .
- کینه دې ورته ده، چې زهر وڅکې او هیله من واوسې، چې دښمنان به دې ووژني .
- په انسان کې ښېګڼه د لمبې په څېر ده، چې کولای شي پټه پاتې شي، خو هېڅکله نه خاموشه کېږي .
- موږ باید له وخت څخه په هوښیارۍ ګټه واخلو .
- که ټاکل شوې وې، چې وینې په وینو ووینځو، نو بد مرغه کېږو، بښنه وکړو، خو هېر یې نه کړو .
- د دوستۍ پایښت له متقابل پوهاوي سره تړاوي لري .
- مهمه دا نه ده، چې ښکلی واوسې، بلکې ښکلا په دې کې ده، چې مهم واوسې حتا د یوه کس له پاره .
- کوچنی اوسه او مین، ځکه چې مینه ستا د سترولو په قانون ډېره ښه پوهېږي .

- موږ هم سالم ذهن او هم سالم زړه ته اړتیا لرو، د ژوند پرتمینتوب دا نه دی، چې هېڅکله په ګونډو نه شو، بلکې په دې کې دی، چې له هر ځل غورځېدلو وروسته بېرته را پورته شو .
- ژوند حیرانوونکی دی، که یوازې په دې پوه شئ، چې څه ډول ژوند وکړئ .
- په خپلو شکونو باور مه کوه او په خپلو باورونو هېڅکله شک .
- بریا پرمختګ دی، نه د پای ټکي ته رسېدل .
- پرېږده، چې مینه ستا ځانګړتیا وي، نه له چاسره ستا ځانګړې اړیکه .
- زوړرتیا د نه وېرېدلو مترادفه کلمه نه، بلکې زړورتیا په وېره باندې د غلبې په مانا ده.
- ـهغه څه چې کولای شئ له نیلسن ماندیلا ښخه یې زده کړئ :په ژوند کې چې هرڅه را مخته شول : د غوسې پرځای مهرباني . د کرکې پرځای مینه او د غچ پر ځای ښښنه وټاکئ .
- ښه ماغزه او ښه زړه، تل یو ځواکمن ترکیب دی .
- غوره انساني خوند دا دی، چې وپوهېږي، نسل ترې پاتې دی، مګر تر هر شته خوند غوره حس دادی، چې وپوهېږي د کورنۍ مسوولیت ور په غاړه دی او هر فرد کولای شي، چې له دې خوند څخه برخمن شي .
- باور لرم، له هغو کسانو سره باید په ښکلو دوستانه کلمو او الفاظو مخه ښه وکړم، کوم چې د زړه له کومې ورسره مینه لرم، ځکه چې ښایي دا وروستی ځل وي، چې هغوی وینم .
- کېدای شي زموږ ژوند د څو ساعتونو په لړ کې د هغو کسانو په وسیله چې حتا نه یې پېژنو، بدلون ومومي .
- زه باور لرم، کله وخت چې غوسه یم، حق لرم چې غوسه واوسم، مګر دا ماته دا حق نه را کوي، چې ظالم او بېرحمه واوسم .
- نباید د یو راز د کشف له پاره ډېره پلټنه وکړو، ځکه چې کېدای شي د تل له پاره زموږ ژوند ته بدلون ورکړي .
- باور لرم، کله وخت له ځینو  کسانو څخه دا هیله لرو، چې د پریشانۍ او کمزورتیا پرمهال به ګوزار راکړي، خو زموږ مرستې را دانګي او ژغوري مو .
- پوخوالی د هغو تجربو په ډولونو پورې او هغه څه مو چې ترې زده کړي تړاو لري، تر دې چې څو ځله مو د زېږون جشن نیولی .

- زه باور لرم، صرفنظر له دې چې زړه مو څومره مات شوی، دنيا به زموږ د غم او خپګان په خاطر خپل حرکت ونه دروي .
- ډېر وخت ته اړتيا ده، ترڅو هغه ډول شخصيت شم، چې غواړم يې .
- زه باور لرم، چې موږ د هغو کارونو مسوول يو، چې ترسره کوو يې، د دې په نه پام کې نيولو سره چې څه احساس ولرو .
- له الله (ج) څخه مې وپوښتل : څنګه کولای شم، چې غوره ژوند وکړم ؟
- خدای (ج) ځواب را کړ : تېر وختونه دې پرته له خواشينۍ ومنه . اوس دې په اعتماد سره تېر کړه او له وېرې پرته راتلونکې ته چمتو شه . ايمان دې وساته او وېره دې لرې وغورځوه . په خپلو شکونو باور مه کوه او هېڅکله په باورونو دې شک . ژوند حيرانوونکی دی، يوازې که پوه شې، چې څه ډول ژوند وکړې .
- باور لرم، ښايي دوه کسان په دقيقه توګه يوه څيز ته وګوري او په بشپړه توګه دوه بېلابېل څيزونه ويني .
- هغو ميليونونو انسانانو ته، چې د افريقا په سويل کې ژوندي کوي او هغو کسانو ته چې ليدلي مې دي او پېژنم يې، زما وړانديز دا دی، چې د خپلې دوستۍ په ارزښت پوه شي او ډېره مينه وکړي .
- زه باور لرم، چې زموږ دوست که هر څومره ښه او صميمي وي، نو يو وخت به زموږ د خواشينۍ لامل شي او موږ بايد هغه وبښو .
- نر په دې هيله له ښځې سره واده کوي، چې ښځه هېڅکله بدلون ونه کړي، ښځه په دې هيله له نر سره واده کوي، چې په نر کې يوه ورځ بدلون را منځته شي او تل دواړه ناهيلي کېږي .
- زه باور لرم، چې تل دا بسنه نه کوي، چې د نورو له خوا وبښل شو، کله وخت بايد زده کړو، چې خپله هم خپل ځان وبښو .
- ربښتيني ملګر تيا به خپلې ودې ته دوام ورکړي، حتا په لرې واټنونو کې . ربښتيني مينه هم دې ورته ده .
- باور لرم، که چېرې زه خپل ليد لوری او فکري کړنلاره کنټرول نه کړم، نو هغه به په ډېرې آسانۍ ما په خپل کنټرول کې راولي .
- هغه ستاينليکونه او تقدير نامې، کومې چې په دېوالونو باندې را ځړول شوي، موږ ته درنښت او وقار نه شي را کولی .

- زه باور لرم، چې موږ کولای شو، په يوه شېبه کې داسې کار ترسره کړو، چې د ټول عمر له پاره مو زړه ودردوي .
- هغه کسان چې تر ټولو زياته مينه ورسره لرم، ډېر ژر به را نه واخيستل شي .

## د واوشو ويناوې



- که چېرې ځان يو څوک وګڼې، لاره ورکوې، خو که چېرې ځان هېڅ وګڼې، نو موخې ته رسېږې .
- که چېرې ځانته بدلون ورکړې، نو د نړۍ بدلون دې پيل کړی دی، ستا په بدلون د نړۍ يوې برخې بدلون کړی دی
- ستونزه په مالکيت کې ده، نه په ژوند کې، هرڅومره چې ډېر مالک واوسې په هماغه کچه ډېر د له لاسه ورکولو په وېره کې يې . رښتينی افسوس به هغه ورځ وکړې، چې وګورې د خپل عمر په اندازه دې ژوند نه دی کړی .
- کله چې تسليم واوسې، ټوله هستۍ له تانه ملاتړ کوي، هېڅ څيز به له تاسره مخالف نه وي، ځکه چې ته له هېڅ څيز سره مخالف نه يې . ځان ومنه، هرڅه چې يې، حتی که نيمګړتيا هم لرې، وې منه، يوازې هماغه وخت کولای شې، چې له ځان سره له جګړې لاس واخلې او هوسا واوسې
- ژوند ياني د سولې زده کړه، له نورو سره سوله نه، بلکې له ځان سره سوله .
- مينه يوه تجربه ده، خو ژبه ډېره مکاره ده، نو په خپله ژبه ډېر پام کوه .
- سکوت په ځان مه تحميلوه، هېڅ څيز په ځان مه تحميلوه، خوشالي وکړه، سندرې ووايه، پرېږده چې ذهن دې ستړی شي، هغه مهال، ورو ورو د سکوت او آرمتيا کوچنۍ شېبې ستا بدن ته ننوځي .
- د مينې کولو وړتيا، د نړۍ تر ټولو ستر هنر دی .

که چېرې وکولای شې، په څه ډول چې بل ده، په هماغه ډول يې ومنې او لا پرې مين واوسې، نو ستا مينه رښتينې ده .

هر کله چې مين واوسې، نو د بشپړې عاجزۍ احساس کوې، د مينې درد همدا دی، ځکه ته کولای


شي، چې د خپلې مينې له پاره هر کار ترسره کړې، مگر پوهېږې چې د کوم کار د ترسره کولو توان نه لرې، مگر مينه همدا چې ټول فکر دې د بل په چوپړ کې وي، حتا که له توانه دې پوره هم نه وي .

- ته نه شې کولای، چې يو انسان تصرف کړې، ځکه چې هغه يو شخص دی، يوازې په شيانو باندې تصرف امکان لري، که چېرې تر اوسه هم د تصرف په لټه کې يې، نو ستا مينه شهوت دی .
- که چېرې ونه شې کولای، چې له خپلې معشوقې سره چوپ پاتې شې، نو پوه شه، چې تر اوسه نه يې مين شوی .
- د مينې تر لاسه کېدل، يوازې د مينې له لارې شونې ده، هرڅومره چې ډېره سر ښندنه وکړې، نو ډېره يې تر لاسه کوې .
- تر ټولو غوره انسان هغه څوک دی، چې په ماتې نه منونکي هوډ سره ټاکنه وکړي .
- که چېرې وکولای شې، په بشپړه توگه، د زړه له کومې او يوه زړې مينه وکړې، نو ستا ژوند له خوښيو او احساس څخه مال امال کېږي، نه يوازې د ځان له پاره، بلکې د نورو له پاره هم، په حقيقت کې به ته د دنيا له پاره برکت او خوښي شې .
- په هېڅ څيز باور مه کوه، ترڅو چې ازمويلی دې نه وي .
- د يوې بلې ورځې د ليدلو له پاره را وېښېدل يو نعمت دی، هغه کم مه گڼه په ارزښت يې پوه شه، خوشاله واوسه، له دې چې ژوندی يې .
- دننۍ سوله هغه مهال شتون لري، چې تاسو هوډ کوئ، اجازه مه ورکوئ، چې کوم څوک او يا هم کومه پېښه ستاسو احساسات کنټرول کړي .
- که چېرې ژوند وړاند وينه منونکی وی، نو ميخانيکي کېده، ژوند وړاند وينه منونکی نه دی، تل له حيرانتياوو سره مل دی او هرڅومره چې هوښيار واوسې، له زياتو حيرانتياوو سره مخامخ کېږې .
- سړی دوکه شي، تر هغه ډېر غوره دی، چې نور دوکه کړي، ځکه که چېرې دوکه ورکړې د ژوند تر ټولو ستره پانگه له لاسه ورکوې . د اعتماد کولو وړتيا له لاسه ورکوې او پرېږده چې تکرار يې کړم : د اعتماد کولو وړتيا د ژوند تر ټولو ستره پانگه ده، ځکه پرته له هغې نه مينه شونې ده او نه هم عبادت .
- يوازې هغه کسان، چې ځان تېرېدنې ته چمتو والی لري، کولای شي، چې مين شي.
- مينه له ځان سره نوې جگړې راوړي، دا جگړې روح د جنگ ډگر ته را بولي او بلوغ ته يې رسوي، له دې جگړو څخه مه وېرېږه .

- کب د سمندر په اړه په څه نه پوهېږي، ځکه چې په سمندر کې زېږېدلی دی او په هغه کې ژوند کوي، مگر کله چې هغه له اوبو څخه ونیسي او د ساحل په تودو شگو باندې یې وغورځوي، نو هغه مهال به کب خپل رښتینی کور وپېژني او دې ته یې پام کېږي، چې څه څه یې له لاسه ورکړي دي او زړه یې ډېر غواړي، چې ځان سمندر ور وغورځوي . خلک به د مرگ په شېبه کې د ژوند په رښتیني ارزښت او مقام پوه شي .
- مرگ د ژوند پای نه، بلکې د یوه ژوند بشپړتیا ده .
- ژوند یوه معما نه، بلکې یو راز دی، د معما له پاره کولای شو، چې ځواب پیدا کړو، مگر راز په داسې ډول دی، چې نه شو کولای ورته ځواب پیدا کړو .
- حقیقت سوداگریز توکي نه دي، چې د خلکو له خوا واخیستل شي .
- یو کوچنی درواغ له ځان سره یو زر یو نور درواغ راوړي، ځکه ته اړ کېږې، چې ترې دفاع وکړې او نه شې کولای چې په حقیقت له درواغو څخه دفاع وکړې .
- کله چې ځان دې وپېژانده، کولای شې چې هرځای ته سفر وکړې، نو هرځای ته چې لاړ شې، نېکمرغي به له تاسره وي .
- ستاسو شاوخوا نړۍ ډېره ښکلې او دوکه کوونکې ده، په همدې دلیل موږ خپلې رېښې هېرې کړې دي، مگر دا هېره له رېښو څخه د جلا کېدو په مانا نه ده .
- هېڅکله د نورو د خوشاله کولو فرصت له لاسه مه ورکوئ، ځکه چې په دې کار کې لومړی تاسو گټه تر لاسه کوئ .
- کېدای شي د مرستې کولو هوډ ولرې، مگر که چېرې په بدن کې دې د خوشالۍ انرژي نه وي، که له دې انرژۍ څخه برخمن ونه اوسې، لاچاره زیان به ورسوې .
- ژوند دې د کوم څه له پاره مه قرباني کوه، بلکې د ژوند له پاره دې هرڅه قرباني کړه .
- یوه انسان پوهېږي، چې ژوند د بدلون په حال کې دی؛ ژوند یانې بدلون، یوازې یو څیز تل پاتې دی او هغه هم خپله بدلون .
- مینه نه ده، مینه کول دي، پیوند نه دی، پیوند پیدا کول دي، ترانه نه ده، ترانه ویل دي، نڅا نه ده، نڅېدل دي .

- احمق انسانان ډېر لنډ فکري دي، ځکه پرېکنده پايلې ته رسېدلي دي؛ نه يوازې د ځان له پاره، بلکې د نورو له پاره هم ! غواړي دا پايلې په ټولو خلکو باندې تحميل کړي او گومان کوي، چې په دې کار سره له خلکو سره همدردي کوي .
- لمر را ختلی دی، مگر ته په تياره کې يې، د لمر را ختل ستا له هڅو سره تړاو نه لري، هر کار چې وکړې، نه شي کولای چې د لمر د راختلو لامل شې، مگر دومره کولای شې، چې خپلې دروازې پرانيزې او يا يې هم تړلې
- وساتې .
- هغه انسان چې د حقيقت د کشف او موندلو په لاره کې هڅې کوي، بې له ځنډه ټولنه يې دښمنه کېږي .
- ژوند يوه لوبه او سيالۍ نه ده، نو له نورو سره د ځان د پرتله کولو له پاره هېڅ دليل شتون نه لري .
- هېڅوک نه شي کولای، چې تاته بدلون درکړي، يوازې خپله کولای شې، چې ځان بدل کړې .
- اصيل او رښتينی اوسېدل بې پايه ښکلا ده .
- که چېرې مينه نه احساسوې؛ نو ځان ښودنه مه کوه، هڅه مه کوه، چې داسې وښايې، چې مين يې، حتا که غوسه يې وواية، چې غوسه يم او واوسه، مگر رښتينی واوسه .
- که چېرې په يوه گل مين يې نبايد هغه را وشکوې، ځکه چې گل له ودې څخه پاتې کېږي او له منځه ځي، په دې اساس که په گل مين يې بايد اجازه ورکړې، ترڅو گل وده وکړي . مينه مالکيت نه، بلکې ستاينه او منښه ده .
- لومړنی گام هغه دی، چې ژوند په هغه ډول ومنې، په کوم ډول چې دی .
- يوازې مړ انسان هڅه کوي، ثابته کړي، چې ژوندی دی .
- که چېرې مينه ونه شي کولای، چې له تانه يو شاعر جوړ کړي، نو بل هېڅ څيز به ونه شي کولای .
- د انسان تر ټولو ستره خوښي، د هغه آزاد اوسېدل دي .
- هغه انسان چې حقيقت رسېدلی، څنگه کولای شي چې دروغ ووايي ؟ د څه له پاره دروغ ووايي ؟ د ويلو له پاره هېڅ دروغ نه لري .
- هغه پټه کيلي، چې د معجزو دروازې پرانيزي، خوشاله اوسېدل دي .

## د ويکتور هوګو ويناوې



- څه چې وايې هغه عملا وکړه او څه چې کوې هغه ووايه .
- که نه غواړې او ازمويل شې، نو خپل کارونه سم تر سره کړه .
- ژوند ګل دی او مينه يې شات دي .
- هر څوک خپل ارزښت  په خپله ټاکي.
- که همغږي د بشر په ژوندانه کې نه وای ، نو ! نه  به ابتکار موجود وو او نه هم اختراع .
- هره پاک لمنې ښځه ښکلې او زړه وړونکې ده .
- که انسان وتوانيږي غم د يوه ښار په څېر پرېږدي او ترې لاړشي ، کولی شي خوشالي له سره ومومي .
- مينه ښکلي او بدرنګ  نه پېژني .
- د مينې له سببه را پيداشوي غم  ته  غم مه وايه .
- له عدل او انصاف پرته هر ډول حکم صادرول ښه ندي .
- مخکې له دې چې خزان راشي له  پسرلي ګټه واخله .
- ستاسې اصلي ژوند له هغې وروسته پيليږي ، کله چې د خپل سرنوشت  جلب په لاس کې واخلئ .
- هغه چاته مينه ورکړه چې ستا د مينې وړ وي نه ترې ، څکه د مينې ترې يو وخت مړيږي .
- د پوهې دروازې بايد د ټولو په مخ خلاصې وي ، چېرته چې انسانان وي هلته بايد کتابونه هم وي .
- له مرګ بتره څه دي ؟ هغه څه چې ورسره مخ  شې مرګ  وغواړې .
- ښه ملګري مې هاغه دي چې خلاص تندي لري .
- له وړکتوبه مې هيله درلوده چې لوی شم .
- هيلې د بشر په  ژوند کې دومره زيات ارزښت لري، لکه الوتونکو ته خپل  وزرونه .
- ادبيات د پرمختګ يو پټ  راز دی او شعر د هيلو  يو پنهان سور .
- هغه څوک چې پر خپل ځان کنټرول نلري ، د نورو احترام  نشي کولی
- د ماشومانو راتلونکې او دهغوی ښه روزنه د دوی په مور او پلار پورې تړلې ده .
- کله چې د ټاکنو پايلې علان شوې ،مانا دا چې د بريالي  ټيم  رايې  علان شوې دي .

- الله پاک يوازې اوبه پيداکړې خو انسانانو شراب هم ترې جوړ کړل .
- ممکنه ده چې د يوه لښکر د يرغل مخه ونيسې خو د د ښمن د افکارو او عقايدو د يرغل مخه نه نيول کيږي.
- فکر کول د ذهن دنده ده او خوب ليدل يې تفريح .
- کمبختي د لياقت او استعداد لار ښونکې ده .
- مرگ ته راضي کېدل هدف ته درسېدو مانا لري .
- د يو چا ستاينه کول او هغه ته ښه راغلاست ويل داسې دي لکه څوک چې د چادرۍ له پاسه ښکل کړې .
- کله چې د دښمن مړی دفن کوې نو هغسې دروند نه وي .
- زموږ آزادي له هغه نقطې پيل مومي ، چې د نورو خلکو آزادي پکې پای ته رسيږي .
- د ټولنې بدۍ زموږ په خپل لاس خلق شوې دي ، پر ځای ددې چې ژړا او فرياد وکړو ښه داده چې د له منځه وړلو په اړه يې فکر وکړو .
- مينه يو داسې روح دي چې په دوه زړونو کې ژوند کوي ، ځکه چې دوه تنه په يوه واحده پرښته بدلوي .
- زما خدايه ! که وغواړم هغه څه تاته ووايم چې په ذهن کې مې دي ، په زرگونه ټوکه کتابونه کيږي، خو ! هغه چې په زړه کې مې دي له يوې جملې زيات ندي .
- کينه او حسد هغه کسانو ته تسليم کړئ ، چې نه توانيږي ملگري وکړي .
- ټول جهنم په يوه کليمه کې پروت دی : يوازېتوب
- زه هېڅکله نه وايم چې تاسې په لومړۍ کتنه کې مه مين گيږئ ، مگر يقين لرم چې بايد دويم ځل هم ور وگورئ .
- د يوه سړي په ژوند کې دوې ورځې ارزښت لري ، يوهغه ورځ چې له يوې ښځې سره واده کوي او بله هغه چې خاورو ته يې سپارې .
- بختور هغه څوک دی چې له دغو دوو ځېزونو څخه يوه ته لاس رسی ولري : يويې کتاب دی او بل هغه ډله کسان چې کتابونه يې لوستي او لولي يې .
- بدمرغي د هوښياري زېږنده ده .

- له سر نه تېرېدل، بریالیتوب ته رسېدل دي .
- ادبیات د تمدن پټ راز دی او شعر د پټو هیلو سر چینه ده .
- شعر هغه پاروونکی ساز دی، چې د طبیعت، بشر او پېښنو غږونه يې سره يوځای کړي دي .
- هر ښوونځی مو چې پرانیست، نو د زندان يو ور مو وتاړه .
- باید د ټولو له پاره د علم دروازې پرانیستل شي، هر چېرته چې کرنه ده او هر چېرې چې انسان دی، نو هلته باید کتاب هم وي
- هر سړی د خوشالۍ دوې ورځې لري : یوه د واده ورځ ده او بله هغه ورځ ده، چې خپله مېرمن خاورو ته وسپاري .
- هره زانګو يو مړیستون هم دی .
- هغه څوک نېکمرغه دی، چې د نورو د عزت او درناوي لارې ورته معلومې وي او د نورو خوشالي د خپلو خوشالیو په اندازه احساس کړي .
- د الوتونکي په څېر شه، چې د ونې په یوه نري او کمزوري ښاخ باندې کېني، سندرې وايي او دا احساسوي چې ښاخ ښوري، مګر ډاډه دی، چې وزرونه لري .
- مخکې تردې چې منی راشي، نو له هر پسرلي څخه ګټه واخله .
- هر څوک خپل ارزښت په خپله ټاکي .
- د نننې هنر موخه ژوند ده، نه ښکلا .
- د پوهې ور دې د هر چا پر مخ پرانیستی وي، هر چېرته چې انسان دی، هلته دې کتاب هم وي .
- لا ماشوم وم، چې د لويوالي هوډ را سره و.
- د ناپېژاند ترمنځ د ملګرتيا څرګندېدل، د ستونزو ښکلا ده .
- زما تر ټولو ښه ملګری هغه دی، چې وړين تندی لري .
- لوږه او بې وزلي نر جنايت ته او ښځه فحشا ته هڅوي .
- ما د محراب مصلی وشکوله، ځکه چې د هېوادنيو ټپونو د تړلو اړتيا وه .
- یوه کوچنۍ مرغۍ، چې تر پاڼو لاندې غاړه وهي، د خدای (ج) د شتوالي پېژندلو ته بس ده .
- چې مرګ دې ومانه بری به تر لاسه کړې .
- بد مرغي اروا روزي .

- بد مرغي وړتيا روزي .
- بد مرغي عقل و پوهه روزي .
- بې ښېګڼې ښکلا بې بویه ګل دی .
- الله (ج) بختور ته داسې زړه وربښي، چې د مينې او سوي وړ وي. هغه چې د ژوندانه پېښې او انساني زړه يې د مينې او درد په دوه مخې هينداره ليدلي نه وي، ربښتينولي ې نه ده ليدلې او له نړۍ نه ناخبره دی .
- واده يو پيوند دی يا به ښه مېوه ونيسي يا بده .
- ښځه په نارينه او شيطان په ښځه لوبې کوي .
- مرګ څه خبره نه ده، ژوند نه کېدل ډېر بد دي .
- تر مړينې بد څه دي ؟ هغه څه چې تر راتلو وروسته يې مرګ غواړې .
- له هغه چا سره مينه وکړه، چې ستا د مينې وړ وي، نه د مينې تږی، د مينې تږی به يوه ورځ نه يوه ورځ موړ شي .
- هره پاک لمنې ښځه ښکلې او زړه وړونکې ده .
- که انسان وکولای شي، چې خپل خپګان د يوه ښار په څېر پرېږدي او لاړ شي، نو کولای شي، چې خپله نېکمرغي له سره پيل کړي .
- مينه ښکلی او بدرنګه نه پېژني .
- هر هغه څه چې وايې، نو ترسره يې کړه او هر هغه څه چې ترسره کوې يې، نو وې وايه .
- که چېرې نه غواړې، چې تا وازمايي، نو خپل کار په سمه توګه ترسره کړه .
- تر ټولو ستر آزموينه اخيستونکی الله (ج) دی او تر ټولو کوچنی آزموينه ورکونکی د خدای (ج) بنده .
- د وجدان عذاب په سوزنده سارا کې تر مړينې ډېر بد دی .
- تر ټولو نېکمرغه هغه څوک دی، چې له دې دوه څيزونو څخه يوه ته لاسرسی ولري : لومړی ښه کتاب او دويم هغه دوست چې د کتاب اهل وي .
- ټول جهنم په يوه کلمه کې شتون لري : يوازېتوب .
- د ټولنې ښه والی او بد والی زموږ د خپلو کړنو پايله ده، د شکايت پر ځای بايد بدمرغي له منځه يوسو .
- په ښکلا کې د کمي نه شتوالی په خپله يوه نيمګړتيا ده .

- بشر ځان اشرف مخلوقات ګڼي په داسې حال کې، چې له مخلوقاتو څخه ډېر کمزوری دی .
- کله بې وزلي او مسکيني دې بريد ته رسېږي، چې اړيکې او تړونونه شلوي، دا هغه مرحله ده، چې بد مرغه خلک چې هلته ور رسېږي، له هغو سره يو ځای کېږي او په يوه کلمه د بې وزلو په نامه سره ګډېږي .
- په هر ولس کې يو څراغ دی، چې ټولو خلکو ته رڼا ورکوي او هغه ښوونکی دی .
- هغه قلم، چې د خير په کار کې ونه چلول شي، نو مات دې شي .
- د بشر له پاره په ژوند کې هيلې دومره ارزښت لري، لکه مرغانو ته بڼکې او وزرې .
- طمعه هغه ځنځير دی، چې د هر آزاد بنده لاسونه او پښې يې تړلي دي .
- لکه څنګه چې د ټولو له پاره ښادي شته، نو غم هم شته .
- د ماشومانو راتلونکې د مور او پلار په روزنه پورې تړاو لري .

## زرتشت ويناوې




- په دې نړۍ کې زموږ جنت او دوزخ زموږ په خپلو لاسونو کې دی، ښېګڼه د ښېګڼې ځواب او بدي د بدۍ سزا، زموږ د ژوند پايله زموږ عملونه دي .له هغه ښوونکي څخه مننه کووم، چې فکر کول يې را زده کړي، نه فکرونه .
- لمر واوسه، که چېرې ودې غوښتل چې په چا باندې ونه ځلېږې، نو ونه شي کولای .

د دواړو دنياوو تر ټولو غوره ژوند د هغو کسانو له پاره دی، چې مثبت فکر وکړي او پرهېزګاري خپل بنسټ وګرځوي .

بېګناه واوسه، ترڅو وېره ونه لرې؛ منونکی واوسه، ترڅو د ښېګڼې وړ واوسې؛ رښتيا ويونکی واوسه، ترڅو پاينښت ولرې؛ عاجز واوسه، تر څو ډېر دوستان ولرې؛ ډېر دوستان ولره، ترڅو مشهور واوسې؛ سخي او ځوانمرده واوسه، ترڅو هسک واوسې؛ چالاکه واوسه، ترڅو هوښيار واوسې .

- له زرتشت څخه پوښتنه وشوه : ژوند دې په څو اصولو بنا کړی دی ؟ وې ویل : په څلورو اصولو .لومړی : پوه شوم، چې زما روزي بل څوک نه شي خوړلی، نو آرامه شوم .دویم : پوه شوم، چې خدای (ج) ما ویني، نو حیا مې وکړه .دریم : پوه شوم، چې زما کار بل څوک نه ترسره کوي، نو هڅه مې وکړه .څلورم : پوه شوم د کار پای مې مرگ دی، نو چمتو شوم .
- په ژوند کې به هغه کسان سرلوړی او هوسا ژوند وکړي، چې په ژوند کې د خپل دښني وجدان غږ ته غوږ ونیسي او هغه ته ارزښت ورکړي، ځکه ټولو خلکو دښنی وجدان هغوی د ښېگڼو لور ته بیایي .

## فریدریش نیچه ویناوې



- انسان د خپل ځان په نسبت ترټولو بې رحمه حیوان دی.
- هغه څه چې خطرناک دي، پورته ختل نه دي، له پورته ځایه رالوېدل دي.
- له هغې ورځې چې بشر نړۍ ته راغلی دی، ډېره کمه خوشالي یې کړې ده، اې ورونو !زموږ اصلي گناه همدا ده، خو که کله مو د خوشالۍ کولو لار پیداکړه، د نورو زیانمنول او نورو ته رنځ ورکول به هم له یاده وباسو.
- د یوه استاد لپاره ترټولو بد شگون دا دی، چې شاگردان یې تر ابده پورې دده شاگردان پاتې شي.
- بشر یو داسې موجود دی، چې باید پر خپل ځان باندې غلبه او واکمني ترلاسه کړي.
- تل ترتله آرامي او کراري سستوونکې او غافلوونکې وي، کله ناکله طوفان هم ضرور دی.
- یو عمر مې د عقیدې په کسبولو باندې تېر کړ، په پای کې تر بې اعتقادۍ ورسېدم.
- بخشش له تمې سره نه جوړېږي، نه ښنونکی تمه کار کېږي او نه تمه کار ښنونکی کېږي.
- روزنه په کورنۍ کې، زده کړه په ټولنه کې او پراخ نظري د یوازیتوب په تفکراتو کې حاصلېږي.
- ځمکه یو پوستکی لري او دا پوستکی یو شمېر مرضونه لري، چې له دغه مرضونو څخه یو مرض» بشر « نومېږي.
- موږ یوازې د» خپل ځان «لپاره نړۍ ته نه راځو، زموږ زیږېدنه په هغو کسانو پورې هم اړه لري، چې زموږ له ژوند څخه وروسته راځي.
- رقابت باید شرافتمندانه او خدای پلوه وي، له دې پرته رقابت په جنایت بدلېږي.

- ښايست له دې پرته چې د خدای نعمت دی، د شيطان دام هم دی.
- بايد په خوشاليو پسې وگرځو، غمونه هسې هم موږ راپيداکوي.
- په ظاهر باندې مه تېروزئ، ښايي ترټولو صادق خلک هم جنايت وکړي.
- د مور او پلار پر وړاندې اولادونه د سترگو نور دي، خو د اولادونو پر وړاندې مور او پلار د سترگو اغزي.
- کمال يو نسبي شی دی، هغه څه چې زه ورته کمال وايم، ښايي نور ورته عيب او نقص ووايي.
- په ټولنه کې داخل شه !په ټولنه کې سړی اصلاح او سمون مومي او يوازيتوب سړی فاسدوي.
- ځنگه چې يې، همغسې ووسه!
- په بشري ټولنو کې چې کوم لوی کارونه ترسره کېږي، اکثره د شهرت غوښتنې پراساس دي.

## کوروش ويناوې



- هغه کسان، چې په سپېڅلو، ښکلو فطرتي افکارو سره د نورو په زړونو کې ځای لري، هېڅکله له هېرولو څخه وېره نه لري، ځکه چې تل پاتې دي
- باران واوسه، ووربېره او پوښتنه مه کوه، چې تشې کاسې د چا دي .
- تل له يو بل سره يو زړي او صميمي پاتې شئ، ترڅو يووالی مو ټينگ پاتې شي .
- خپل کار پيل کړئ، د ترسره کېدو وړتيا يې په خپله ورپسې راځي .
- ای خدايه ! لاسونه مې تش او زړه مې په هيلو کې ډوب کې دی، يا په خپل بې حده ځواک دې لاسونو ته مې توان ورکړه او يا زړه مې له نه پوره کېدونکو هيلو څخه تش کړه
- له هغو کسانو څخه مننه کووم، چې له مانه کرکه کوي، ځکه چې هغوی ماته ځواک را ښښي. له هغو کسانو څخه مننه کووم، چې له ما سره مينه لري، ځکه هغوی زما زړه ستروي. له هغو کسانو مننه کووم، چې ما پرېږدي، ځکه هغوی ماته دا را زده کوي، چې هېڅ څيز تل پاتې نه دی . له هغو کسانو څخه هم مننه کووم، چې له ماسره پاتې کېږي، ځکه هغوی ماته د رښتيني ملگري مانا را ښيي .
- هغه لاسونه، چې مرسته کوي، ترهغو شونډو ډېر سپېڅلي دي، چې دعا کوي .

- په ياد ولره، ترڅو تل وپوهېږې، چې د انسان تر ټولو ښکلې طبيعت د هغه مينه ده، نو مينه وکړئ، که له دوست سره وي او که له دښمن سره، ځکه چې دوست ستروي او دښمن دوستوي .
- ډېرى خلک بې انصافه، بې منطقه او ځان محوره دي، مگر هغوى وبښه .
- که چېرې مهربان واوسې، نو تا د پټو انگېزو په لرلو تورنوي، مگر مهربان اوسه .
- که چېرې عزتمن او رښتينى واوسې، نو دوکه درکوي، مگر عزتمن او رښتينى اوسه.
- ننى ښېگڼې دې هېرې کړه، مگر ښېگڼه کوونکى اوسه .
- ټولې ښېگڼې دې دنيا ته وبښه، حتى که بسنه هم ونه کړي او په پايله کې به وگورې، هر هغه څه چې دي، تل ستا او د الله (ج) ترمنځ دي، نه ستا او د خلکو ترمنځ .
- يوې نجلۍ ستر کوروش ته وويل : پر تا مينه يم . کوروش وويل : زما ورور ستا وړ دى، چې له ما نه ډېر ښکلى دى او ستا تر شا ولاړ دى، نجلۍ شاته وکتل، گوري چې هېڅوک نه شته . کوروش وويل : که چېرې ته مينه واى، نو شاته به دې نه کتل .
- ټوله مننه مې له هغه چا څخه ده، چې اړتيا يې راته نه لرله، مگر هېر يې نه کړم .
- ستر کار شتون نه لري، په دې شرط، چې په کوچنيو کارونو يې ووېشو
- تل په ياد ولرئ، چې وروستۍ پاتې کيلي، ښايي د دروازې د قلف پرانيستونکې وي .
- هغه يوازينۍ لار، چې له ماتې سره مخامخ کېږي، د هڅې نه کول دي .
- ستاسې عمر هغه مهال پيلېږي، چې د خپل برخليک اختيار په خپلو لاسونو کې اخلئ.
- لمر هغې گياه ته تودوخه ورکوي، چې خپل سر يې له خاورو څخه را پورته کړى وي .
- کله چې ژوند تاسو ته زيات څه نه درکوي، دا په دې مانا ده، چې تاسو له هغه څخه زيات څه نه دي غوښتي .
- هر ورور، چې د خپل ورور له گټو څخه د خپلې گټې په څېر ملاتړ کوي، نو خپل کار ته يې رونق ورکړى دى.
- بريالي کسان بېلا بېل کارونه نه ترسره کوي، بلکې کارونه په بېلا بېل ډول ترسره کوي .
- مخکې تر دې، چې ځواب ورکړې، نو له يوه کس سره مشوره وکړه، مگر تر دې چې هوډ وکړي له څو کسانو سره مشوره وکړه .
- انسانان هماغه ډول کېږي، چې ډېر يې په اړه فکر کوي .

- تر ټولو ستونزمن گام هماغه لومړی گام دی .
- زه د یقین او عدالت مرستندوی یم، زه به ژوندونه جوړ کړم او زه به ډېرې خوښۍ راوړم .
- زه به د ځمکې پر سر خپل ملت سر لوړی کړم، ځکه د هغه خوشالي زما خوشالي ده.
- له پوه او شرم لرونکې نجلۍ سره واده وکړه، او له هغې سره مینه ولره، د خپل ځان له پاره ښځه وټاکه او د بل چا ښځې ته دوکه مه ورکوه، ترڅو اروا دې گناهکاره نه شي .
- د چا مال او شتمني ته سترگې مه نیسه، ځکه د دنیا مال او شتمني د هغې مرغۍ په څېر ده، چې کله په یوې او کله په بلې ونې باندې کېني او په هېڅ ښاخ باندې نه پاتې کېږي .
- د مور او پلار امر پرځای کوه، ځکه د چا چې مور او پلار ژوندي دي، د هغه زمري په څېر دی، چې په ځنگله کې په آرامه ویده دی او له هیچا څخه وېره نه لري .
- غوسه ناک مه اوسه، ځکه غوسه ناک سړی د هغه اور په څېر دی، چې په ځنگله کې ولگېږي وچ او لامده دواړه یو ځای وسوزوي .
- له زوړ دښمن نه دې نوی دوست مه جوړوه، ځکه زوړ دښمن د تور مار په څېر دی، چې له سل کالونو وروسته هم غچ نه هېروي .
- تل او په هر ځای کې په الله (ج) باندې توکل کوه او له هغه چا سره دوستي وکړه، چې ډېره گټه در ورسوي .
- د پوهانو حضور ته درنښت ولره، له هغوی څخه پوښتنه وکړه او ځواب یې واوره .
- د چا مال مه غلا کوه او له خپل مال سره یې مه گډوه .
- له غلو سره معامله مه کوه او هغوی ونیسه .
- له ځواب ورکولو مخکې فکر وکړه .
- خپل ځان د چا غلامۍ ته مه سپاره .
- له پاچاهانو څخه فرمان مه غواړه .
- له درواغجن او خبرې گرځوونکي څخه خبرې مه اوره .
- نا پوه ته راز مه وایه .
- د یونان امپراطور ستر کوروش ته وویل : موږ د عزت له پاره جنگېږو او تاسو د شتمنۍ له پاره . کوروش وویل : هو هر څوک چې څه شی نه لري، نو د هغه د لاس ته راوړلو له پاره جنگېږي .

- په نړۍ کې له درې غړونو ډېر وېرېږم : د بې موره ماشوم له غږه . له جدايي ځخه د مين له غږه . له بېګناهۍ ځخه د مجرم له غږه .
- هېڅ لوږه بې ژورې او هېڅ ژوره بې لوړې نه ده .
- پر هېڅ بېوزله او غريب باندې ملنډې مه وهه کېدای شي يوه ورځ ته بېوزله او غريب شې .
- له پاک نظره، په کار پوه، هوښيار او نېک خويه سړي سره مشوره وکړه .
- کينه کښ ته خپل مال او شتمني مه ور ښيه .
- د خپل نوم له پاره له کار او کسب ځخه ډډه مه کوه .
- د خلکو په مجازات کې له کينې ځخه کار مه اخله .

## د ناپيليون ويناوې



- د ژوندانه پر ستونزو برى موندل رښتينې زړورتيا ده.
- د ژوند مانا د ستونزو ګالل دي، ښه سړی له خپل نفس سره جنګېږي چې پرې واکمن شي.
- د انسان ژوند هغه هېنداره ده چې ګټورې زده کړې پرې ليدلی شو.
- د ماشوم روزنه تر زېږېدو شل کاله مخکې پيل کړئ.
- د دوه زړيو برى نه وي.
- برى د هغو وي چې تر نورو کلک دريځ لري.
- هوډ نيول تر هر ځه سخت وي.
- لوی سړی چې هر کله وغواړي د خپلو احساساتو او افکارو تر منځ پوله جوړولای شي.
- نهيلي د ګور پر لوري لومړنی ګام دی.
- هېڅوک دومره ناکاره نه دی، چې د يوې دندې وړتيا ونه لري.
- غچ اخيستل ښکلا نه لري.
- فرانسويان اخلاق نه پېژني، موډ پېژني.
- تر ټولو ستره بد اخلاقي داده چې دنده تر سره کولی نه شو، خو ځای مو نيولی وي.

- عمر، عادت، دندې او پوهې د ډېرو خلکو اخلاق سم کړي دي.
- ستر مېړونه د ستورو غونډې سېزي او نړۍ ته رڼا وربښي.
- که په چا ډاډ نه لرې، ډډه ترې کوه.
- پوهان د غوړه مالانو ملګرتيا نه کوي.
- ګېډور سړی د اتل غونډې خپل خواړه ساتي.
- لوږه نه ډار پېژني، نه قانون.
- يو ستر ملت يو پاينده دولت ته اړتيا لري، چې د يوه سړي په مړينه ونه نړېږي.
- زما په اند حق نه پېژندل ستره نيمګړتيا ده، چې کېدای شي ځوک يې ولري.
- پر زړونو پاچاهي تر ټولو ښه واکمني ده.
- سياست نوې بد مرغي ده.
- د سياستوال زړه په سر کې وي.
- د هرې خپلسرۍ په پای کې ديکتاتور حکومت راځي.
- سياست زړه نه لري، يوازې ماغزه لري.
- ډېر کسان چې له ما سره وزيران دي د حق له مخې بايد ساده ګاډيوانان وای او ډېر ګاډيوانان شته چې په بشپړ ډول په فرانسه کې د وزارت لياقت او وړتيا لري.
- د واکمنۍ تر ټولو ستر هنر دادی، چې کارکوونکي د خپل کار له لاسه زاړه نه شي.
- مور په يوه لاس زانګو، زنګوي او په بل لاس جهان ښوروي.
- د ټولنيز پرمختګ او سوکالۍ په لاره کې د ناپوهانو او کمزورو خلکو خبرو ته غوږ مه نيسئ.
- پاچاهان او پرګنې نه پخلا کېدونکي دښمنان دي.
- زړورتيا او مېړانه په درواغو په چا پورې نه نښلي، دا هغه لوښي دي چې ټګي او درواغ نه مني.
- په نړۍ کې دوه ځواکونه دي : توره او تدبير، خو تدبير تل توره ماتوي.
- له ماتې نه ډار، ماتې راولي.
- کم عقل تل د تېر وخت نه خبرې کوي، هوښياران د اوسني وخت په هکله فکر کوي او لېونيان د راتلونکي وخت په هکله خبرې کوي.

- هر چېرې چې سر تېرى د خپل بيرغ لاندې وي هغه ځای يې خپل دى، ځکه چېرته چې بيرغ دى هلته هېواد هم دى.
- په جگړه کې داسې شېبې راځي، چې تر ټولو زړور سر تېرى هم تېښتې ته پکې چمتو کېږي.
- سړى په جگړه کې ژر زړېږي.
- له دښمن سره پرله پسې جگړه مه کوئ، ځکه چې بيا به ستاسو په ټولو جنگي رازونو پوه شي.
- انسان کولای شي چې د عقل، منطق او پاينښت په مرسته آن په گيدړه او طاعون هم بريالى شي.
- چې يوه انسان ته وار ورنه کړل شي، يوازې وړتيا به د هغه په پرمختگ کې اغېز ونه لري.
- په تاريخ کې داسې پاچاهان لږ تېر شوي، چې د پرځولو وړ نه وو.
- تاريخ رښتينې فلسفه ده.
- سختي او غمونه د انسان عقل او پوهه بډايوي.
- هره ښځه چې زما خوښېده هغې زه نه خوښولم اودهرې ښځې چې زه خوښېدم هغه مانه خوښوله، په رښتيا چې زما زړه د نورو له زړونو سره توپير لري.
- د هېواد د ودانۍ او پرمختگ له پاره د نورو پريمانه شيانو تر څنگ تر ټولو زيات د سپېڅلو ميندو پالنې او روزنې ته اړ يو.
- هغه په خپله ښځه ډېر بې باوره وي چې په خپل ځان باور نه لري.
- که ښځه نه وى، نو اتلان به چا روزلي وو ؟
- که غواړئ د يوه ملت د تمدن او پرمختگ جاج واخلئ، نو ښځو ته يې وگورئ.
- په ټولو هنرونو کې موسکا د انسان مينه ډېره را پاروي، د يوه استاد له لاسه يوه ښکلې پارچه پر زړه باندې د اخلاقو تر يوه کتابه ډېر اغېز لرلای شي.

## هټلر ویناوې



- په هرځای کې چې بشپړ ایمان وي، نو هلته به پیاوړې اراده هم شتون ولري، بې ارادې سړي هغه کسان دي، چې په هېڅ شي ایمان نه لري .
- هغه اوښکې، چې له هرې ماتې وروسته یې تویوو، په حقیقت کې هغه خولې دي، چې د بریا له پاره مو نه دي تویې کړي .
- حتا که دښمن هم نه لرې، نو داسې وښیه، چې هېواد له ګواښ سره مخامخ دی،ځکه کله چې خلک ووېرېږي، د غلامۍ له پاره چمتو کېږي، کله چې خلک وډار شي، نو دې ته چمتو کېږي، چې له سیاستمدارانو څخه پیروي وکړي .
- کولای مې شول، چې د نړۍ ټول یهودان ووژنم، خو ځینې مې د دې له پاره ژوندي پرېښودل، چې دنیا وپوهېږي، ما ولې یهودان وژل .
- حقیقت هماغه درواغ دي، چې څو څو ځله تکرارېږي .
- څوک چې غواړي ژوندی پاتې شي، نو باید مبارزه وکړي او څوک چې غواړي له مبارزې لاس واخلي، هغه هم په داسې یوه نړۍ کې، چې شتون یې له مبارزې سره تړلی دی، د ژوندي پاتې کېدلو حق نه لري .
- یهودان د نورو هېوادونو د هنر او ادبیاتو بنسټ کمزوری کوي، د خلکو احساسات دوکه کوي، ټول سم او پیاوړي افکار له منځه وړي او خلک له سمې لارې بې لارې کوي .
- که چېرې کومه کړنه له ماتې او خپګان سره مخ شوه، نباید له هڅې او کوښښ څخه لاس واخلو او د بریا هیله له لاسه ورکړو .
- هېڅکله له هغه چا څخه بده ګټه مه اخله، چې درسره مینه لري . هېڅکله هغه چا ته داسې مه وایه، چې بوختیاوې مې ډېرې دي، کوم چې درته اړتیا لري . هېڅکله له هغه چا سره خیانت مه کوه، چې واقعاً در باندې اعتماد لري . هېڅکله هغه څوک مه هېروه، کوم چې ډېر دې یادوي .
- موږ به درواغ ونه وایو او عام خلک به دوکه نه شي .

- څوک چې په خیالي پرېشانیو د ځان له پاره له ستونزو څخه غر جوړوي او هر څه ستونزمن ګڼي، نو له منځه تګ یې حتمي دی .
- له هټلر څخه پوښتنه وشوه : تر ټولو ټیټ انسانان څوک دي ؟ وې ویل : تر ټولو ټیټ او بد انسانان هغه کسان دي، چې د خپل هېواد په اشغال کې یې، چې زه یوازې وم له ماسره مرسته وکړه، داچې وطن د مور حیثیت لري او هغوی د دې زمینه برابره کړه، ترڅو یې په مور باندې مسلط شم .
- قانون د غنې تارونو ته ورته دی، چې کولای شي، کوچني موچان ښکار کړي .
- هېڅکله به خپله زړورتیا له لاسه ور نه کړو .
- ځینې حقایق داسې پټ شوي، که چېرې په ښه توګه څوک ورته ځیر نه شي، نو نه یې پېژني، مګر غالباً داسې پېښېږي، چې دا څرګند حقایق عادي کسان نه ویني، یا لږ تر لږه نه شي کولای، چې خپله ښېګڼه او بد ګړه تشخیص کړي .
- موږ هغه سوله نه غواړو، چې د زیتون د ښاخونو په سیوري کې ترلاسه شوې وي او موږ هغه سوله نه غواړو، چې د هوس غوښتونکو آسانه اوښکې یې په هیجان راولي، موږ هغه سوله غواړو، چې ضامنه یې د یوه غوره ملت فاتحه توره ده، چې ټوله نړۍ یې د خپل غوره تمدن په چوپړ کې راوستې ده .
- که چېرې درواغ ووایې او په پرله پسې توګه یې تکرار کړې، نور به پرې باور وکړي .
- ځان له نورو سره مه پرتله کوئ، په دې کار سره د ځان سپکاوی کوئ .
- کله چې یو ملت خپل نژاد او فرهنګ ته ارزښت نه ورکوي او هغه حق چې  طبیعت د خپل پاک نژاد د ساتنې له پاره ورکړی و، تر پښو لاندې کړ، پردیو ته ورغی او تسلیم شو، نور حق نه لري، چې له خپلې سیاسي ماتې او بدمرغۍ څخه چې سبب یې خپله دی، شکایت وکړي .
- له هرو زرو سړیو څخه یو یې د نورو سړیو مشر کېږي، پاتې نور یې په ښځو پسې روان دي .
- د پیاوړتیا برخلیک په ما پورې تړلی دی، تر څو پورې چې ژوندی یم، باید یوازې د بریا په اړه فکر وکړم او هر هغه څوک چې زما مخالف وي، باید هغه له منځه یوسم .
- کله چې ګټونکی شې، تشریح ته اړتیا نه لرې، کله چې بایلونکی شې، نو د تشریح له پاره څه نه لرې .
- هر هغه څوک چې وتوانېږي، خپل شهواني هوس مهار کړي، نو د پیاوړې ارادې لرونکی موجود ګڼل کېږي .

- ښوونه او روزنه د هېواد يو له بنسټيزو څخه دی، ځوان ماغزه نبايد له هغو معلوماتو څخه ډک شي، چې اتيا سلنه ورته ګټور نه دي او په پايله کې شونې ده، چې له څو کلونو وروسته يې په بشپړه توګه هېر کړي .
- د تاريخ له درس څخه هغه څه، چې د ځوانانو په خاطراتو کې پاتې کېږي، د يو موټي بې ګټې معلوماتو لکه : د څو سردارانو او پاچاهانو د زېږون له ورځې څخه بل څه نه دي، ټولې اړينې او مهمې برخې يې له ياده وتلي او يا له هغې څخه يې بشپړه پايله نه ده اخيستې .
- د يوه ملت د ماتې له پاره تر ټولو غوره وسيله د هغه ملت د انرژي او معنوي ارادې کمزوري کول دي .
- تجربې ښودلې هر ډول عقيده، چې له سخت مخالفت سره مخامخ شي، نو ډېر پلويان پيدا کوي او کله نا کله د پلويانو شکنجه او ځورېدل يې په پرمختګ کې اغېزمن رول لوبوي او د پلويانو شمېر يې زياتېږي .
- هغه څه چې د آريايي نژاد د پياوړتيا او ستروالي سبب شو، يوازې معنوي غريزې نه، بلکې د سترو سازمانو له تشکيل سره مينه او لېوالتيا وه او له لومړۍ ورځې يې ځان له دې سره عادت کړ، چې د خپل او د نورو د ژوند د اړتياوو د پوره کولو له پاره زيار وباسي او له دې لارې تر ټولو ستر سازمان را منځته کړي .
- که چېرې وغواړو، چې د نړۍ هستۍ په دريو برخو وويشو : هغه برخه چې انساني تمدن يې را منځته کړی، هغه ډله چې ترې ساتنه يې کړې ده او هغه ډله چې له منځه يې وړی، پرته له شکه د آريايانو له نژاد څخه به بله ډله په لومړۍ درجه کې نه وي .
- د يوه ملت ستروالی د دغه پروګرام له ترسره کېدو سره تړاو لري : د انساني فعاليتونو له پاره د متفکرو او با استعداده ماغزو راټولول او هغه د ټولنې چوپړ ته وړاندې کول، د دولتي کارکوونکو اصلي او مهمه دنده ده .
- يو مخترع نبايد د خپلې اختراع په خاطر ستر ښکاره شي، بلکې ستروالی يې په هغه خدمت پورې تړاو لري، چې خپل ملت ته يې ترسره کړی دی .
- يو بزګر چې د ځوانۍ له وخته په يوه ستره کورنۍ کې روزل شوی او ټولې عمومي زده کړې تر لاسه کړي د وړتيا او استعداد له پلوه کولای شي، غوره او وړ وي .

- يو دولت هغه مهال کولای شي، د ملت له پاره مطلوب وي، چې نه يوازې وکولای شي د ملت د ژوند شرايط پوره کړي، بلکې د ملت د فکر سطحه د خپلې خپلواکۍ د بنسټونو د ځواکمنتيا له پاره پياوړې کړي .
- دولت د ملت په مانا ده، که چېرې دولت د ملت نه وي، نو زوال منونکی دی .
- تاسو يو عمر خپل ماشوم په سر وټکوئ او د هغه د ودې او بشپړتيا مخه ونيسي، ښکاره ده، چې دا ډول ځپل شوی موجود به په ځان کې هغه ځواک پيدا نه کړي، چې له طبيعي سر چينو څخه په ګټه اخيستنې په ځان کې د فکر ځواک پياوړی کړي .
- که چېرې ملت اراده ولري، نو په هر کار کې بريالی دی .
- ټول حکومتونه کولای شي، يوازې د ملت په ځواک باندې په تکيه کولو سره شتون ولري . که چېرې ملت او دولت له يو بل سره متحد شي، کولای شي يو بل ځواک را منځته کړي، چې ارزښت يې ډېر زيات او ملي احساس ګڼل کېږي .
- هغه قضاوت چې کولای شو د يوه دولت په اړه يې وکړو، په پيل کې هغه ګټه ده، چې کولای شي ملت ته يې ور ورسوي او همدا موخه ده، چې د يوه ملت ځلانده تاريخ د تل له پاره سر لوړی ساتي .
- هغه څه چې نن يې د دولت په نامه پر موږ تحميلوي، د تېرو وېروونکو تېروتنو محصول دی، چې زموږ له پاره به پرته له ځور او بدمرغۍ څخه ګټه ونه لري .
- کله چې يو ملت له هغو تېروتنو څخه، چې ترسره کړي يې دي ځورېږي او په وړاندې يې د تسليمۍ سر ښکته کوي او پوهېږي، چې په ټولو نا توانيو تسليم شوی او يوازې بانه يې داده، چې پرته له تسليمېدلو بله چاره نه لري او کوم کار يې په وس پوره نه دی، په بشپړه توګه داسې يو ملت او نسل په زوال او تباهۍ باندې محکوم دی .
- کېدای شي افراد هم کله وخت داسې فکر وکړي، چې له خپله ځايه ټکان وخوري، مګر نور او هغه کسان، چې په ناهيلۍ کې ډېر ژور تللي او هر څه ستونزمن ګڼي، هغوی ته به ووايي، چې دا کار ناشونی دی او موږ به په دې مبارزه کې بريالي نه شو او زموږ بريا هغه څه دي، چې لاسته راوړل يې له امکانه لرې دی، مګر موږ به هغوی ته ووايو، چې دا دليلونه بې بنسټه دي او ناپوهان دي، چې ناتواني او کمزورتيا ځانته تلقينوي .

- کوچني درواغ تل ځان څرګندوي، درواغ دومره ستر ووايئ، چې حتا د چا ذهن ته هم ور ونه رسېږي، چې دا درواغ دي .
- ځواک په دفاع کولو کې نه، بلکې په برید کولو کې دی .
- کولای شم درک کړم، چې له ما وروسته به د یهودانو د تبلیغاتو له امله خلک له ما څخه کرکجن کېږي او د آریایي نژاد خلک به له یو بل څخه جلا او خواره واره کېږي .
- هر کله چې لښته د زړور انسان په لاس کې ورکوي، له هغو اوو غشیو څخه یې زر ځله ارزښت زیات دی، چې د ډارن لاس ته یې ورکوي .
- زه سیاست نه زده کووم، بلکې پرېږدم، چې سیاست ما ته زده کړه را کړي .
- که څه هم موږ کوچني یو، خو متحد، یوه ډله د ښې سازماندهۍ پرمټ کولای شي په ستر دښمن بریالۍ شي.
- ټولو هېوادونو ته درنښت ولرئ، مګر یوازې له خپل هېواد سره مینه وکړئ .
- په هغه ځای کې چې زمری نه وي، لېوه حکومت کوي، ترڅو چې زمریان وي، نو لېوان حکومت کول هېروي.
- هېڅکله دې سر د دښمن په وړاندې مه ټيټوه، حتا که ووژل شې، پرېږده کله چې سر دې له تنه جلا کوي، سترګې دې د آسمان په لور وي، نه د ځمکې په لور، د عزت ژوند وکړه، په زړورتیا وجنګېږه او سر لوړی ومره.

**ویکټوریا مارټینز ویناوې**



- که چېرې تا دا زده کړې وي، چې خپلې کړنې بدلې کړې، نو دا به تا سره د ښه ژوند په تېرولو کې مرسته وکړي.
- کله دې چې خپل کړه وړه بدل کړل، نو تا خپله انرژي او توان بدل کړ، بلکې پوهه دې ترلاسه کړه.
- له فرصتونو پسې لټون مه کوه، بلکې جوړ یې کړه.
- اوس ژوند وکړه او راتلونکی دې پرې جوړ کړه.
- کوم څه چې په لاس کې لرې، پر هغې شکر وباسه، نو څه چې غواړې هغې ته به پرې ورسېږې.
- دا هغه څه نه دي، چې مونږ یې لرو، بلکې دا هغه څه دي، چې مونږ ورته رسېدلي یو.
- که ته خپلو هیلو ته نه شې رسېدای، نو له هغوی څخه مننه چې تا ورته رسوي.
- د نړۍ تر ټولو ارزښتناک شی، له نورو سره د ملګرتیا پالل دي.
- د نېکمرغۍ ځینې شېبې مونږ هېروو، ځکه مونږ د ژوند زیاتره وخت په هغه څه کې تېرو، چې موږ ورته اړتیا لرو.
- په یو وار ناکامۍ سره زړه مه بایله؛ بلکې کامیابي په بیا بیا هڅه کولو کې ده.
- خپل ځان له نورو سره مه پرتله کوه، ځکه ستا استعداد یوازې په تا کې دی.
- ستا ښه والی په تا کې داخل دی، هغه ته د بهر وتلو اجازه او نړۍ و الو ته وښایه، چې ته په څه ارزې، یا د څه لایق یې.
- کله چې ته په ځان کې ښه وینې، نو د نورو له ښو یې پیل کړه.
- زه تاته د خوشالۍ امید نه لرم، بلکې زه دا هیله لرم، چې ته په خپله د خوشالۍ احساس پیداکړې او دا د خوشالۍ ترلاسه کولو ښه لاره ده.
- له ځانه ناځوابه پوښتنه وکړه او بیا په جواب پسې لټون وکړه او حل یې کړه.
- چاته چې زه سترګې په لاره یم، هغه له ما او تا نه مهم دی.
- ستا کامیابي ستا د ذکاوت په عملي کولو کې ده.
- له هرې تېروتنې یې زده کړه، همدې ته تجربه وایي.

- که څه احساس لرې، نو: عملي يې کړه، ويې وايه، زده يې کړه، نورو ته يې وښايه، ويې ښنه او شکر گوزاره اوسه.
- مينه نه اخيستل کېږي او نه خرڅېږي، نه مطالعه کېږي او نه زده کېږي؛ بلکې نورو ته ورکول کېږي.
- ستا دماغ د خوبونو خزانه ده، مگر... دا ټول (خوبونه) په عمل کې واچوه يانې رښتيا يې کړه.
- دا څه خبره نه ده، چې ته د چا لپاره مهم نه يې، بلکې خبره دا ده، چې تاته څوک مهم دي.
- که چېرې مونږ د خلکو په شان ځان اصلاح کړو، نو دا به مونږ سره د ښه ژوند په جوړولو کې مرسته وکړي.
- کوم خلک چې له نورو سره مرسته کوي، کوم خلک چې له نورو سره په گډه کار کوي، کوم خلک چې له نورو سره مشورې کوي، کوم خلک چې نورو ته ښوونه کوي او کوم خلک چې دا احساسات لري، نو همدوی کاميابه خلک دي.
- ستا لويوالی په تا کې دننه دی، هغې بهر راوباسه او خلکو ته وښايه، چې زه د دې وړ يم.
- ستاسې لاسته راوړنې او ستا برياليتوبونه هسې نه دي رامنځ ته شوي؛ بلکې دا ستا د ورځنيو کارونو مېوه ده، نو پر خپلو هدفونو پسې اوسه.

# بېلابېلې

- ستر رهبران له خپلو خلکو سره د اړیکو جوړولو لارې مومي او له دوی سره مرسته کوي چې خپلې بالقوه انرژي وکاروي (ستیون جي ستاول)
- که غواړئ د یوه مشر او لارښود په توګه د اوږدې مودې لپاره بریالي واوسئ؛ نو باید په ځینو پرېکړو کې اندېښمن شئ. (پټ ریلي)
- که فکر کوئ چې وړاندې ځئ او شاته د دې لپاره ګورئ چې څوک مو نه څاري نو تاسې یوازې قدم وهئ. (بنیامین هوک)
- د رهبری چلنج دا دی چې ځواکمن واوسئ خو سپین سترګی نه. مهربانه واوسئ خو کمزوری نه. زړور واوسئ خو ظالم نه. مفکر واوسئ خو لټ نه. متواضع واوسئ خو شرمندوکی نه. ویاړمن واوسئ خو مغرور نه او ټوکي واوسئ خو کم‌عقل نه! (جېم ران)
- هغه کس چې غواړي د یوه ارکستر رهبري وکړي نو باید د خلکو لور ته شا واړوي. (مکس لوکاډو)
- دا چې ستر کارونه تر سره کړئ سخته ده خو دا چې د سختو کړنو امر کوئ؛ لا ستونزمنه ده. (فردیک نیچه)
- زما لپاره بیخي اړینه ده چې داسې کسان ولرم تر څو زما لپاره فکر وکړي؛ هماغه شان چې زما امرونه تر سره کوي. (جورج واشنګټن)
- رهبران له موره رهبران نه زیږي؛ بلکې د بل هر څه په شان د سخت کار په پایله کې جوړیږي.(وینس لومبارډي)
- ډارن رهبر تر ټولو نارینه‌وو خطرناک دی.(ستیفن کېنګ)
- هر څوک د یوه کار تر سره کولو لپاره دوه دلایل لري یو ښه دلیل او یو واقعي دلیل. (جي‌پي مورګان)
- د بل د اوښکو په ارزښت او درد هله پوهېږې کله چې مو خپلي اوښکې پخپل لستوڼي پاکې کړي. (عزیزګمنام)
- اوښکې هغه چاته توي کړه چې ستا د درد احساس کولای شي، د هغه چا سره وخانده چې ستا سره د زړه مینه لري.
- دومره خوره چې هضم یې کړي. دورمه لوله چې جذب یې کړې. (بوعلی ابن سینابلخی)

- هغه علم بې ګټې دی چې عمل پرې ونه شي. او هغه مال بې ارزښته دی چې پر ښو چارو ونه لګول شي. (حضرت عثمان رضي الله عنه)
- ارزښتناک ځایونه چې کېدای شي ته هلته وجود ولرې؟
(د یوچا په فکر کې ). ( د یو چاپه دعا کې ). ( او د یو چا په زړه کې ). (مسلمه لیله )
- الله پاک مو دې موږ له داسې خلکو څخه وساتي کوم چې د خلکو په منځ کې خپل ګناهونه په پخر سره بیانوي.
- یو سړی د خپل د یوه درواغ د پټولو لپاره شل نور درواغونه وایې. (دواني)
- د ټولو څخه زیات ښایست حسن اخلاق دي. یعني د اخلاق ښه والي او ښایست. (اسمعي)
- خپل صبر هېڅ وخت له لاسه مه ورکوه. ځکه چې غوره عاقبت او پایله وروسته له نېک صبر څخه راځي.
- په هر نېک کار کې تنها په الله ج توکل کوه، د الله پاک نصرت به هم ستاسو سره وي. ( عبدالقادر الکوزي)
- بې سخاوته انسان د هغې شمعې په شان دی چې رڼا نلري. (محیب الله حقمل )
- موږ باید هېڅکله خپل او تورو په ژوند کې داسې یو غلط کار او بې ځایه عکس العمل ونکړو چې ټول عمر پښېماني او افسوس وکړو.
- یواځې ذخېره شوي لکونه ډالر چاته خوشحالي، سکون او ارامي نشي ورکولائ، خو که چېرې د یو بېوزله او بې وسه انسان په شونډو موسکا پیدا کړي، دا به درته زړه او ذهن کې سکون او خوشالي پیدا کړي.
- که څوک دې په درواغو صفت وکړي ځېنې خوشاله کېږي او که څوک دې په رښتیا غیبت وکړي ځېنې خفه کېږي، یعنې د ځان لپاره درواغ مني رښتیا نه. (نورمحمد)
- که د خپلې مور په قدر نه پوهېږې د هغو نه پوښتنه وکړې چې مور نلري. پوه به مو کړي.
- د کور کلي په قدر به هغه وخت پوه شي چې مسافر او بې کوره شې. (افغان دوست)
- ښه زړونه لکه سره زر داسې دي هېڅ زنګ نه نېسي همېشه په یوه رنګ او یو خایست وي. ( نورمحمد)
- په خبرو اترو کې نرمي اختیار کړه، ځکه د نرمې لهجې اثر د نرمو الفاظو تر اثر زیات وي. ( محیب الله خقمل )

- پر خپل نظر دومره ټېنګار مه کوئ، چې د جهالت درجې ته مو ورسوي. (محمدناصر)
  په ګناه نه پښېمانه کېدل داسې يو مرض دی چې علاج نلري. (ابن عربي)
- که څوک په رېښتنې توګه په ژوندانه کې نېکمرغي غواړي نو بايد د هغو لارو چارو پلټنه او څارنه وکړي چې سعادت ته لاره هواروي. (ارمغان بهار)
- کوم شخص چې دنيا کې په کم شي قناعت کوي د هغه غم نه وي . (ابوتمام)
- د انسان ستر دښمن د هغه ګنا ده .
- که غواړې چې ستا عزت خوندي پاتې شي لازمه ده چې د نورو خلکو عزت وکړې هغه څوک چې د بل چا عزت ته په درنه سترګه نه ګوري دوی په حقيقت کې خپل عزت له لاسه ورکوي . (افغان دوست)
- کله هم چې د چا زړه ته درد ورکوې. نو دا فکر کوه چې ته هم زړه لرې، او هغه هم دردول کېږي
- د ژوند ستر راز صبر دی، نو بايد د يو ناڅرګنده راتلوونکي لپاره خپل حال تريخ نکړو .
- هر انسان ته الله پاک د هغه د نيت پر اساس شی وربښي، نو ضرور به دا وي چې په هر کار کې صاف او ښه نېت ولرو که د ځان لپاره وي او که د بل لپاره. وايي نېت صاف، منزل اسان، . (عبدالقادرالکوزي)
- په دنيا کې غريب هغه څوک دی چې دوست نلري.
- هېڅکله هڅه مه کوه چې په دوکه او دروغ ويلو باندی د چا اعتبار او توجه ځان ته جلب کړې، ځکه دا فريبکاری حسابيږی، او خلاف د حق کار دي . (عبدالقادرالکوزي)
- وخت ژر تېرېږي عمر هم لنډيږي په څېره کې هم بدلون راځي. خو غوره انسان هغه څوک دی چې په اخلاقو کې بدلون رانولي .
- هر نصيحت چط کوي لمړي خپله عمل پري وکړه. (لقمان حکيم رح)
- هغه کس چې نصيت اثر پري نکوي نو پوه دی شې چې زړه يې د ايمان څخه خالي ده . ( حضرت ابوبکر رضی الله تعالي عنه )
- هيڅ مسلمان لپاره دا روا نده چې د بل مسلمان ورور سره له دريو ورځو زيات خفګان وکړي. (صحيح بخاری)
- ښه دومره کوه چې تاته تکليف نه جوړيږي. د شپې اخېرې برخه کې ژړا د بختورو په نصيب وی. ساده خلکو سره په ساده ټکو کې خبرې کوه. (ساپي وېبپاڼه)

- گل او انسان انسان گلاپ ته ويلې چې ثومره ښکلي يې؟ خو کاش چې دا اغزي دي نلرلي ؟ گلاپ ورته ځواب کې ويلې چې ته الله تعالي ثومره پنځولي يې خو کاش چې په هر څه کې دي عيب لټولو صفت دې نه لرلی ! ( مسلمه ليله )
- شپه ډېره اوږده ده په ډېر خوب کولو سره يې مه بربادوئ. او ورځ بيا پخپل ځان کې ځلا او روښنايې لري، د گناهنو په کولو سره يې مه تارېکه کوئ. (مسعود کندهارئ)
- کوم شخص چې ستا هغه تعريفونه بيانوي کوم چې په تا کې نشته سبا به هغه الزامونه او تورونه هم درباندي ولگوي چې په تا کې نه وي. (مسعود کندهارئ
- د الله پاک جل جلاله رضاء د مور او پلار په رضاء کې ده، او د هغه قهر او غضب د مور او پلار په قهر کې او غضب کې دی. (حضرت محمد ص)
- تل دا دعا کوئ چې الله دی مو‌ږ له هغه خبرو څخه وساتي کومي چې الله نه خوښوي.
- حسد او کينه به مو په روحي رنځ اخته کړي، د زړه له کروندې د کرکې اغزې وباسئ او د مينې گلان پکې وکرئ.

کله چې تاسې نه کومه گناه وشي، نو له هغې گناه نه عبرت واخلئ. تر عبرت اخيستو وروسته له هغې گناه توبه وباسې او هغه هېره کړئ!

- صبر او حوصله تر هر زور او قوت غښتلی دی . (حميد)
- له دې نه چې درواغ ارامي راکړي، خوښ يم چې رښتيا مې وخوروي. (محمودسعيد)
- په ځان کې ښه اخلاق پيدا کړئ، ځکه چې د ښو اخلاقو لرونکې د ښه وجدان څښتن وي. (عزيزگومنام)
- چاچې قناعت له لاسه ورکړ. هغه به هېڅکله هم د مال او دولت خاوند نشي. (حضرت ادريس عليه سلام)
- کوم خلک چې خودغرضه وي هغه هېڅ کله هم ښه ملگرې نه شي کيداې. (حضرت ابوبکرصديق رض )
- يتيم هغه دی چې علم نه لري اوغريب هغه دی چې عقل نه لري.
- دچا په بربادۍ مه خوشالېږئ هسې نه چې سبا له تاسې سره هم داسې وشي.
- پښيمانې گناه له منځه وړي او غرور د ښېگړو جرړې باسي.

- څوك چې په پاك لمنو تورسرو تور پورې کوي په هغو سلام مه اچوئ.
- زوکړه د مړينې زېرى دى اومرګ يو بې خبره ملګرى دى.
- ددښمن په ښه سلوك باور مه کوئ، اوبه که تر اوره هرڅومره تودې شي بياهم د اور مړکولو له پاره بس دي.
- د واکمني بقا په کفر کې شوني ده خو په زور زياتي کې نه.
- غوره ويناوې اومثالونه دپوهانو اوپند اخيستونکو له پاره دي، ناپوهانو ته يې هېڅ ګټه نشته.
- ترټولو لويه بلا دمصيبت پر وخت وېره ده.
- دناپوهه مازغه دهغه دژبې تر شا وي اود هوښيار ژبه د عقل تر شا وي.
- ډېر لږ به داسې شوي وي چې بيړني خلك تاوان ونهويني اوډېر کم به داسې وي چې صبر کوونکي برياليي شوي نه وي.
- په هره ښېګړه غره کېدل دهغې اجر له منځه وړي.
- هرڅه زکات لري، دمازغو زکات دادى چې دناپوهانو په وينا غوږ ونه ګرول شي.
- د چاچې څومره پر الله تعالى باندې باور کم وي هومره يې حرص زيات وي اوڅوك چې په لوى لاس ځان اړ کوي تل به اړ پاتې وي.
- مرګ تل په ياد ساتئ، خو هيله يې هېڅکله مه کوئ.
- د بدخويه ملګرو له ناستې نه ډډه کوئ، ځکه چې سړى تل په خپلو ملګروپېژندل کېږي.
- سخته ګناه هغه ده چې کونکى يې وړه وګڼي.
- دستونزو اوکړاوونو مقابله په صبرسره کوئ اود نعمتونو ساتنه په شکر .
- که له چاسره احسان کوئ نوپټ يې ساتئ اوکه له تاسو سره يې څوك کوي مه يې پټوئ.
- که پر غليم مو لاس بر شي نودبرلاسي شکر په عفوې سره پرځاى کوئ.
- دهيله پرېښودل غټه شتمني اوښه ښه غچ اخيستنه ده.
- قناعت داسې شتمني ده چې هېڅکله پاى ته نه رسيږي.
- ترټولو ستره خطا له ولس او پرګنو سره خيانت او درغلي ده.
- د حيا جامې واغوندئ چې ټول عيبونه مو پټ شي.
- ستاسو شتمني هغه ده چې آخرت ته يې ولېږئ، څه چې په دنياکې پاتې کېږي هغه د وارثانو مال دى.

- كومه تېروتنه چې سمدلاسه اوپه رښو سترګو وشي دبښلو وړ نه ده.
- په جګړو کې ننوتل آسان دي خو راوتل ترې ګران دي.
- دعفوې ارزښت د واك پر وخت څرګندېږي
- طمعه مه کوئ ، ځکه دطمعه کونکي په اوږو دذلت او مرئي توب پړی پروت وي.
- خپل توان نه زيات بار پر اوږو مه باروئ، هسې نه چې پرې وبايلئ.
- داسې واوسه، چې وكولای شې، هر چا ته وواېې زما په څېر چلند وکړه .
- د بشر هيلې پای نه لري، کله چې يوې هيلې ته ورسېږي، نو بله هيله لري .
- روڼ اندي داده، چې د خپلې پوهې د ځارلو توان او وړتيا ولري .
- په نړۍ کې دوه څيزونه ډېر ښکلي دي؛ له ستورو ډک آسمان او آرامه وجدان .
- تر ټولو غوره خوښي له کاره وروسته استراحت دی .
- که هوا ناپاکه ده، نو څه وکړو ؟ آيا اسوېلی پرېږدو ؟
- د انسان د جلا كېدو وجه د هغه جسم نه بلکې روح يې دی .
- که راته وويل شي، چې نن شپه مرې ! وبه وايم چې د خدای (ج) به همداسې خوښه وي، خو خدای مه کړه چې څوک راته ووايي ستا له لاسه يوه چاته بدمرغي ورپېښه شوې ده .
- که له انسان څخه هيله او خوب واخيستل شي، نو د نړۍ پرمخ به تر هغه بل بدمرغه نه وي .
- شاعري تر ټولو لوړ هنر دی .
- داسې تګلاره ولره، چې هغه د ټولو قانون شي .
- هېڅکله له نورو سره د کاري وسايلو په څېر چلند مه کوئ، بلکې هغوی موخه او مقصد وګڼئ .
- د ځيرکتيا او نظم تر ټولو خوږه پايله بريا ده .
- اخلاق بايد په هنر باندې حکومت وکړي .
- موسيقي تر ټولو خوندور هنر دی، مګر موږ ته څه نه را زده کوي، هغه څه چې انساني فکر او روح تغذيه کوي او ښوونيز دي، شعر او شاعري ده
- د انسان ذهن شته ښکارندې ( پديدې )، چې په ذات او هستۍ کې شتون لري، نه درک کوي، بلکې هغوی په هغه ډول چې زړه يې غواړي، وې ويني درک کوي .

- زه په خوړه ژبه ( نه له حقيقت څخه تش ) اعلان کووم ښځه بايد سلطنت او نر بايد حکومت وکړي، ځکه مينه او لېواليتا د حاکم تسلط او استخبارات دي .
- د رښتينو دولتونو بنسټيزه دنده داده، چې پرېنږدي انسانانو ته د شيانو په څېر وکتل شي او له هغو څخه هم کم او د افرادو په آزادۍ باندې محدوديتونه ولګوي .
- که چينجی شوې د پښو لاندې کېږې، دا ټکی نه يوازې د اشخاصو په اړه، بلکې د ملتونو په اړه هم صدق کوي .
- که چېرې وکولای شو، دا پوښتنه وکړو، چې آيا موږ دم ګرځ، په يوه روڼ اندۍ رسېدلې دوره کې ژوند کوو ؟ ځواب بايد دا وي، چې نه يقيناً په يوه روڼ اندې دوره کې ژوند کوو .
- دوه څيزونه په ما کې تل پاتې حيرانتيا او ستاينه را منځته کوي لومړی زما په سر پورې له ستورو ډک آسمان او بل زما دننني اخلاقي حکم
- په خدای (ج) باندې باور وکړه، ځکه چې دې ډول باور ته ډېره اړتيا لرې .
- څوک چې پر حيواناتو ظلم وکړي، په ټروايي په انسانانو باندې به هم ظلم وي . د يوه انسان زړه کولای شو، د چلند د څرنګوالي له مخې له حيواناتو سره پرتله کړو .
- که چېرې عدالت له منځه لاړشي، نور نو د ځمکې پرمخ د خلکو ژوند په زحمت يې هم نه ارزي .
- په درې کارونو کې نبايد بيړه وشي، زېږون، واده او مرګ .
- د تاريخ د بشر د ټول ژوند هينداره ده .
- نېکمرغي يوه الهي ډالۍ ده او بد مرغي د شيطان ميوه، که نېکمرغي غواړې، نو شيطان پسې مه ورځه .
- که چېرې څوک زړورتيا او تفکر سره ګډ کړي، نو په هېڅ کار کې په ماتې ونه خوري .
- بريا، هيله او وصال خوښي ښبونکي دي او انسان له غم، ناهيلۍ او ماتې څخه ژغوري .
- په عدالت کې د ژوند کولو له پاره د ګناه له اسارته آزادېدل، تر ټولو لوړه ګټه ده، چې سړی يې په فضيلت سره تر لاسه کوي .
- هر څوک د يوه وجدان، د دندې د يوه احساس او د آمر له اخلاقي قانون څخه د يوې خبرتيا لرونکی دی .
- د سړي له پاره تر ټولو ستر کمال دا دی، چې دنده د دندې له پاره تر سره کړي .

- خوب مې لیده، چې ژوند ښکلا ده، را ویښ شوم، پوه شوم چې ژوند له دنده پېژندنې څخه عبارت دی .
- دنده پېژندنه حیرانونکی حس دی، چې یوازینی خوځنده لامل یې له قانون سره بلدتیا ده .
- که نفساني غوښتنې او هوی و هوس هر څومره یاغي هم وي، نو د دنده پېژندنې په وړاندې به خاموشه او آرام وي .

د لوی رب شکر چې دا کتاب بشپړ شو !

اخځلیکونه:

www.brainyquote.com

www.quotes.com

www.philsopher.com

www.google.com/search/quotes

www.taand.com

www.lomritob.com

www.rohi.com

بیلابیلې انټرنیټي پاڼې

بیلابیل کتابونه